# کتاب پیژندنه:

| | |
|---|---|
| ❁ د کتاب نوم | : د مجاهد توره |
| ❁ لیکوال | : مولوي عبدالحلیم احمدي |
| ❁ تصحیح او ایډیټ | : مولوي عبدالدیان تکل |
| ❁ چاپ کال | : ۱۴۳۴هـ،ق (۱۳۹۲ل) |
| ❁ چاپ شمیر | : ۲۰۰۰جلده |

Download from:aghalibrary.cm

# د مجاهد توره

## (د جهاد شرعي مسألې)

ليكوال:

**مولوي عبدالحليم احمدي**

# ډالۍ

د خپل مرحوم پلار پاک روح ته چي خپل عمر يې له وړکتوبه تر اتيا کلنۍ پورې په ديني زده کړه ،تـدريس او جهـاد کـي تېـر کړيـا و چـا چي ما تـه دلومړي ځل لپاره کتاب او قلم په لاس کي را کړي او جهـادي فريضـې تـه يـې چمتـو کړی او وړانـدې کړی يم.

**مصنف**

# دفرهنګي کميسيون يادښت

څه موده وړاندې مولوي عبدالحليم صاحب خپل تصنيف کړی کتاب (دمجاهدتوره )دا سلامي امارت مشرتابه ته دچاپ داجازې لپاره وړاندي کړ. مشرتابه فرهنګي کميسيون ته راجع کړ د فرهنګي کميسيون څو تنو غړيو ، همدا کتاب په خورا دقت سره مطالعه کړ او په کتاب کي يې له املايي او ادبي اصلاحاتو سره- سره د کتاب د محتوی په اړه هم له محترم مولوي عبدالحليم صاحب سره خپل نظريات شريک کړل. مولوي صاحب د فرهنګي کميسيون نظريات په ورين تندي قبول او په کتاب کي يې لحا ظ کړل. جزاه الله خيرالجزا

په حقيقت کي دا ستاسو په لاس کي کتاب په او سني وخت کي د جهاد په ورځنيو موضوعاتو يو خورا مفيد تصنيف دی؛ دا چي له يوې خوا په دې کتاب کي خپله مصنف ښې ډېري خواری کښلي دي او له پوره احتياط او دقت څخه يې کار پکي اخستی او له بلي خوا د اسلامي امارت د تميز د جيدو علماء کرامو په شمول ديني عالمانو د تائيد په موخه تقريظونه وربانديي کړي دي؛ نو فرهنګي کميسيون د داسې يوه کتاب چاپ ګټور اقدام بولي او هيله مو دا ده چي الله تعالی دا کتاب د ټولو مسلمانانو او په خاص ډول د اسلامي امارت د مخلصو مجاهدينو لپاره د لا زياتي استفادې وړ وګرځوي .

**والسلام**

دافغانستان اسلامي امارت د فرهنګي کميسيون

د تأليف او ترجمې څانګه

# فهرست


۱ - تقریظونه........................................................................ ۷
۲ - مقدمه........................................................................ ۱۴
۳ آیا افغانستان دارالحرب دی که................................................ ۱۹
۴ تبصره ........................................................................ ۲۱
۵ امیر ته لار ښود حدیثونه........................................................ ۲۳
۶ د امیر شرطونه ................................................................ ۲۸
۷ د مجاهدینو ورونو لپاره پنځه حدیثونه ........................................ ۳۰
۸ اطاعت پیژندنه................................................................ ۳۷
۹ فرار څه وخت جائز دی؟....................................................... ۴۳
۱۰ د غنیمت مال پیژندنه........................................................ ۴۸
۱۱ د تنفیل باب ................................................................ ۷۰
۱۲ صلح یا تړون ................................................................ ۷۵
۱۳ امن و امان ................................................................ ۸۵
۱۴ د باغیانو حکمونه ............................................................ ۹۸
۱۵ د تبادلې په هکله ............................................................ ۱۰۲
۱۶ د کافرو بندیانو حکمونه...................................................... ۱۰۳
۱۷ د بندي د مسألې اړوند ...................................................... ۱۱۴
۱۸ اوراد ........................................................................ ۱۱۵
۱۹ د شهید په اړه مسألې........................................................ ۱۱۶
۲۰ د مؤلف توصیه .............................................................. ۱۲۳

## د مؤلف پېژندنه:

د دې کتاب مولف محترم مولوي عبدالحليم احمدي چي واقعاً د ښو ممتازو علماوو له جملې څخه دی، نوموړی د محترم الحاج مولوي خوشدل صاحب (مرحوم) زوی دی چي د روسانو د يرغل پر وخت د زابل ولايت د سرخګان په سيمه کي د احمدي جبهې امير و او د طالبانو د اسلامي امارت د واکمنۍ پر مهال يې د هلمند په ولايت کي د والي د معاون په توګه خپله جهادي او اسلامي دنده تر سره کوله، نوموړي مولف په مختلفو مدرسو کي تحصيل کړی دی چي د هغو له جملې نه يوه هم د الحاج مولوي جلال الدين حقاني صاحب د امت فيضه منبع العلوم مدرسه وه، چي په همدې وخت کي به يې له حقاني صاحب سره د روسانو په مقابل کي په جهادي سنګرونو کي هم شرکت کاوو او خپله تعليمي دوره يې د کراچي په ښار کي پای ته ورسوله، د الجامعة العربية احسن العلوم څخه يې د احاديثو د دورې په تر سره کولو سره د فراغت سند تر لاسه کړ، کافي وخت يې په مختلفو مدرسو کي تدريس وکړ، له همدې سره سم د اسلامي تحريک په اوږدو کي وخت په وخت خپله نظامي دنده تر سره کوله، کله چي صليبيانو پر افغانستان باندي يرغل وکړ نوموړی د زړه د سختي ناروغي درلودلو سره بيا هم خپلي نظامي، جهادي فريضې ته د زابل په ولايت کي ادامه ورکړه.

له مجاهدينو ورونو څخه د نوموړي په حق کي د دعاغوښتنه ده چي الله تعالی نوموړي ته صحت ورکړي او الله تعالی دې دغه رساله صدقه جاريه ورته وګرځوي. آمين.

په درنښت
ملا مير احمد
کال: ع ۲۰۰۸ / ۴ / ۴

## لومړۍ تقریظ :

بسم الله الرحمن الرحيم

**الحمدلله وكفى وسلام على عباده الذين اصطفى، اما بعد فقد طالعت الرسالة التى الفها اخونا فى الله المولوى عبد الحليم صاحب فى احكام الجهاد فوجدتها نافعة لمن يطالعها تقبل الله سعى المؤلف ووفقنا لما تحب وترضى.**

**افقر هيبت الله**

شيخ الحديث والتفسير مولوي هيبت الله صاحب، چي په کچلاک کي د خیرالمدارس مدرسې مهتمم او شیخ الحدیث دی.

**ژباړه:** حمدونه او ثناوي دي الله تعالی لره وي، او رحمت او سلام دي وي د الله تعالی پر هغو مختارو بندګانو، له دې وروسته دغه رساله چي مولوي عبدالحليم صاحب تصنیف کړې ده، ما په ښه تحقیق سره مطالعه کړه؛ نو دغه رساله د جهادي مسئلو او احکامو لپاره ډېره فائدمنه ده او د جهادي مسئلو لپاره یې مطالعه په کار ده، الله تعالی (ج) دي د دغي رسالې د مؤلف کوښښ قبول کړي، او الله تعالی دي موږ ته د هغو اعمالو توفیق راکړي چي په هغه کي د ده رضا وي. آمین

## دویم تقریظ:

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله الذي جعل العلماء ورثة الانبياء وجعلهم في الارض كالنجوم في السماء ووفقهم لنشر العلم في الغبراء والصلاة والسلام علي خير الانبياء.

امابعد: فيقول العبد الضعيف خادم العلم والعلماء ان الرسالة التي الفها مولوي عبدالحليم في احكام الجهاد وقد تصفحت اوراقها فوجدتها كعقد الدرر في سمط التحرير ومسلك التقرير. ولائقة لاخذ العمل وجعل الله سعي مؤلفها مقبولا، ومن شر حاسد محفوظا ونافعة لمن اراد ان ينظر فيها. آمين ثم آمين

شیخ الحدیث والتفسیر الحاج مولوي عبدالسلا صاحب، چي په شبخ مانده کي د خیرالمدارس مدرسې شیخ الحدیث او مهتمم دی.

**ژباړه**: حمد او ثنأ دي وي الله تعالی لره چي ده ګرزولي دي علماء وارثان دانبیاؤ، او ګرزولي يې دي علماء په ځمکه کي لکه ستوري په اسمان کي، او علماؤ ته يې په ډیرو مشکلاتو کي توفیق د نشر کیدلو د علم ورکړې دی او سلامتیا دي وي پر هغه بهتره او خیر د انبیاؤ.

وروسته له دې نه عبد ضعیف چي خادم د علم او علماؤ دی وايې، چي دغه رساله چي مولوي عبدالحلیم د جهاد په مسئلو کي تالیف کړې ده دا ما په ښه غور سره وکتله په جهادي مسئلو کي ډیره مرتبه وه او دا رساله لائقه د دې ده چي مجاهدین عمل پرې وکړي، او الله تعالی دي د مؤلف کوښښ قبول کړې، او الله تعالی له شره د حسد کونکیو وساتي، او هغه ځوک چي دا رساله ګوري د هغیو لپاره دې الله تعالی فائده منده وګرزوي.

( آمین ثم آمین )

## دریم تقریظ :

بسم الله الرحمن الرحيم

**نحمده ونصلى على رسوله الكريم، اما بعد فقد طالعت هذه الرسالة التي الفها المولوى صاحب عبد الحليم بالنظر العميق فوجدتها موافقة للمذهب الحنفى ما وجدت فيها مسئلة تخالفه جزاه الله جزاء اكاملا وجعله الله فى زمرة العلماء المجاهدين. آمين. يا رب العالمين المحرر والمصدق.**

**ګلاب الدين الچناری**

جامع الفقه والحديث مولوي ګلاب الدين چې معروف په ګلبدو اخندزاده صاحب سره دی.

**ژباړه :** موږ حمد او ثنا د الله تعالى وايو، او درود پر نبي صلى الله عليه وسلم وايو، او له د ښه وروسته دغه رساله چې مولوي عبدلحليم صاحب تصنيف کړې ده ما په ښه تحقيق سره مطالعه کړه، او په عميق نظر سره مې د دې د مسئلو څېړنه وکړه چې دغه رساله د حنفي مذهب سره موافقه وه، او په دغه رساله کې ما يوه مسأله: د احنافو له مذهب سره مخالفه نه کړه پيدا، نو الله تعالى دې مصنف ته ثواب او جزائ کامله ورکړي، او الله تعالى دې دی له ټولی د مجاهدينو علماؤ وګرزوي، اې پيدا کونکې او پالونکې د مخلوقاتو! زموږ دعا ستا په دربار کې قبوله کړې.

## څلورم تقريظ :

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العالمين الذي اتم الدين والصلوة والسلام علي رسوله محمد الذي ادي الامانة وبلغ ما انزل اليه من ربنا وبه بالحكمة والموعظة الحسنة وجادل المنكرين بالمجادلة الحسنة ثم اذن بالقتال اباحة ثم اذن بالقتال علي طريق الوجوب دفاعا ثم امر بالقتال ابتداء بانسلاخ الاشهر الحرام ثم امر بالقتال الابتدائي المطلق، وعلي آله وصحبه ومن تبعهم باحسان الي يوم الدين.

وبعد: فان سنام الاسلام ومرابط حدود الاسلام والاحكام هو الجهاد، وهو الذي رباط يوم فيه خير من الدنيا ومافيها، ولغدوة اوروحة فيه افضل من الدنيا وما عليها ومنها وفيها، ولايجتمع الكافر وعامله المجاهد في النار وما اغبرت قدما عبد فيه فتمسه النار...

ولكن العلم قبل القول والعمل، فلابد ان يعلم الجهاد حتي تنال فضائله والايكون عائدا علي موضوعه بالنقض فحسب والقي علي وجهه في النار، فهذه الرسالة وجدتها فى دقيق من النظر مشتملة علي تعلم الجهاد ومسائله الواقعات والنوازل.

فجزاه الله تعالي مولفها وناظم اشتانها عن المسلمين واطلب من الله تعالي ان تكون الباكورة طليعة ومقدمة لانواع الثمر الاخر الكثيرة منا ومن المسلمين عملا ومن المولف الذكى تصنيفا وتاليفا.

**شيخ الحديث والتفسير مفتي مولوي رحمت الله صاحب (الديوبندي)**

ژباړه : حمد او ثنا دي وي الله تعالى ته چي دى رب د مخلوقاتو دى، هغه الله تعالى چي ده پوره کړى دى دين او صلوٰة، او سلام دي وي پر نبي صلى الله عليه وسلم، هغه نبي چي ده خپل امانت رسولى دى او هغه چي الله

تعالی ورته سپارلی و، هغه يې په ښه حکمت او نصيحت سره رسولی وو، او ده له کفارو سره جدال او مناظره په ښه حکمت سره کوله، او له د ېنه وروسته ده ته اجازه په جهاد کولو سره وسوه، او له د ېنه وروسته بيا پر ده دفاعي جهاد فرض سو، او له د ېنه وروسته بيا تعرضي جهاد فرض سو خو د حرم له څلورو مياشتو نه سوا او له د ېنه وروسته بيا تعرضي جهاد له دغو څلورو مياشتو سره په هر وخت کي فرض سو، او په دغه ډول صلوٰة او سلام دی د ده پر آل او صحابه وو او اتباعو هم وي، وروسته له د ېنه لوړ والی د اسلام او د اسلام د حدودو ساتنه په جهاد سره ده، او جهاد هغه عمل دی چي په ده کي د يوې شپې پيره تر دنيا او مافيها بهتره ده، او مجاهد او د ده وژلی کافر په اور کي نه سره يو ځای کيږي، او هغه پښې چي د جهاد ګرزونه پر لوېدلي وي هغه اور د جهنم نه مسحه کوي، ليکن پر يو شي تر قول او عمل له مخه علم راوستل ضرور دی، نو موږ مجبور او مکلف يو چي پر جهاد علم راولو تر څو چي د جهاد ثوابونه او فائدې لاس ته ورسوو، او که مو پر جهادي مسئلو علم نه وي نو معکوسه نتيجه به په لاس رازي او پر مخي به په اور کي لوېږو.

دغه رساله چي ما په دقيق نظر سره وکتله واقعاً د جهادي مسائلو پوره علم او تعليم پکي وو، نو دي الله تعالی د دغې رسالې و مولف ته ثوابونه ورکړي، ځکه چي ده د جهاد متفريقي مسئلې سره راجمعه کړې دي او له الله تعالی (ج) څخه خواست کوم چي دغه رساله دي کاميابه سي، او الله تعالی دي يې زموږ لپاره فائده منده او سبب د عمل راته وګرځوي او نوري فائدې دي هم الله تعالی راپر مرتبې کړې او الله تعالی دي له دې ښه زکي مولف څخه تصنيف قبول کړي.

آمين

## د مؤلف سریزه

د جهاد د فضیلت او اهمیت لپاره به زما په فکر د قرآن کریم سلګونه آیاتونه او د رسول الله ﷺ په سوونو حدیثونه او د هغه صلي الله علیه وسلم عملي ژوند کافي وي، ځکه په مجموع کي اسلامي امت ته یا خو د جهاد د کولو قاطع امرونه شوي او یا د نورو عباداتو په پرتله د دې عبادت ډېر فضیلتونه بیان شوي دي، چي تر قیامته پوري به موجود وي او مسلمانان به د خپلي اسلامي عقیدې، اسلامي سیاست او اسلامي فرهنګ څخه د دفاع لپاره عمل باندي کوي ،ان شاء الله تعالی.

خو دا چي د فقهي علم د فن یوه مسأله :ده چي علم د فرض عین هم فرض عین دی، او زه خپله د جهاد په جریان کي ځو - ځو ځله په جهادي حکمونو او د عمل په کولو او نه کولو له تردد او ډول- ډول ستونزو سره مخامخ شوی وم نو هغه وخت مي پتېیلې وه چي د جهاد د احکامو په اړه به ضرور زموږ د دین معتبر مأخذونه ګورم، تر څو دا د الله تعالی لوړه فریضه په ښه شان تر سره شي، رښتیا هم دا مقدسه فریضه که له یوې خوا جنت ته لنډه لار بلل شوې ده خو بل طرف ته په دې لار کي د شریعت له وضع شویو اصولو څخه د باندي قدم ایښودل تر ټولو لویه ګناه او د ځان هلاکت دی، همدا درد او همدا لامل و چي د ملګرو له مشورې وروسته مي د جهاد په اړه له موثقو او قوي مأخذونو څخه د

جهاد هغه احکام او مسئلې د يوې رسالې په شکل کې راغونډې کړې چې زموږ ټولنه او مجاهدين هره ورځ ورسره مخامخ کيږي.

ما په دې رساله کې تر خپله وسه پوره کوښښ کړی دی او هره مسأله: مې ځو - ځو ځله په ډېر غور سره زموږ د حنفي مذهب په معتبرو کتابونو کې کتلې او بيا مې را ايستلې ده.

دا چې د دې جهادي مسئلو تاليف د عامو مجاهدينو لپاره شوی دی نو د هغوی د پوهېدلو لپاره پښتو ژباړه کافي وبللشوه، خو د دې لپاره چې محترم لوستونکي او څېړونکي په اشکال کې واقع نشي تر هرې مسئلې وروسته ټول هغه مأخذونه او د هغوی صفحې وليکلې شوې چې مسأله: مې ور څخه را ايستلې ده.

په پای کې له الله جل جلاله څخه ارزو او امېد لرم چې زما دغه نيمګړې هڅه په جهاد او خپلې جهادي ټولنې ته په يوه وړوکې خدمت حساب کړي، دغه راز له محترمو استاذانو او درنو لوستونکو څخه هيله لرم چې تر مطالعې وروسته نيمګړتياوې راته په ګوته کړي.

ستاسو د دعا او نېکو مشورو په هيله.

په درنښت

**مولوي عبدالحليم (احمدي)**

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله الذي هدانا للجهاد بالسيف وجعل لنا التوفيق والثبات علي شدائده خير الرفيق، والصلاة والسلام علي محمد قلع بنيان الكفر وخربه واظهر كنوز السعادة لمن قصد ان يملكها وعلي آله واصحابه كل واحد هذب الاسلام وسدده ببيع انفسهم وجهد والاعلاء كلمة الله العلياء حق جهاده وبعد: فاسئل الله ان يوفقنا علي نصرة المجاهدين خصوصا علي نصرة واتباع اميرنا المجاهد الكبير في عصرنا امير المؤمنين الملا محمد عمر المجاهد، اللهم بارك في حياته واجعله من شر كل كافر وحاسد واتباعهم محفوظا وجعله لنا جنة كما قال رسول الله صلي الله عليه وسلم: الامام جنة يتقي به.

آمين ثم آمين .

# مقدمه

**جهاد لومړی څرنګه فرض شو؟ آيا اولاً جګړه او قتال پيل شو که الله تعالی خپل پيغمبر ته کومه بله د حکمت طريقه ور ښودلې ده ؟**

عيني (رح) د هدايې په شرح او علامه سرخسي (رح) په مبسوط او د سير الکبير په شرح کې او نورو مفسرينو او محدثينو په لاندينۍ ډول بيان کړی دی: کان رسول الله ﷺ مأمورا فی الابتداء بالصفح والاعراض عن المشرکين. ژباړه: نبي عليه الصلاة والسلام د اسلام په لومړنيو مرحلو کې الله تعالی په دې مأمور وګرځاوو چې له کفارو سره چال چلند کوه او له دوی نه اعراض کوه.

يوه خبره چې يادول يې اړين دي هغه دا چې ددې اعراض علت دا وو چې

مسلمانان په هغه وخت کي ډېر کمزوري وو.

قال الله تعالی: فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ (سورة الحجر آیت ۸۵)

ژباړه: ته له دوی څخه ښنګتوب وکړه په ښه ښنګته کېدلو سره

ایضا قال الله تعالی: وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ. (سورة الحجر آیت ۹۴)

ژباړه: اعراض وکړه او ځان ساتنه له مشرکانو وکړه.

ثم امر بالدعاء وبالموعظة والمجادلة بالطريق الاحسن.

ژباړه: له دې څخه وروسته الله تعالی نبي ﷺ ته په دعوتکولو او نصیحت کولو او په مناظره کولو سره په ښه طریقه په دې تدبیرونو سره امر وکړ:

اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ. (سورة النحل آیت ۱۲۵)

ژباړه: الله تعالی ویلي دي: ته بلنه ورکړه و لاري د خدای ته په ښه حکمت سره او په ښه نصیحت سره او ته له دوی سره مناظره او مباحثه کوه په ښه طریقه سره.

تفسیر: په پورتني آیت کي تر اخېره پوري محمد ﷺ او نورو مسلمانانو ته تعلیم ورکول کیږي چي خلک باید سمي لاري ته په څه ډول را وبلل شي، د هغه لپاره یې درې طریقې راښودلې دي:

(۱) حکمت، (۲) موعظة حسنة، (۳) جدال بالتی هی احسن.

(۱) له حکمت څخه مراد دا دی چي هغوئ ته ډېري پخې او محکمي خبري وشي او د قاطعو براهینو او دلائلو په رڼا کي و دوی ته لار ښوونه وشي، ترڅو د هغو په اورېدلو سره علم او حکمت لرونکي خلک پوه شي او د دنیا خیالي فلسفې یې له ذهن څخه ووځي.

(۲) له موعظه حسنه څخه مراد دا دی چي باید دوی ته داسي نصیحت وشي چي په هغه کي ترغیب او ترهیب او ښه مؤثر دلائل او زړه نرموونکي واقعات او

پندونه وي ، د اخلاص او شفقت له روحه ډک وي، داسي خبري او جملې باید پکي استعمال نشي چي خلک په نفرت کي واچوي، ډېر ځله په دغو شرطونو سم نصیحت د ډېري په شان سخت زړونه هم نرموي او ډېر ویده زړونه ویښوي.

(۳) له جدال حسن څخه مراد دا دی چي داسي یوه موقع د مباحثې او مناظرې در وړاندي شي نو ته باید په ښه تهذیب او عدل او حق پېژندلو سره مباحثه وکړې، پر خپل مقابل لوري په ښه نرمه طریقه سره الزام واړوې او حق لاري ته یې را واړوې، باید زړه دردونکي او تکلیف ورکوونکي خبري ونکړې چي قضیه هم اوږدوي او مقابل لوري ته لا نور عناد او ضدیت پیدا کوي نتیجه به معکوسه راووځي.

تر دې وروسته بیا الله تعالی پېغمبرصلی الله علیه وسلم ته امر د قتال وکړ، خو که شروع د دوی لخوا نه وه، نو دا ایة نازل سو:

أُذِنَ لِلَّذِيْنَ يُقٰتَلُوْنَ بِاَنَّهُمْ ظُلِمُوْا ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ عَلٰى نَصْرِهِمْ لَقَدِيْرُ

(سورة الحج آیت ۳۹)

ژباړه: حکم ورکړ سوی دی د جنګ او جګړې کولو و هغو مسلمانانو ته چي له دوی سره د کفارو له خوا جنګ وکړل سي، په دې سبب چي بېشکه پر دغو مسلمانانو ظلم سوی دی او بېشکه چي الله په مرسته او کومک کولو د د غو مسلمانانو خامخا ښه قادر دی.

تر هغه پوري چي رسول الله ﷺ په مکه معظمه کي ؤ مسلمانانو ته د الله تعالی لخوا دا امر ؤ چي د کفارو پر تکلیفونو او سختي رسولو باندي صبر او زغم وکړي، همدغه لا مل ؤ چي مسلمانانو په مکه معظمه کي تر دیارلسو (۱۳) کلونو پوري د کفارو تکلیفونه و زغمل او پوره ثبات او صبر یې اختیار کړ، کوم وخت چي مسلمانانو مدینې منورې ته هجرت وکړ هغو مظلومو مسلمانانو ته د الله تعالی له طرفه امر وشو چي نور تا سي خپلي

توري وکاږئ او له کفارو سره په عملي جهاد لاس پوري کړئ، دا له دې امله چي پر تاسي ظلم سوی دی.

وقال الله تعالى: فَإِنْ قٰتَلُوْكُمْ فَاقْتُلُوْهُمْ (سورة بقره آیت ۱۹۱)

که دوی له تاسي سره جګړه او جنګ کاوه نو تاسي هم له دوی سره په جنګ لاس پوري کړئ. ثم امر بالبداية بالقتال: له دې وروسته الله تعالی مسلمانانو ته امر وکړ چي د جنګ پیل به ستاسي له خوا وي نو دا آية نازل سو:

فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ. (سورة توبه آیت ۵)

وژنئ اې مؤمنانو! مشرکان په هر ځای کي چي تاسي دوی وموندل او تاسي دوی نیسئ او قیدیانوئ یې او تاسي دوی په کلاګانو کي محاصره کوئ او تاسي دوی ته کمین ونیسئ او په هر ځای کي د څارلو او تېرېدلو ورته کښېنئ، مطلب دا چي مسلمان باید کفارو ته ټول اړین پلانونه په کار واچوي او د دوی د وژلو او قیدي کېدلو او محاصره کولو او د کمین نیولو لپاره ښه تدبیرونه جوړ کړي او دا چل ول هم جائز دی.

وقال الله تعالى: فَقَاتِلُوْٓا اَئِمَّةَ الْكُفْرِ ۙ اِنَّهُمْ لَآ اَيْمَانَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُوْنَ(سورة توبه آیت ۱۲)

الله تعالی ویلي دي چي تاسي جنګېږئ د کفارو له مشرانو سره او دوی وژنئ، بېشکه نشته دوی لره قسمونه او وعدې.

هغه ټول بې ځایه دي، لپاره د دې چي دوی واوړي له شرک او یا له عهد ماتولو څخه او یا هغه پېغورونو چي تاسي ته به یې درکول.

وقوله تعالى: وَقٰتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّ يَكُوْنَ الدِّيْنُ لِلّٰهِ ( سورة بقره ایت ۱۹۳)

تاسي له کفارو سره جنګ کوئ او دوی وژنئ تر هغه پوري چي پا ته نشي فتنه او فساد او شي دین او حکم خاص الله تعالی لره.

ولقوله تعالى: كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ( سورة بقره آیت ۲۱۶)

فرض شوی دی پر تاسي باندي جهاد او جګړه کول له کفارو سره، دغه راز بل ځای هم (کتب ) په معنی د فرضیت ده لکه په دې آیت کي چي فرمایي:

كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا. (بقره آیت ۱۸۳ )

فرض کړل شوې ده اې مسلمانانو ! پر تاسي باندي روژه نیول د روژې د میاشتي. بل د دې آیت لامله جهاد فرض عین سوی دی چي فرمایي: اِنْفِرُوْا خِفَافًا وَّ ثِقَالًا وَّ جَاهِدُوْا بِاَمْوَالِكُمْ وَ اَنْفُسِكُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ (سورة توبه آیت ۴۱ )

ووځئ جهاد ته ،سپک له باره د سلاح او درانه او بار په سلاح سره سپاره او پیاده، غنیان او مسکینان، سپین ږیري او ځوانان، روغ او ناروغ البته چي د وتلو توان یې وي، بې وسلې او وسله وال، په بدن کمزوري او قوي، مربیان او آزاد، ښځه او نر، عالم او امي، مطلب دا چي هر څوک چي په هر حال کي وي باید غزا ته ووځي په یو عذر او بهانه ځان پاته نه کړي، دا په هغه وخت کي چي کفارو پر مسلمانانو باندي پراخ یرغل کړی وي، په دغه وخت کي جهاد فرض عین دی پر ټولو مسلمانانو باندي د هغه لپاره شرط فقط مسلماني ده، لکه په دې حاضر عصر کي چي امریکایانو پر عراق او افغانستان د ټولي کفري نړۍ په ملګرتیا تېری او قبضه کړې ده،پر ټولو اسلامي حکومتونو باندي فرض عین ده چي د دغو کفارو سره وجنګیږي او له خپلو مسلمانانو ورونو څخه دفاع وکړي، که اسلامي حکومتونه سستي اختیار کړي بیا پر نورو عامو مسلمانانو فرض ده چي د خپل دین، عفت او وطن دفاع وکړي، که یو څو پاک مسلمانان د کفارو تېری و نه زغمي او په جهاد لاس پوري کړي نورو عامو مسلمانانو ته که عملي غزا کول مشکل وي خو له هغو غازیانو سره دي د(سلاح ،مال ،تبلیغ،نظر او فکر ) مرسته وکړي او دا پر هر مسلمان نر او ښځه فرض عین ده، که یې و نه کړي په دنیا کي به هم په عذاب کي وي چي د کفارو تحت اثر او په ذلت او خوارۍ کي به وي او په آخرت کي به هم د الله تعالی له لوري معذب وي.

(ومنه التعوذ )

# ايا افغانستان دارالحرب دی او که نه دی ؟

## لومړۍ مسأله:

يصيردارالاسلامدارحرب باجراءاحكام الشرك فيه عندهما(رح) وعندابي حنيفة (رح) بالشرائط الثلاثة والحاصل ان عندابي حنيفة (رح) انماتصيردارالاسلام دارحرب بثلاث شرائط: احدهاان تكون متاخمة ارض الترك ليس بينها وبين ارض الحرب دار للمسلمين. والثاني: ان لايبقي فيهامسلماآمن بايمانه ولاذمي آمن بامانه. والثالث: ان يظهراحكام الشرك فيهاوعن ابي يوسف ومحمد(رح) اذااظهروااحكام الشرك فيهافقدصارت دارهم دارالحرب لان البقعة انماتنسب اليناواليهم باعتبار القوة والغلبة فكل موضع ظهرفيه حكم الشرك فالقوة في ذالك الموضع للمشركين فكانت دارحرب، وكل موضع كان الظاهر فيه حكم المسلمين فالقوة فيه للمسلمين، ولكن ابوحنيفة(رح) يعتبر تمام القهروالقوة لان هذه البلدة كانت من دارالاسلام محرزة للمسلمين فلايبطل ذالك الاحرازالابتمام القهرمن المشركين وذالك باستجماع الشرائط الثلاثة، لانها اذلم تكن متصلة بالشرك فاهلهامقهورون باحاطة المسلمين بهم من كل جانب، فكذالك ان بقي فيهامسلم اوذمي آمن فذالك دليل عدم تمام القهرمنهم وهونظيرمالواخذوامال المسلم في دارالاسلام لايملكونه قبل الاحرازبدارهم لعدم تمام القهرثم مابقي شئ من آثارالاصل فالحكم له دون العارض كالمحلة اذبقي فيهاواحدمن اصحاب الخطة فالحكم له دون السكان والمشترين وهذه الدار كانت دارالاسلام في الاصل فاذابقي فيهامسلم اوذمي فقدبقي اثرمن آثارالاصل فيبقي ذالك الحكم وهذااصل لابي حنيفة(رح). المبسوط للامام السرخسي رح ج۱۰ص۱۱۴، ۱۴۴وكذامثل هذه الصورة في ردالمحتارج۳ص۲۷۷وكذامثل هذافي البدائع الصنائع ج۷ص ۱۹۴)

د امام ابو یوسف او امام محمد (رح) په مذهب دارالاسلام هغه مهال دارالحرب ګرځي چې د شرک او کفر احکام پکې جاري شي، او د امام ابو حنیفة (رح) په مذهب باندې دارالاسلام په دریو شرطونو سره دارحرب ګرځي:

**لومړی شرط**: دا دی چې دارالاسلام به په دارحرب پسې متصل وي، د دارالاسلام او دارالحرب تر منځ به بل دارالاسلام نه وي.

**دویم شرط**: دا دی چې مسلمانان به په خپل ایمان سره په امن نه وي او ده ته به د ایمان او اسلام په وجه زور ورکول کیږي او ذمی ته چې مسلمان امن ورکړی دی هغه به هم پر هغه امن نه وي پاتې.

**دریم شرط**: دا دی چې په دغه دارالاسلام کې به د شرک احکام ښکاره شوي وي.

د ابو یوسف او محمد (رح) څخه روایت دی چې که مشرکانو په دارالاسلام کې د شرک احکام ښکاره کړل دارحرب ګرځي، ځکه چې د یو ښار او هیواد نسبت چې کافر یا مسلمان ته کیږي هغه په اعتبار د قوت او غلبې سره دی، نو په دغه هیواد کې خو غلبه د کفارو شوه نو دارالحرب ګرځي او هر هغه ځای چې په هغه کې غلبه او قوت د مسلمانانو وي هغه دارالاسلام بلل کیږي، خو د ابو حنیفة (رح) پر مذهب باندې دارالاسلام هغه وخت دارحرب ګرځي چې د مشرکینو پوره غلبه او قوت ورباندې راشي، ځکه چې دغه هیواد له وختنه دارالاسلام بلل کېده او مسلمانانو ساتلی و او د دوی حکم ورباندې نافذ ؤ، نو دغه د اسلام نوم تر هغه وخته پورې نه ځني ځي تر څو چې د کفارو بشپړه غلبه او قوت نه وي پرې راغلی او د کفارو پوره غلبه نه راځي تر څو چې دغه درې واړه شرطونه نه وي راغلي، ځکه لومړی شرط دا ؤ چې په دارحرب پسې به متصل وي که په دارحرب پسې متصل نسي دوی کمزوري بلل کیږي چې د دوی هر لور ته مسلمانان وي کېدای شي

چي مسلمانان به بيرته پر دوی غالب شي، دويم شرط دا ؤ چی مسلمان او ذمی به په خپل امان نه وي پاتي ځکه که مسلمان او ذمی پر خپل امان باقي پاتي وي نو دا د دې خبري ښکاره دليل دی چي د کفارو پوره غلبه او قهر نه دی راغلی، دريم شرط مو دا ويلی ؤ چي که کفار احکام د شرک په دارالاسلام کي ښکاره کړي او زموږ د مذهب په نورو کتابونو کي يې د دې پر ځای ويلي دي چي شعائر د اسلام ورک کړي او يا د هغو اهانت او سپکوالی وکړي ځکه چي کفار کله احکام د شرک ښکاره کړي او ياد اسلام په شعائرو لکه آذان ،جمعه ،عيدين باندي بنديز ولګوي او يا يې سپکوالی وکړي نو دا ښکاره د دوی قهر او غلبه او د مسلمانانو کمزوري بلل کيږي، نو الله تعالی دي نه کوي دغه درې شرطونه چي په دارالاسلام کي راشي بيا دار الاسلام دارالحرب ګرځي او که درې سره شرطونه يا يو نه وي راغلی بيا دارالاسلام دارالحرب نه ګرځي او په افغانستان کي دغه شرطونه چي په هغو سره درالحرب ګرځي نه دي راغلي نو په دې اساس افغانستان دارحرب نه بلل کيږي.

❖**تبصره** :

## د يو هيواد قبضه کول او نيول څه ته ويل کيږي؟

د يوه هيواد نيول دې ته ويل کيږي چي پر هغه هيواد د يرغلګرو بشپړ تسلط او ولکه راشي، د هغه هيواد فوځي او سيمه ييزي چاري په لاس کي ولري او د هغې سيمي او هيواد ولس د يرغلګرو له اصولو څخه د باندي څه نشي کولای ، او چي هيواد نيوونکي يرغلګر څه وغواړي هغه د خپل قانون سره سم تطبيقولای شي، اوس چي صليبيانو پر افغانستان کوم يرغل او تيری کړی دی دا د افغانستان نيول او قبضه نه بلل کيږي، ځکه چي دوی پر

افغانستان بشپړه قبضه نه لري او دوی چي څه د خپلي خوښي او قانون مطابق وغواړي هغه ټول نسي تطبيقولای.

د مثال په ډول د اسلام متفقه شعائر چي آذان، عيدين او جمعه دي دوی بې په افغانستان کي منع او اهانت ،د مسلمانانو له ويري نشي کولای. او کومي سيمئيزي ولسي مسئلې او دعوې چي وي هغه اکثره د مجاهدينو د قاضيانو له لوري د اسلامي قانون مطابق حل کيږي، او د مسلمانانو چي کوم سيمئيز اسلامي دود او رواج دی د هغو منع او په هغه کي څه بدلون د صليبيانو په وس او توان کي نشته، بنيادي وجه لا دا ده چي تر اوسه خو د امريکايانو او عامو صليبيانو سره جنګ او جهاد ادامه لري، موږ په سترګو ليدلي دي چي صليبيان په ډېرو سيموکي د مجاهدينو په وړاندي له شکست اوغوڅي ماتي سره مخ شوي دي او سيمي د مجاهدينو تر بشپړي واکمنۍ لاندي راغلي دي ، په څومره اندازه چي مجاهدينو ته مرګ ژوبله رسيږي له هغه نه زيات ه صليبيانو ته رسيږي او صليبيان خپله هم دا اقرار کوي چي موږ لا تر اوسه افغانستان نه دی اشغال کړی، نو ځکه د صلحي او ګډ حکومت جوړولو هڅي کوي، په دا ډول حالاتو کي صليبيان د افغانستان قابضين نه بلل کيږي، په کوم وخت کي چي دوی د افغانستان قابضين او واکمن نه وبلل شول نو په دا سي حال کي افغانستان دارالحرب نه بلل کيږي تر اوسه لا دارالاسلام دی، کوم علماء چي د افغانستان له سياسي، جهادي او ټولنيزو جريانا تو څخه ليري پاتي دي هغوی شايد دا فکرو لري چي افغانستان دارالحرب دی خو حقيقت داسي نه دی بلکه افغانستان دارالاسلام دی.

البته دافغانستان جهاد شرقا او غربا دنړۍ په مسلمانانو فرض دی ځکه چي د حنفي فقهي مسأله:ده : که چيرته مسلمانان د کفارو له مقابلې څخه عاجزوو او تعرض هم د کفارو له لوري شوی وو نو د ټولي نړۍ په اسلامي حکومتونو او مسلمانانو باندي جهاد فرض عين دی.

## ❖ امیر ته لارښود حدیثونه

امیر او مشر ته دغه اوه حدیثونه مونږ د نمونې په ډول یو نصیحت وړاندي کوو ان شاء الله تعالی کافي به وي.

**لومړی:**

**وعن ابي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: من اطاعني فقد اطاع الله ومن عصاني فقد عصى الله ومن يطيع الامير فقد اطاعني ومن يعصي الامير فقد عصاني وانما الامير جنة يقاتل من ورائه ويتقي به فان امر بتقوي الله وعدل فان له بذالك اجروان قال بغيره فان عليه منة. (رواه البخاري ومسلم، مشكوة ج۲ ص۳۱۹)**

**ژباړه:** له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چي وایي: رسول الله ﷺ وویل: که چا زما حکم او امر ومانه په تحقیق سره هغه د الله تعالی حکم او امر منلی دی، او که چا زما نا فرماني وکړه او زما امر یې نه ومانه نو بېشکه هغه د الله تعالی نافرماني وکړه، او که چا د امیر امر ومانه په تحقیق سره دا زما د امر منل او اطاعت دی او که چا د امیر نافرماني وکړه په تحقیق سره هغه زما نافرماني وکړه او بېشکه امام د سپر او ډال په څېر دی، د مسلمانانو لپاره جګړه چي کیږي هغه به د ده په مشري او تنظیمولو سره وي او د ځان ساتنه به په ده سره راځي، که ده امر په تقوی د الله تعالی سره او په انصاف او عدل سره وکړ نو الله تعالی به ده ته ثواب ورکړي او که یې په ګناهونو او ظلم سره امر کاوه نو د قیامت په ورځ به د دغو ټولو عذاب پر ده وي او حساب به یې له ده سره کیږي.

**دويم:**

**(وعن وائل بن حجر رضي الله عنه قال: سأل سلمة بن يزيد الجعفي رضي الله عنه رسول الله صلي عليه وسلم فقال: يانبي الله! أرايت ان قامت علينا امرأء يسئلونا حقهم ويمنعونا حقنا فماتأمرنا، قال: اسمعوا واطيعوا فانما عليهم ما حملوا وعليكم ما حملتم) رواه مسلم، مشكوة ۲ج ص ۳۲۰)**

**ژباړه:** له وائل بن حجر رضي الله عنه څخه روايت دی چې سلمة بن يزيد الجعفي ﷺ له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې يا نبي الله! ته خبر راکړه که پر موږ داسي اميران مسلط شول چې له موږ څخه يې خپل حق غوښت او زموږ حق يې ګرځاوه نو ته په دې هکله موږ ته څه امرکوې موږ بايد څه وکړو؟ ده مبارک ورته و ويل: چې تاسي به د دوی خبره اورئ او اطاعت به يې کوئ ځکه چې پر دوی هغه شی دی چې الله تعالی پر دوی لازم کړی دی چې هغه د الله تعالی او د رسول ﷺ امر پر ځان او بل باندي تطبيقول دي د دغو پوښتنه به د قيامت په ورځ له دوی څخه کيږي او پر تاسي هغه څه دي چې الله تعالی پر تاسي فرض کړي دي، چې هغه د دوی امر منل او اطاعت کول دي په جائز او روا کارونو کي نه په ناروا او ګناهونو کي.

**درېيم:**

**وعن عبد الرحمن بن سمرة ﷺ قال قال لي رسول الله ﷺ لاتسئل الامارة فانك ان اعطيتها من مسئلة وكلت اليها، وان اعطيتها من غير مسئلة اعنت عليها) رواه البخاري ومسلم. (مشكوة ج۲، ص۳۲۰)**

**ژباړه:** له عبد الرحمن بن سمرة ﷺ څخه روايت دی چې وايي ما ته رسول الله ﷺ و ويل: مشرتوب او امارت پخپله مه غواړه ځکه که چېرته ستا له غوښتني سره سم مشرتوب درکړل شي نو ته ورسپارل کېږې، يعني د هغه

په تر سره کولو کې به د الله تعالی مرسته درسره نه وي ، او که ستا له غوښتنې پرته درکړل شي الله تعالی به دې مرسته وکړي.

## څلورم:

**وعن ابي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلي الله عليه وسلم قال: انكم ستحرصون علي الامارة وستكون ندامة يوم القيامة فنعم المرضعة وبئسة الفاطمة) رواه البخاري. (مشكوة ج٢ص٣٢٠)**

**ژباړه:** له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې وايي نبي کريم ﷺ و ويل: په تحقيق سره تاسې ډېرې هڅې کوئ د امارت او مشرتوب لپاره، ژر ده چې ستاسې لپاره به پښېماني وي د قيامت په ورځ څکه چې ښه وي پيل د مشرتوب خوندونه پکې وي لکه د کوچني لپاره چې شيدې رودل خوندور وي خو بد وي پايلي او آخېر د مشرتوب لکه د کوچني لپاره چې له تې پرېکېدل بد او ستونزمن وي ،يعنې په آخېر کې يې پښېمانتيا او غم وي.

## پنځم:

**وعن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلي الله عليه وسلم ما من امير عشرة الا يؤتي به يوم القيامة مغلولا حتي يفك عنه العدل او يوبقه الجور. (رواه الدارمي، مشكوة ج٢ص٣٢١)**

**ژباړه:** له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ و ويل: نشته يو امير د لسو تنو مګر راتګ به وشي په ده سره د قيامت په ورځ په داسې حال کې چې دی به دی تړلی وي تر داسې وخته چې خپل عدل يې خلاص کړي که يې کړی ؤ ،او يا به يې ظلم هلاک کړي که يې کړی ؤ ،خو له ده سره چې حساب کيږي دی به تړلی وي، او په بل روايت کې

راغلي دي چي په ده سره به په داسي حال کي راتګ وشيچي لاس به يې په غاړه کي ورتړلي وي.

**شپږم:**

**وعن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال قال رسول الله صلي الله عليه وسلم: ان افضل عباد الله عند الله منزلة يوم القيامة امام عادل رفيق، وان شر الناس عند الله منزلة يوم القيامة امام جائر خرق. (رواه البيهقي في شعب الايمان، مشكوة ج٢ص٣٢٣)**

**ژباړه:** له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم و ويل: غوره او ښه له بندګانو د الله تعالى څخه په نزد د الله تعالى د رتبې له لحاظه د قيامت په ورځ هغه امام او امير دی چي عدل او انصاف کوي ، او پر خپلو خلکو مهرباني کوي او بد ترين شر د خلکو په نزد د الله تعالى د رتبې له لحاظه د قيامت په ورځ هغه امام او امير دی چي پر خپلو ولسي وګړو باندي ظلم او سختي کوي.

**اووم:**

**وعن عمر بن الخطاب رضي الله عنه: انه كان اذا بعث عماله شرط عليهم ان لاتركبوا برزونا، ولاتأكلوا نقيا، ولاتلبسوا رقيقا، ولاتغلقوا ابوابكم، دون حوائج الناس فان فعلتم شيئا من ذالك فقد حلت بكم العقوبة ثم يشيعهم. رواه البيهقي في شعب الايمان. (مشكوة ج٢ص٣٢٤)**

**ژباړه:** عمر بن الخطاب رضي الله عنه چي به کله خپل واليان ،يا د فوځ مشران لېږل نو پر دوی به يې د غه څلور شرطونه ښودل:

**لومړی:**

تاسي به پر برزون آسونو نه سپرېږئ، (برزون ) په هغه وخت کي هغه آسونه وو چي دليد ونکو پام يې ځان ته راړاوه او دهمدې موخي لپاره به خلګ ورباندي سپرېدل.

**دويم:** تاسي به نه خورئ هغه نرمه ډوډۍ چي په هغه وخت کي دا تر ټولو غوره خوراک وو.

**درېيم:** تاسي به نرمي جامې نه اغوندئ ځکه چي په هغه وخت کي جامې په لاس جوړېدې، ډېلي به وې نو نرمي جامې چي به چا اغوستې دا به ډېر امتياز او ځانګړتيا بلل کېده.

**څلورم:**

تاسي به نه بندوئ دروازې پر مخ د حاجتمندو خلکو هر څوک چي وغواړي چي ستاسي په وړاندي يو ضرورت ولري هغه به په اساني سره در تللای شي.

که تاسي زما له دغو شرطونو يو شرط پرځای نه کړ نو به د الله تعالی له خوا تاسي په دنيا او اخرت کي په عذاب اخته شئ، دا به داسي عذاب وي چي له تاسو سره به ملګری وي او يا به زما له خوا په بند يا عزل سره عذاب درکول شي، د عمر بن الخطاب ﵁ له دغو شرطونو څخه مقصد او هدف دا ؤچي امير بايد له خپلو عسکرو څخه په سپرلي، خوراک او جامو کي ځانګړتيا ونه لري، د اميرالمؤمنين عمر بن الخطاب ﵁ جامو ته به ډېري پيني لګېدلې وې تر دې چي د پوستکي ټوکرې به هم پکې وې او کوم وخت چي به يو خوا ته تلی نو پر يو عادي اوښ باندي به سپرېدی او يوه د لرګي کاسه يې درلوده په هغه کي به يې خوراک کاوه او هر چا چي به وغوښتل چي

هغه وويني په اساني ورتللای شوای. له عمر فاروق رضي الله تعالی عنه څخه را وروسته بیا زمونږ تر عصر پورې چې اسلامي تاریخ وکتل سي کوم وخت چې د مسلمانانو برې راغلی وي هغه د ښو امیرانوا د دوی د تقوی له وجهې وي او کوم وخت چې ناکامي راغلې وي هغه به د دوی له نه تقوی او نه اخلاص او د خپل نبي ﷺ او د صحابه کرامو رضي الله تعالی عنه له سیرت سره د نا بلد تیاله وجهي وي.

### ❖تنبیه :

بعضي غلطي مفکورې دي چې د هغوله مخې په جهاد کې د ټولو مسلمانانو لپاره خلیفه او امام شرط ګڼل کیږي په اوسني وخت کې سلطان او یا د ټولني مشر کفایت کوي، هغه هم په هغه وخت کې چې جهاد فرض کفایي وي او که جهاد فرض عین وي بیا که مشر یا امیر وي خو ښه او که نه وي هر مسلمان خپله جهادي فرضي دنده تر سره کولای شي.

## ❖د امیر شرطونه :

یو خلیفه یا د اسلامي ټولني او هیواد مشر چې د جنګ محاذ ته یوه ډلګۍ لیږي نو نومونږ ته ضرور او مسنون ده چې امیر ورته وټاکي اونوموړی امیر باید دغه شرطونه ولري.

**لومړی**: امیر به د جنګ په تدبیر ښه پوهیږي او د جګړې تجربه به لري هسي نه چې عسکر ور څخه ضائع شي.

**دویم**: امیر به شفقت لري له ټولو عسکرو سره به یو ډول چلند کوي.

**درېیم**: امیر به سخي وي پر خپلو عسکرو به تنګي نه راولي.

**څلورم**: امیر به زړور وي ځکه چې دی د لښکر په مخکي دی بزدله او

متزلزل به نه وي چي ټول لښکر په تزلزل کي اچوي.

**پنځم**: امیر به ښه صالح او تقوی لرونکی وي فاسق او د غټو ګناهونو کونکی به نه وي. (عالمګیری ج ۲ ص ۱۹۲)

ځکه چي که په امیر کي تقوی نه وي ضرور به په عسکرو کي هم نیمګړتیاوي راځي، دا زموږ د سترګو لیدلي تجربه ده چي د کومي جبهې یا ډلګۍ مشر به تقوی او دیانت نه درلود د هغه مشر په لاندي طبقه کي به ضرور ګناهونه او نیمګړتیاوي راتلې او له هغو څخه به ولس ته هم نوموړي نیګړتیاوي وغځېدې، ځکه چي موږ هم د هغوی د بد عمل مشکلات په سترګو ولیدل او دوی ته هم د خپل جهاد منفي نتیجه په لاس ورغله هغه دا چي د کوم اسلامي هدف او مقصد لپاره جنګېدل اوس د هغه سپېڅلي هدف پر خلاف استعمال شول، نو د مشر اصلاح او دیانت د ټولني لپاره سبب د هدایت او کامیابي ګرځي.

په شرح د سیرالکبیرللسرخسی (رح) (ج۱ ص ۲۳ او مبسوط ج۱۰ص۴ ) کي یې د امیر پر دغو پورتنیو پنځو شرطونو زیات تفصیل کړی دی هغه دا دی: ویحکی عن نصربن سیارمقرب البرامکة الذی اخرجه ابومسلم عن مروانّه قال:اجتمع عظماء العجم علی ان من کان صاحب جیش فینبغی ان یکون فیه عشرخصال من خصال بهائم: ۱ شجاعة کشجاعة الدیک ،۲ وتحنن کتحنن الدجاجة یعني الشفقة ،۳وقلب کقلب الاسد ،۴وغارة کغارة الذئب ،۵وحملة کحملة الخنزیر ،۶وصبرکصبرالکلب ای علی الجراحة ،۷وحرص کحرص الکرکی ،۸وروغان کروغان الثعلب ای الحیل ،۹ وحذر کحذرالغراب ،۱۰ وسمن کسمن الدابة التی لاتری مهذولة ابداوهی تکون بخراسان.) (وفی البدائع: ومنها ان یکون الذی یؤمرعلیهم عالمابالحلال والحرام عدلا عارفا بو جوه السیاسات بصیرابتدابیر الحروب واسبابهالانه لولم یکن بهذه الصفة لایحصل ما ینصب له الامیر. (بدائع الصنائع ج۷ص ۱۴۷)

**ژباړه:** او په بدائع الصنائع کې يې ويلي دي چې بعضې شرطونه پر امير دا دي:

**لومړی:** هغه څوک چې اميروټاکل شي بايد په حلال او حرام وعلم ولري.

**دويم:** عادل به وي د خپلو عسکرو تر منځ به فرق نه کوي.

**درېيم:** په اسلامي سياست کې به هر اړخيز معلومات لري.

**څلورم:** د جګړې په تدبيرونو به ښه پوهيږي او اسباب د جنګ به ور معلو ميږي.

که په امير کې دغه پورتني صفتونه نه وي؛ نو بيا د کوم هدف لپاره چې امير ټاکل شوی دی هغه هدف نه شي تر لاسه کولای.

## د مجاهدينو وروڼو لپاره د نمونې په ډول دغه پنځه حديثونه کافي او هدف ته رسوونکي وړاندي کوو :

**لومړی:**

**واخرج الطبراني عن عمر بن عنبسة رضي الله عنه عن رسول الله صلي الله عليه وسلم قال: لايتمني احدكم الموت الاان لايثق بعمله فان رايت في الاسلام ست خصال فتمنوا الموت وان كانت نفسك في يدك فارسلها: اضاعة الدم، وامارة الصبيان ،وكثرة الشرط، وامارة السفهآء، وبيع الحكم، ونشو يتخذ القرآن مزامير.( تفسير مظهري ج۱ص۹۸)**

**ژباړه:** طبراني راوړي دي له عمر بن عنبسة رضي الله عنه څخه له نبي کريم ﷺ څخه چې ده مبارک و ويل: هيڅ يو څوک دي غوښتنه د مرګ نه کوي مګر په هغه وخت کې چې دی ډاډه نه وي په کولو د نيک عمل

سره ،او بل په هغه وخت کي چي ته و ویني په اسلام کي شپږ خویونه بیا له الله تعالی څخه مرګ له ایمان سره غواړه او که دي ځان پخپل اختیار کي وي یعني پخپل ایمان او اسلام باوري یې بیا د مرګ غوښتنه مه کوه، هغه شپږ خویونه دا دي:

**لومړی:**

ناحقه د مسلمانانو وژل.

**دویم:**

د کوچنیانو مشرتوب، له دې څخه مطلب دا دی چي د کوچنیانو کارونه بې هدفه او بې ګټي وي.

**دریم:** ډېرښت د ډلو دی.

**څلورم:** مشرتوب د بې عقلانو، له دې څخه مطلب دا دی چي له مشرتوب نه چي کوم هدف دی چي هغه د اسلام پر مختګ دی له هغه خو یا ناخبره وي یا یې نه کوي.

**پنځم:**

خرڅول د حکمونو، مطلب دا چي یو حکم یا فیصله ور وړاندي شي په هغه کي رشوت اخلي دا د حکم پلورل بلل کیږي.

**شپږم:**

دا چي قرآن کریم خالص د خوش آوازي او ډول-ډول ویلو هدف وګرځي او په محاورو کي هم ویل کیږي چي د فلاني دا سي ښه آواز دی او د فلاني دومره اوږده ساه ده او د فلاني دا سي ښه قرائت دی، د کوم هدف او مطلب لپاره چي

قران کریم نازل شوی دی چې هغه علم پر قران کریم راوستل دي او عمل پرې کول او بل چا ته د هغه رسول دي دغه اصلي مطلب پاته شي، نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم په دغو شپږو وختونو کي مسلمانانو ته اجازه ورکړې ده چې که یو مسلمان په دغو وختونو کي د مرګ غوښتنه وکړي ورته روا ده.

**دویم:**

**وعن معاذ بن جبل (رض) قال رسول الله ﷺ: الغزو غزوان فامامن ابتغى وجه الله واطاع الامام وانفق الكريمة ويأسر الشريك واجتنب الفساد فان نومه ونبهه اجر كله واما من غزا فخرا ورياء وسمعة وعصي الامام وافسد في الارض فانه لم يرجع بالكفاف. (رواه نسائي)**

**ژباړه:** له حضرت معاذ رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ و ویل: چې غزا پر دوه ډوله ده، هغه څوک چې جهاد د الله تعالی د رضا لپاره کوي او د امام اطاعت کوي او ځان ساتي له فساده، او خپل نفس یا غوره مال د جهاد په لاره کي مصرف کوي او ښه اخلاق کوي له خپل ملګري سره، په تحقیق سره د ده خوب او ویښتوب دواړه ثواب لري، او هغه څوک چې غزا کوي لپاره د فخر او ریا او د لویي ،او نافرماني کوي د امام او فساد کوي په ځمکه کي په تحقیق سره دی به راستون نشي له خپله کفایة سره یعني ثواب خو پریږده بلکه د عذاب حق دار به وګرځي.

**دریم:**

**ذکر عبدالله بن اوفي رضي الله عنه ان النبي ﷺ كان اذالقي العدو وقبل ان يواقعهم قال اللهم انا عبادك وهم عبادك نواصينا ونواصيهم بيدك، اللهم اهزمهم وانصرنا عليهم وفيه دليل علي انه ينبغي لكل غازي ان يقتدي برسول الله ﷺ في الدعاء عند القتال. (شرح سير الكبير للسرخسي ج، اص٧٠)**

**ژباړه:** عبد الله بن اوفي رضي الله عنه ذکر کړي دي: په تحقیق سره نبي کریم صلی الله علیه وسلم چي به کله له دښمن سره مخامخ شو مخکي تر دې چي له دښمن سره جنګ وکړي ده مبارک به دغه دعاء کوله: اې الله ! موږ هم ستا بندګان یو دوی هم ستا بندګان دي، زموږ نفسونه او د دوی نفسونه ستا په اختیار کي دي، اې الله ! دوی مات کړه او موږ ته پر دوی نصرت راکړه نو د هر مجاهد لپاره ضرور ده چي د جنګ له پیل کېدو مخکي له الله تعالی نه دعا وغواړي، یو خو سنت ده او بل زموږ ضرورت ده او الله تعالی وایي چي کوم څوک که له ما نه مرسته غواړي زه به یې ورسره وکړم او کوم څوک چي یې نه غواړي له هغه سره بیا زما مرسته او معونت نشته. (ومن الله التوفیق)

## څلورم:

**وعن معاذ بن جبل (رض) انه سمع رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: من قاتل في سبیل الله فواق ناقة فقد وجبت له الجنة ومن جرح جرحا في سبیل الله او نکب نکبة فانها تجئ یوم القیامة کاغزر ما کانت لونها الزعفران وریحها المسك، ومن خرج خراج في سبیل الله، فان علیه طابع الشهداء. (رواه الترمذي، وابوداؤد والنسائي، مشکوة المصابیح ج۲، مرقاة المفاتیح ج۷ ص۳۸۸ فصل ثاني کتاب الجهاد)**

له معاذ بن جبل رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی چي وایي ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل چي ویل یې: که چا جهاد وکړ په اندازه د مابین د دوو لو شلو د اوښي (معنی له سهاره تر ماښامه پوري) نو په تحقیق سره واجب شو دغه مجاهد لره جنت او که څوک ټپي سو په لار د الله تعالی کي او یا یې بې له جنګه بدن ته څه خوږ او ټپ ورسېد دی به راشي په ورځ د قیامت د ده ټپ او زخم به تر دنیا اوس ډېر تازه وي او د ده لپاره به واضحه دلیل وي چي په لار د الله تعالی کي زخمي شوی دی، رنګ د وینو او زخم به یې د زعفرانو په رنګ وي او خوش بویي د وینو به یې په د مشکو په

ښېر وي او کوم چا ته چې يو ډول مشقت او تکليف او بند ورسيږي هغه که د دښمن او که د بل چا له لاسه وي خو دی وتلی وي جهاد ته د دغو تکليفونو په وجه به پر ده باندي مهر(ټاپه ) د شهيد ووهله شي.

**پنځم:**

عن الحارث الاشعری رضي الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : انا امرکم بخمس : بالجماعة والسمع والطاعة والهجرة والجهاد في سبيل الله ، وانه من خرج من الجماعة قيد شبر فقد خلع ربقة الاسلام من عنقه الا ان يرجع ومن دعا بدعوة الجاهلية فهو من جثاء جهنم ، وان صام وصلى وزعم انه مسلم . (رواه احمد والترمذی، مشکوة المصابيح ج۲، الترجمة للمرقاة المفاتيح ج۷ص۱۷۲ کتاب الامارة فصل ثاني احديث )

**ژباړه:** له حارث الاشعري رضي الله تعالی عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وويل: چي زه تاسي په پنځو شيانو امر کوم:

**لومړی:**

چي تاسو به اتباع او پيروي د صحابه کرامو رضي الله تعالی عنهم کوئ، ددې لپاره چي دصحابه کرامو پوره اتباع وشي عام مسلمانان او په ځانګړي ډول مجاهدين بايد دصحابه کرامو له سيرت څخه خبر وي چي هغوئ څه کول هغسي بايد وکړي.

**دويم:**

چي تاسي ته حق وويل شي هغه به منئ، حق که هر څوک درته وايي امير وي او که له امير نه پرته بل څوک وي.

**درېيم:**

تاسي به د امير اطاعت کوئ چي څرنګه امير امر درته وکړ که څه هم په

هغه کي ستونزي او مشقت وي باید اطاعت یې وشي.

**شپږم:**

تاسي به هجرت کوئ هغه که له کافرانو څخه وي او که له نورو ګناهونو څخه وي، لکه څرنګه چي هجرت له کافرانو څخه فرض دی دغه ډول هجرت له ګناهونو څخه هم فرض دی، هجرت له ګناه څخه پر دوه ډوله دی، لومړی دا چي له خپلو ځاني ګناهونو څخه به توبه کاږئ او پرېږدئ به یې، دویم دا چي په کوم وطن کي فحاشي او فسق ډېر وي نو له دې وطنه به هجرت هغه وطن ته کوئ چي په هغه کي تر دې وطن فسق او فحاشي کمه وي.

**پنځم:**

جهاد به خاص د الله تعالی لپاره کوئ په هغه کي به مو د منصب او مال او نور خراب نیتونه نه وي.

او په تحقیق سره که څوک و وتی له جماعته او پیروي د صحابه کرامو رضي الله تعالی عنهم څخه یوه لوېشت قدري (له لوېشتي څخه معنا لږ او کمه اندازه ده) نو په تحقیق سره د ده له غاړي نه کړی د اسلام وخته تر څو چي دی بیرته دغه جماعت ته رجوع کوي، او که چا بلنه او دعوت کاوه د جاهلیت و خواته لکه دا زموږ په وخت کي چي هغه قومي تنظیمونه او ټولني دي او هر هغه څوک چي هغه مسلمانان له اسلامي تعلیم او جهاد نه پرته و بلي خوا ته دعوتوي نو دغه کسان به د جهنم پیلوزي وي که څه هم هغه روژې نیسي او لمونځ کوي او په دې فکر وي چي زه مسلمان یم خو دا شیان به فائده ورته و نه کړي.

❖ **بېلګه**:

داسي باید ونه شي لکه دا زموږ په عصر کي چي امارت او مشرتوب یو میراثي شی ګرځېدلی دی، که یو مشر شهید شي ضرور به د ده پر ځای د ده د

کورنۍ یو څوک مسئول ټاکل کیږي، حال دا دی چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د خلفاء راشدینو رضي الله عنهم سیرت که وکتل شي هغه دا ډول ښوونه نه راته کوي څکه چي کله رسول الله صلی الله علیه وسلم له دنیا څخه رحلت کاوه ده د خلافت لپاره څوک و نه ټاکه که څه هم ده په خپله کورنۍ کي داسي څوک درلودل چي هغه د خلافت دنده تر سره کړي لکه عباس، علی، عبد الله بن عباس رضی الله عنهم او د دوی په شان نور صحابه کرام، او دا کاریې د صحابه وو رضي الله عنهم مشورې ته یې پرېښود هغوی خپل مشر او خلیفه ابوبکر رضي الله عنه وټاکی، کوم وخت چي ابوبکر رضي الله تعالی عنه له دنیا څخه رحلت کاوه د عبد الرحمن په شان زوی یې درلود خو ده د خلیفه ټاکنه د صحابه رضي الله عنهم و مشورې ته پرېښودله هغوی خپل مشر او خلیفه عمر فاروق رضي الله تعالی عنه وټاکی، او کوم وخت چي عمر رضی الله عنه زخمي شو او پرده نور له دنیا نه د رحلت نښي ښکاره شوې په دې وخت کي مشران صحابه کرام لکه عبد الرحمن بن عوف، زبیر ابن العوام، عثمان بن عفان، علی، عبد الله بن عمر رضي الله تعالی عنهم ور حاضر شول او غوښته یې وکړه چي ته موږ ته د ځان خلیفه وټاکه، ده مبارک په دې آخرني وخت کي یو ازي خپل زوی چي عبد الله رضي الله عنه ؤ هغه ته و ویل چي ته به زما پر ځای مشر او خلیفه نه یې او دا نورو صحابه کرامو رضي الله تعالی عنه ته یې و ویل مشر په مشوره وټاکئ، هغوی بیا په دغه ډول په مشوره خپل مشر او خلیفه عثمان ذي النورین رضي الله عنه وټاکی، کوم وخت چي عثمان رضي الله عنه شهید شو د هغه خلا فت هم میراثی نه دی پاته شوی، نو لطفاً د مشرانو او عامو مجاهدینو ورو نو څخه دا تمنا او غوښتنه ده چي موږ هم باید د خپل نبي صلی الله علیه وسلم او د خلفاو راشدینو د سیرت او تگ لاري په مطابق مشر توب او امارت میراثي و نه گرځوو، کوم څوک چي مستحق وي و هغه ته یې وسپارو.

## ❖اطاعت پېژندنه:

دامير امرمنلو ته اطاعت وايې او نه منل يې بې اطاعتي ده، په اطاعت کي د الله تعالی د نصرت وعده او د بري زېری دی، په روا کارونو کي يې امر منل فرض دی که څه هم ستونزمن کارونه وي دليل پرفرضيت لاندېنی آيت دی:

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ ۖ

(الاية النساء آيت ۵۹)

**ژباړه:** اې مؤمنانو ! حکم ومنئ تاسي د الله تعالی او حکم ومنئ تاسي د رسول الله او حکم ومنئ د خاوندانو د حکم له تاسی (مسلمانانو) يعني حاکمانو او مشرانو !).

دا راز رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: اسمعوا واطيعوا لوامرعليکم عبد حبشی اجدع ماحکم فيکم بکتاب الله تعالی.

**ژباړه:** تاسي خبره اورئ او امر منئ د مشر او امير که څه هم پر تاسي باندي امير شي يو مرييی حبشي چي غوږونه يا پزه يې هم پرې وي، تر څو چي دی ستاسي په منځ کي حکم په قرآن کريم سره کوي.

## ❖دوهمه مسأله:

## (داطاعت په اړه)

د امير په اطاعت او امر منلو کي ډېر حديثونه راغلي دي، د هغو له جملې څخه يو دغه حديث مبارک دی له مکحول رضي الله تعالی عنه څخه روايت دی: قال قال رسول الله ﷺ: لاتکفروا اهل ملتکم وان عملوا الکبائر الصلوة مع کل امام ،الصلوة علی کل ميت ،الجهاد مع کل امير.

قال سرخسي رح: الجهاد مع كل امير: اي عادلا كان او جائرا فلا ينبغي للغازي ان يمنع من الجهاد معه وبجور الامير لا ينقطع طمع الغزاة في النصرة.

امام سرخسي (رح) د دغه حديث په تفصيل کي ويلي دي چي: الجهاد مع کل امير دا معنا چي که امير انصاف دارؤ او که ظالم، مجاهدينو ته نه ده پکار چي په خوشو بهانو لټولو سره جهاد پرېږدي، دا بهانه بې ځايه ده چي اوس کله سم اميران وو زه د چا په امارت کي جهاد وکړم، سرخسي(رح) زياتوي چي د امير د ظلم له کبله دي مجاهدين د الله تعالی له نصرت څخه نه نا امېده کيږي ځکه چي د الله تعالی نصرت له مجاهدينو سره دی امير که عادل وي او که نه وي عادل.

له ابن مسعود (رض) څخه په دې اړه روايت دی چي: ان الله يؤيد هذا الدين برجل فاجر.

**ژباړه:** الله تعالی د دغه دين ساتنه او ټينګښت په يو سړي فاجر او بد کار سره هم کوي.

❖ درېيمه مسأله:

## دامير اطاعت فرض دی

و كذلك ان امرهم بشئ لا يدرون اينتفعون به ام لا فعليهم ان يطيعوه لان فرضية الطاعة ثابتة بنص مقطوع به. (سير الكبير)

په شرح د سير الكبير کي امام سرخسي (رح) دامير اطاعت او امر منلو ته فرض ويلي دي، که امير مجاهد ته امر وکړ پر مجاهد يې د امر منل او پر

ځای کېدل فرض دی، که څه هم د مجاهد لپاره ستونزه او تکلیف وي باید په یوه او بله بهانه ځان ورڅخه ونه سپموي.

( شرح سیر الکبیر ج ۱ ص ۱۶۴،بحر الرائق ج ۵،ص ۱۴۱)

### ❖ څلورمه مسأله:

## دامیر اطاعت څه وخت فرض نه دی؟

**واذاولیهم امیرفامرهم الامیربشئ لایدرونه انهم ینتفعون ام لاکان علیهم طاعته مالم یامرهم بالمعصیة اوبمایکون فیه الهلاك غالبافان اختلفوافي ذالك منهم من یقول فیه الهلاك ومنهم من یقول فیه النجاة فعلیهم طاعته لان مخالفة الامیرحرام، الااذااتفق الاکثران فیه الهلاك فحینئذیتبع رأي الاکثر. (فتاوی خانیة)**

**الاان یکون المأمور به معصیة بیقین ثم هذه المسئلة علي ثلاثة اوجه: ان علم اهل العسکرانهم ینتفعون بماامرهم بیقین بان امرهم ان لاتقاتلوافي الحال مثلاوعلموا انهم ینتفعون بترك القتال في الحال (الخ) فیطیعونه فیه. وان علموا انهم یتضررون بترك القتال في الحال بیقین، فلایطیعونه. وان شکوافي ذالك لایعلمون انهم ینتفعون به اویتضرروابه واستوي الطرفان فعلیهم ان یطیعوه وکذالك ان امرهم بالقتال مع العدو. (عالمگیریه)**

**ژباړه:** که امیر په ښکاره ګناه سره امر وکړ بیا به مجاهد د نوموړي امر نه مني، د دغې مسئلې تشریح پر درې ډوله شوې ده:

**لومړی:**

دا چې امیر وو ایي چي له دغه دښمن سره جنګ نه کوو یا پر دغه فلا نکي ځای جګړه نه کوو، او س نو که د ټولو مجاهدینو رایه دا وه چي جګړه کول

زموږ لپاره خیر ده او په کولو کې یې زموږ ګټه ده بیا دې د امیر امر نه مني خپله جګړه دې پیل کړي، ځکه د امیر د امر په منلو کې ګناه ده او هغه ګناه دا ده چې جهاد او وژل د کافرانو فرض دي او په امر منلو کې هغه پاتېږي.

**دویم:**

که د ټولو مجاهدینو دا رایه شوه چې لکه څرنګه چې امیر وایي په جګړه کولو کې زموږ ګټه نشته بیا دې د امیر امر ومني جګړه دې نه کوي

**درېیم:**

که د مجاهدینو په منځ کې د جګړې په کولو او نه کولو کې اختلاف وو او یوې خوا ته ترجیح نه راتله نو بیا خبره و امیر ته سپارل کېږي، که هغه د جګړې په کولو سره امر وکړ او یا یې په نه کولو سره په دغو دواړو صورتونو کې یې د امر منل فرض دی او هم دغه ډول درې صورتونه هلته جوړېږي چې امیر د جګړې د کولو امر وکړي او مجاهدین ور سره مخالف شي.

**(شرح سیرالکبیر ج ۱ ص ۱۶۵،عالمګیری ج ۲ ص ۱۹۲،قاضی خان ج ۳ ص ۵۶۸،بدائع الصنائع ج ۷ ص ۱۴۸)**

### ❖ پنځمه مسأله:

## د کوچني او لوی امیر دواړو اطاعت فرض دی

لان التأمیر یقتضي ان یکون فعل الامیر کفعل المأمور والمؤمّر وهو الخلیفة وکذا قال لان الخلیفة لما فوض الیه امر الحرب صار م فوضا الیه ماکان من اسبابه وتوابعه وماهو متعلق به.

(شرح سیرالکبیر ج ۵ص ۲۱۸۰)کذافی البدائع والصنائع ج ۷ ص۱۴۸)

**ژباړه:** په تحقیق سره امر سپارل او امیر ټاکل تقاضا د دې کوي چې لکه څرنګه چې امر د ټولني د مشر فرض دی په دغه ډول د هغه د نائب امر منل هم فرض دی، والي، ولسوال، محاذ مشر او ډلګۍ مشر دغه کسان ټول د مشر امیر نائبان بلل کیږي ، لکه څرنګه چې د ټولني مشر د څه کار کولو صلاحیت او اختیار لري په هماغه ډول کوم مشران چې د نوموړي امیر لخوا ټاکل شوي وي هغوی هم دغه ډول صلاحیت لري.

څرنګه چې د امیر نائب ته د جنګ کولو کار ور سپارل شوی دی په دغه ډول د جنګ لپاره چې څه اسباب برابرول پکار وي او د جنګ څه توابع وي په هغو ټولو کي دغه نائب دومره صلاحیت لري لکه د ټولني مشر چې یې لري، مګر له کومو کارونو څخه چې مشر امیر یا د هغه نائب منع وکړي بیا تر ده کشران امیران دا صلاحیت نه لري چې هغه کار وکړي، که هغه کار بیا هم تر سره کړي مشر امیر کولای شي چې ده ته جزا ورکړي.

❖ شپږمه مسأله:

## امیر مجاهدته دنه اطاعت جزا ورکولای شي؟

فان عصاه عاصی بعد ذالک من غیرعذر فما احسن ادبه فی ذالک لیکون ذالک فطامالـه وزجرالغیره عن اساءة الادب لمخالفة امره. (سیرالکبیر)

**ژباړه:** که یو مجاهد د خپل امیر امر نه مني او اطاعت یې نه کوي نو امیر به لومړی نصیحت ورته کوي که دغه مجاهد د امیر نصیحت نه ومانه او عمل یې نه پرې وکړ بیا امیر ته روا ده چې دغه مجاهد ته سزا او زجر په وهلو او بند سره ورکړي. (شرح سیرالکبیرج ۱ ص ۱۶۹، عالمګیری ج ۲ ص ۱۹۲، وکذافی الهدایة ج۲ص ۲۵۹، والبنایة ج۶ص ۵۲۶ والفتح القدیر)

❖اوومه مسأله:

## د امیر د تشکیل اتباع لازمه ده

واذانادی الامیران یکون فلان وجنده فی المیمنة وفلان وجنده فی المقدمة وفلان وجنده فی المیسرة فلاینبغی لاحدان یترک الموضع الذی امره بالکون فیه وان امرهم ان لایبرحوامن مراکزهم ونهی عن ان یعین بعضهم بعضافلاینبغی لهم ان یعصوه وان آمنوامن ناحیتهم وخافواعلی غیرهم ،لان طاعة الامام فرض علیهم بدلیل مقطوع به.

(سیرالکبیر ج۱ص ۱۷۲)

**ژباړه:** که امیر مجاهدینو ته خپل طرفونه معلوم کړل د مثال په ډول یوې ډلي ته یې و ویل چي تاسي به مخامخ جګړه کوئ او نورو ته یې و ویل چي تاسي به کمین نیسئ او یا دې ته ورته په نورو جهادي ډول- ډول فعالیتونو یې وګمارل ، او س د امیر دغه امر پردوه ډوله دی:

یو دا چي امیر دغه تشکیل وکړ خو د یوې ډلي له بلي سره مرسته کول یې منع کړل وې ویل چي هر څوک به خپله دنده تر سره کوي ،بیا که چیري پر یوه ډله د دښمن غلبه راغله هغه بله ډله مرستي ته نشي ور تللای، ځکه چي د دغي ډلګۍ یا یو شخص ځای خالي پاته سو ، که چېرته ور شي د امیر بې امري ده او د الله تعالی له خوا څخه مسئول دی، ځکه چي امیر کله د یوه او بل د مرستي له کولو څخه منع کوي نو په دغه کي به ضرور ګټه وي، کېدای شي چي مجاهدینو ته یې حکمت معلوم نه وي. دویم دا چي امیر په تشکیل کي هر چا ته خپله دنده معلومه کړه خو د یوه او بل له مرستي کولو څخه یې منع ونه کړه، په دغه صورت کي مجاهدین یو له بل سره مرسته کولای شي او یو د بل لوري ته ورتللای شي.

(شرح سیرالکبیر ج ۱ ص ۱۷۱ ،عالمګیری ج ۲ ص ۱۹۲)

❖ اتمه مسأله:

## فرار څه وخت جائز دی؟

و اذاکان عدد المسلمین نصف عدد المشرکین لایحل لهم الفرار وهذا اذاکان معهم اسلحة و امامن لاسلاح له فلابأس بان یفرممن معه سلاح وکذالابأس بان یفرممن یرمی اذالم تکن معه آلة الرمی ،وعلی هذالابأس بان یفرالواحد من الثلاثة ،کذافی المحیط السرخسی (رح) وفی زماننانعتبرالطاقة ومن فرمن موضع المنجنیق و اشباهه اومن موضع یرمی باالسهام اوالحجارة فلابأس به کذافی المحیط .(عالمکیریة )

**ژباړه:** که د مسلمانانو شمېر د کافرانو د شمېر په نیمه وو بیا مسلمانانو ته له جهاد څخه د خلاصون لاره نشته حتماً به جهاد کوي او خاص د جنګ په مرحله کي هم دغه اندازه معتبره ده او که د مسلمانانو شمېر د کفارو په نیمایي نه وو بلکه کم وو بیا که جهاد و نه کړي یا خاص د جنګ له مرحلې نه ووزي ورته جایزه ده خو چي مسلمانان د کفارو په نیمایي وي بیا هم د جهاد نه کولو یا د جنګ له محاذنه د وتلو جواز ورته په څلورو حالاتو کي شته:

**لومړی:**

له مسلمانانو سره به سلاح وي او له کوم چا سره چي سلاح نه وي هغه ته له هغه دښمن نه تیښته روا ده چي سلاحور سره وي

**دوهم:**

او هغه مسلمان چي د ده سلاح د کافر تر سلاح نه ترنیمې زیاته کمزورې وي بیا ورته د خلاصون لاره سته

**درېیم:**

په دغه ډول که یو مسلمان له دریو کافرانو سره مخامخ شي ده ته دځان دژغورلو جوازشته

**څلورم:**

که څوک دېمبارله ځایه نه ځان وباسي او یادغهوتوپونوله ځایه ځان وژغوري چي دفاع یې دده په وس کي نه وي داهم ورته روا ده

په دغو څلورو وختونوکي چي مجاهد ته دځان ژغورل روادي هغه که څه هم دامیرله امرنه خلاف وي دې ته بې اطاعتي نه ویل کیږي ځکه چي ځان له هلاکت نه خلاصول دهرمسلمان فریضه ده.

**(عالمګیریه ج /۲ص ۱۹۳ ،شرح سیرالکبیر وغیره)**

❖ **نهمه مسأله:**

الظاهرانه لیس المرادانه ینبغی ان یکون الامیرفی الحرب قدام القوم بل المرادانه الساتریمنع العدومن المسلمین ،الخ، لمعات.

**ژباړه:** پر امیر دا نه ده لازمه چي دی به په جګړه کي مخته ځي که په جګړه کي د یو ضرورت پر بنا شا ته شي پروا نه لري خو په دې شرط چي قومنده به ورکولای شي، بلکه امیر د دې لپاره ټاکل شوی دی چي د مسلمانانو تنظیم وکړي او د دښمن له شره څخه یې وساتي.

**(لمعات علی هامش مشکوة ج ۲ ص ۳۱۸)**

## که امیر له کفارو څخه په جهاد یا د هغه په اسبابو کې مرسته وغواړي دا روا ده او که نه؟

❖ لسمه مسأله:

ولابأس بان یستعین المسلمون باهل الشرک علی اهل شرک ان کان حکم الاسلام هوالظاهرعلیهم(سیرالکبیرللامام محمد(رح)

لان رسول الله ﷺ استعان بیهود بنی قینقاع علی بنی قریضة ولان من لم یسلم من اهل مکة کانوا اخرجوا مع رسول الله ﷺ رکبانا ومشاة الی خیبر) فعرفنا انه لابأس بالاستعانة بهم وماذالک الانظیرالاستعانة بالکلاب علی قتال المشرکین، والی ذالک اشاررسول الله ﷺ بقوله تعالی: ان الله تعالی لیؤید هذاالدین باقوام لاخلاق لهم فی الاخرة.) (شرح سیرالکبیرج ۴ ص ۱۴۲۲، وردمحتارج۳ص۲۵۷، وبحرالرائق ج۵ص ۱۵۲، وکذافی المبسوط ج۱۰ص ۲۳)

**ژباړه:** په دې پروا نشته چي مسلمانان له مشرکانو څخه د مشرکانو پرضد کومک او مرسته وغواړي، په دې شرط چي مشرتوب او اختیارات به د مسلمانانو وي، ځکه چي رسول الله صلی الله علیه وسلم له بني قینقاع قومه څخه چي یهود وو د بني قریضه قوم په خلاف کومک وغوښت، بل دا چي د مکي شریفي هغه کسان چي اسلام یې نه و راوړی له نبي صلی الله علیه وسلم سره پر اسانو سپاره او پیاده د خیبر جنګ ته ووتل، نوله دې نه موږ پوهېږو چي که وروستني ګټه او برلاسیتوب د مسلمانانو وي له کفارو څخه کومک غوښتل پروا نلري.

دا یو اځي او یو اځي داسي مثال لري لکه له سپیانو چي د کفارو په قتل کي کومک وغوښتل شي او هغه کومک غوښتلو ته نبي صلی الله علیه وسلم په دې قول د الله تعالی سره اشاره کوي: په تحقیق سره الله تعالی

ټینګ او مضبوط ګرځوي دغه دین په داسي قومونو چي د هغوی به په اخرت کي هیڅ حصه او برخه نه وي.

❖ یوولسمه مسأله:

## په جنګ کي نارې وهل

قال امام محمد (رح): ولا یستحب رفع الصوت فی الحرب من غیران یکون ذالک مکروها من وجه الدین ولکنه فشل، فان کان فیه تحریض ومنفعة للمسلمین فلا بأس به )

وقال السرخسی (رح): یعني ان المبارزین یزدادون نشاطالما یرفع الصوت وربما یکون فیه ارهاب للعدو، علی ماقال النبي صلی الله علیه وسلم: صوت ابی دجانة فی الحرب فئة فاما اذالم یکن فیه منفعة فهو فشل. (شرح سیر الکبیر ج ۱ ص ۸۹ بحر الرائق ج ۵ ص ۱۲۸)

**ژباړه:** امام محمد (رح) ویلي دي: چي په جنګ کي د صوت پورته کول ښه کار ندی نه یوائي دا چي دا په جنګ کي مکروه دی دغسی هم ضایع او بې ځایه کار دی، که مثلا د تکبیر یا نورو جائزو نارو په وهلو سره پر جنګ باعث کېده راتله او یا په دې کي د مسلمانانو نوره ګټه وه بیا هیڅ پروا نلري د دغي خبري په تشریح کي امام سرخسي (رح) ویلي دي: چي د مجاهدینو د تکبیر په رږغ سره شوق او اسلامي جذبه نوره زیاتیږي او ډېر وخت په دې کي د دښمن و پرول راځي، لکه څنګه چي نبي کریم ﷺ ویلي دي: چي دا بو د جانة رضي الله عنه رږغ او ناره په جنګ کي دا ځان ته یو ډله ده معنی دا چي د ده ناره د یوې مستقلي ډلي زور لري یا دا معنا چي د ده غږ یو مستقل لښکر دی او زموږ په وخت او ماحول کي د تکبیر او نورو ښو کلماتو رږغونه د جنګ په حالت د مجاهدینو شوق او احساسات راپاروي نو د تکبیر او د دې په مثل نور رږغونه روا دي.

❖ دولسمه مسأله:

## دلگنوټې ( پگړۍ) ښه اثر

قال امام محمد (رح) :ولبس العمائم فی الحرب وغیرها حسنمن امر المسلمین وقال صلی الله علیه وسلم: تعمموا تزدادوا احلما ) ودخل رسول الله صلی الله علیه وسلم مکة یوم الفتح وعلیه عمامة السوداء فعرفنا ان ذالک حسن. (شرح سیرالکبیرج ۱ص ۹۱)

**ژباړه:** امام محمد (رح ) ویلي دي: چي د پګړۍ تړل په جنګ کي او که بې له جنګه وي ښه کار دی او دا خاصه د مسلمانانو ده، نبي کریم صلی الله علیه وسلم امرکړی دی چي تاسي پګړۍ تړئ نو حلم او نرمښت به مو زیات شي، رسول الله صلی الله علیه وسلم چي مکه مکرمه فتحه کوله په دغه ورځ یې توره پګړۍ پر سر وه نو سرخسي(رح) وایي چي له دې څخه موږ پوه شوو چي پګړۍ تړل ښه کار دی.

❖ دیارلسمه مسأله:

## دلویو گناهونو ددفعي لپاره هم جهاد فرض دی

الاتری ان رجلا لو قطع طریق علی رجل لیأخذ ماله اولیقتله اواراد امرءة لیفجربها وهناک من له قوة علی ان یمنعه من ذالک فعلیه ان یمنعه ،لان هذا فرض علیه بعینه. ( شرح سیرالکبیرج ۱ ص ۱۹۹)

**ژباړه:** ته نه ګورې چي یو څوک قاطع الطریق وي چي له خلکو څخه مالونه غلا کوي او یا خلک وژني او یا د چا له ښځو سره بد چلند کوي او یو مسلمان د دغو ګناهونو مخ نیوی کولای شي دی به دغه مخ نیوی کوي ځکه

چي دا مخ نيوی پر ده فرض عين دی.

له مخکني عبارت څخه دا معلوميږي چي جهاد چي موږ فرض بولو هغه يوازي له کافر سره نه بلکه د هري لوي ګناه په مقابل کي له وس سره سم جهاد فرض عين دی ترڅو په ټولنه کي د ګناهونو مخه ونيول شي.

**يادونه:** د امير لفظ چي دلته په مسئلو کي ذکر شوی دی هغه که د ټولو مسلمانانو امير او خليفه وي او که د هغوی نائب وي او که د دوی له خوا د ټاکل شوې ډلګۍ مشر وي پر ټولو يې اطلاق کيږي.

## د غنيمت مال پيژندنه

لاندينۍ شپږويشت مسألې د غنيمت په تشريح کي دي:

## د غنيمت او فئ تر منځ څه فرق دی

### ❖ څوارلسمه مسأله:

قال ابن الهام: الما خوذ من الكفار بقتال يسمیٰ غنيمة، وبغير قتال كالجزية والخراج فيئا. (مرقات المفاتيح ج۷ صفحه۵۴۱، وكذا صفحه ۶۵۳)

وما اوجف المسلمون عليه من اموال اهل الحرب بغير قتال يصرف فی مصالح المسلمين كما يصرف الخراج (الخ) بخلاف الغنيمة لا نه مملوک بمباشرة الغانمين وبقوة المسلمين. (الهداية ج ۲ صفحه ۲۸۰)

وفي فتح القدير والعناية عنا من المباشرة القتال وعلى هامشه.

( العنایه ج ۴، صفحه ۳۵۴)

ومقتضاه ان ما اخذ بالقتال و الحرب غنیمة وما اخذ بعده مما علیهم قهراً کالجزیة والخراج فئ. (رد مختار ج ۳صفحه ۲۵۰ )

**ژباړه:** ملا قاري (رح) ویلي دي چي هر هغه شی چي له کفارو څخه په جنګ کي ونیول شي هغه ته غنیمت ویل کیږي، او هر هغه شی چي له کفارو څخه له جګړې پرته ونیول شي هغه ته فئ ویل کیږي، د مثال په ډول لکه جزیه او خراج چي فئ بلل کیږي، په هدایة نومي کتاب کي یې ویلي دي کوم وخت چي مسلمانان پر کافرانو داسي بریدوکړي چي په زور او په قهر ورشي خو جګړه ورسره ونه کړي په دغه طریقه که هر څه شی له کافرانو څخه ونیسي هغه ته فئ ویل کیږي، دا د خراج په ډول دی چي د مسلمانانو په عامو فائدو او مصحلتونو کي به مصرفیږي، غنیمت هغه مال ته ویل کیږي چي په جنګ د مجاهدینو او ورسره په قوت د عامو مسلمانانو لاس ته ورشي، نو له دې کبله چي مجاهدینو جنګ کړی دی څلور حصې د دوی دي او چي د عامو مسلمانانو قوت ورسره دی نو پنځمه حصه یې د عامو مسلمانانو حق ګرځي، په(فتح القدیر او عنایه) کي د (فئ) او (غنیمت) تر منځ دغه ډول توپیر بیان شوی دی. (ردمختار) وایي چي د فقهي له عبارتونو څخه معلومیږي چي غنیمت هغه مال ته ویل کیږي چي له کفارو څخه په جنګ ونیول شي او هغه مالونه چي مسلمانان یې پر کافرانو باندي له جنګ وروسته کیږدي لکه خراج او جزیه هغو ته فئ ویل کیږي، هغه مالونه چي کفار یې یو تن مجاهد یا یوه عام مسلمان ته تحفه کړي او د مجاهدینو مشر له دغه ډول تحفو څخه منعه نه وي کړې او یا یو یا دوه تنه مجاهدین له کفارو څخه یو شی د غلا په توګه یا په یو بل چل او فریب سره یوسي او امیر دغه کار ته نه وي ګمارلي دغو مالونو ته نه غنیمت او نه فئ ویل کیږي، بلکي دا خاص د دغه مسلمان حق دی او ورته روا دی

والنفل فی الشریعة عبارة عما خصه الامام لبعض الغزاة تحریضا لهم علی القتال سمی نفلا لکونه زیادة علی ما یسهم لهم من الغنیمة والتنفیل هو تخصیص بعض الغزاة بالزیادة. (بدائع الصنائع ،ج ۷ ص ۱۰۷)

**ژباړه:** نفل هغه دي چي امير يې يو مجاهد ته لپاره د باعث کېدو پر جنګ د غنيمت تر نيولو مخکي د غنيمت له ونډې نه پرته يو څه شی د انعام په توګه معلوم کړي.

❖ **پنځلسمه مسأله:**

## فئ څه ته ويل کېږي ؟

والفئ ما أخذ منهم من غیر قتال کالخراج والجزیة وفی الغنیمة الخمس دون الفئ کذا فی غایة البیان. (عالمکیریة)

**ژباړه:** هغه مالونه چي مسلمانان يې له کافرانو څخه بې له جګړې او زوره لاس ته راوړي يعني د خراج يا د جزيې په ډول هغوی ته غنيمت نه ويل کيږي بلکه دا فئ بلل کيږي د دغو مالونو واک د امير دی څرنګه چي يې تقسيموي ورته روا ده.

خو امير ته مناسب ده چي که مجاهدين محتاج وي بايد فئ اول مجاهدينو ته ورکړي ځکه چي دوی په مساکينو کي اول حق دار دي او که د مجاهدينو ضرورت نه وو بيا به يې نورو مسکينانو ته ورکوي.

(عالمګیری ج ۲ ص ۲۰۵ ،ردمختار ج ۳ ص ۲۵۰ وکذافی الهدایة ج ۲)

❖ شپاړسمه مسأله:

## په غنیمت کي څوک شریکان دي؟

د غنیمت په مال کي د هغه مجاهد چي په جګړه کي جنګیږي او یا دفاع کوي یا اکمالات کوي د ټولو برخه به په یو ډول وي، د یوه برخه به پر بل زیاته نه وي. ( هدایه ج ۲ ص ۲۶۳ ،شرح سیرالکبیرج ۳ ص ۱۰۱۲ )

❖ اولسمه مسأله:

## که مجاهد په یوه عذر له جنګه پاته شي

وكذالک اذالم يقاتل لمرض اولغيره (فى العيني لغيره يعني بان بعثه الامام الى حاجة ولم يحضرالوقعة (الهداية) وفى الخانية الغازى اذامرض اوصارمجروحاقبل شهودالوقعة وقبل الظفرثم ظفروافانه يشارک الجيش فى الغنيمة.

**ژباړه:** که امیر یو مجاهد د جنګ له محاذ څخه یوې خوا ته ولېږی یا یې له جګړې پرته په بل خدمت اخته کړی یا مجاهد دومره ناروغ وي چي د جګړې کولو توان ورسره نه وي خو د جنګ ځای ته حاضر شوی وي د دغو درو واړو مجاهدینو ونډه په غنیمت کي د نورو مجاهدینو په څېر شته.

( شرح سیرالکبیرج ۳ ص ۱۰۱۲ ،الخانیة ج ۳ ص ۵۶۵ ،الهدایه ج ۲ ص ۲۶۳ ،وکذافی البنایه )

❖ اتلسمه مسأله:

## په غنیمت کي ددارالاسلام او دارالحرب فرق

وان اتلف فی دارحرب من الغنیمة ماله قیمة لاضمان علیه وان کان متقوما لانه لایتاکد فیها حق الغانمین. (خانیة)

**ژباړه:** که د غنیمت مال نه وو تقسیم شوی او مجاهدین په دارحرب کي وو یو مجاهد د یو ضرورت پر بنا له ګډ مال څخه اسلحه یا د سوارلي شی ور اخستی و دغه شی د ده په لاس کي هلاک شو، په داسي حال کي چي ده په قصد سره نه و هلاک کړی نو موړی مجاهد مسئول نه ګڼل کیږي، دا داسي دی لکه له نوموړي سره چي نه و او بل موږ وضاحت کړی و چي په دارحرب کي تر څو غنیمت تقسیم نشي یا و نه پلورل شي یا دارا سلام ته و نه رسیږي څوک یې مالک نه شي ګرځېدلای.

**(الخانیة ج ۳ ص ۵۶۶،عالمګیری ج ۲ ص ۲۱۱، بدائع الصنائع ج ۷ ص ۱۸۴)**

❖ نولسمه مسأله:

## دغانمینو ترمنځ به توپیر نه وي

وانه لایتمیزواحد علی آخربشئ حتی امیرالعسکروهذابلاخلاف لاستواء الکل فی سبب الاستحقاق. (بحر الرائق ج۵ص ۸۵)

: د امیر ونډه د غنیمت په مال کي دومره ده لکه د یوه عادي مجاهد چي وي زیات حق نه لري. (عالمګیری ج ۲ ص ۲۱۲)

❖ شلمه مسأله:

## دغنيمت په اړه يوه نکته

ولو اخذ المسلمون غنيمة ثم غلبهم العدو فاستنقذوها من ايديهم ثم جاء عسكر آخر فاخذها من العدو فاخرجوها الى دار الاسلام نظر في ذالک فان کان الاولون لم يقتسموها ولم يحرزوها بدار الاسلام فالغنيمة للاخرين.( بدائع الصنائع )

**ژباړه**: که د يوې ډلګۍ مجاهدينو له کافرانو څخه غنيمت ونيوى بيرته کافرانو دغه د غنيمت مال له مسلمانانو څخه يوووړ بيا د بلې ډلګۍ مجاهدين پرې بريالي شول دغه مال يې له کافرانو څخه غنيمت کړ، اوس په دغه مال غنيمت کې دوه ډوله حکم دى:

که د اولې ډلګۍ مجاهدينو دغه مال نه وو تقسيم کړى يا يې دارالاسلام ته نه و رسولى چې دکافرانوله لوري ونيول شو دغه غنيمت د دويمې ډلګۍ حق دى اوله ډلګۍ پکې حق نه لري ، که اولې ډلګۍ دغه مال پر مجاهدينو يا پر ډلګيو تقسيم کړى وو بيا دغه پښنه وشوه دغه غنيمت به بيرته اولې ډلګۍ ته ورکوي، ځکه چې غنيمت په تقسيم سره د شخصي مال په څېر ملک ګرځي نو دا بعينه د دوى شخصي مال دى.

خو دا حکم هلته دى چې مجاهدين په دار الحرب کې وي او که په دارالاسلام کې وو بيا دا سې حکم نه دى بلکه وړاندي تر وېش او وروسته تر وېش يې پخوانى مالک حقدار دى، ځکه چې په دارالاسلام کې څنګه غنيمت ونيول شي غنيمت نيونکي يې په نيولو سره سم مالکان ګرځي.

(بدائع الصنائع ج ۷ ص ۱۸۱،عالمګيرى ج ۲ ص ۲۱۶،الخانية ج ۳ ص ۵۶۷، ردمختارج ۳ ص ۲۵۳)

❖ **يوويشتمه مسأله:**

## دمسلمان دملكيت زوال

ملک المسلم يزول عن ماله باستلاء الكفارعليه له حق الاعادة بعوض اوبغيرعوض حتى لوظهرعليهم المسلمون فاخذوها واحرزوها بدارالاسلام فان وجدها المالک القديم قبل القسمة اخذه بغيرشئ وان وجدهابعد القسمة يأخذهابالقيمة ان شاء. **(بدائع الصنائع)**

که کافرانو د يوه مسلمان شخصي مال قبضه کړ او دارحرب ته يې يوو ړ بيا مجاهدينو دغه مال ور څخه غنيمت کړ دغه پر دوه ډوله ده:

(۱) که مسلمانانو مال غنيمت نه وو تقسيم کړی بيا دغه مال بې له کومه عوضه د خپل څښتن دی.

(۲) که مجاهدينو غنيمت تقسيم کړی واو دغه شخصي مال د يو مجاهد په ونډه کي ورغلی و بيا به يې دغه مالک په قيمت اخلي ځکه چي دغه مال د دې مجاهد شخصي حق شو، لکه په دې حديث شريف کي چي ارشاد شوی دی: ان وجدته قبل القسمة فهولک بغيرشئ وان وجدته بعد القسمة فهولک بالقيمة (الحديث)

نوخلاصه د مسئلې دا راووته چي که کفارو د مسلمانانو پر هيواد غلبه وموندله او د مسلمانانو شخصي مالونه يې لوټ کړل بيا مجاهدينو دغه مالونه ور څخه غنيمت کړل بيرته به يې خپلو څښتنانوته ورکوي، که هغه معلوم وو په دې شرط چي کفارو دارلحرب ته نه وي رسولي که يې دغه مالونه دارالحرب ته رسولي وو بيا د مجاهدينو لپاره غنيمت ګرځي له مخه تر تقسيم يې خاوند بې له قيمته اخيستلی شي او وروسته ترتقسيم به يې په قيمت اخلي خو که د مالک خوښه وه که يې نه وه خوښه د مجاهد حق دی.

(بحر الرائق ج ۵ ص ۹۵،مبسوط ج ۱۰ ص ۵۴،بدائع الصنائع ج ۷ ص ۱۸۹،الهدايه ج ۲ ص ۲۷۴،شرح سير الكبير ج ۴ ص ۱۲۹۷)

### ❖ دوه ويشتمه مسأله:

**ولووهب الحربى ماملكه باالاستيلاء لرجل من المسلمين اخذه المالک القديم بالقيمة ان شاء وكذالک لوباعه من مسلم الخ. ( بدائع الصنائع)**

**ژباړه:** كه كافرانو د مسلمانانو پر هيواد قبضه وكړه د يوه مسلمان شخصي مال يې ځني يووړ بيا دغه مال كفارو يو بل مسلمان ته هبه كړ يا يې وربانديو پلورى ددې مال مالک نشي كولاى چي له دغه مسلمان څخه دا خپل مال بې له عوضه يوسي بلكه كه يې خوښه وه په قيمت دي يې ور څخه واخلي او يا دي يې پرېږدي. (بدائع الصنائع ج ۷ ص ۱۹۱ ،الهدايه ج ۲ ص ۲۷۵،شرح سير الكبير)

### ❖ درويشتمه مسأله:

## مرسته كوونكى هم په غنيمت كي شريک دى

كه يوه ډلګۍ د بلي ډلګۍ مرستي ته ورغله دغه ورتګ پر دوه ډوله دى او په اعتبار د مرستي رسولو هم دوه ډولونه لري. لومړى په دارالحرب كي وي او كه په داراسلام كي، دويم دغه ور تګ په جنګ كي وي كه وروسته له جنګه، كه چېرته دا جګړه په دارالحرب كي وه نو كه يوه ډلګۍ هسي هغې سيمي ته ورسي له اولي ډلګۍ سره چي جګړه يې كړې وي او غنيمت يې نيولى وي په غنيمت كي شريكان دي ، كه دغه مرسته په داراسلام كي وه بيا كه خاص په جګړه كي مرسته ورسره وكړي په غنيمت كي ورسره شريكان دي، كه يې په جګړه كي مرسته نه ورسره وكړه بيا كه اولي ډلګۍ غنيمت نيولى وو دويمه ډلګۍ حق د شراكت نه ورسره لري.

( شرح سیرالکبیرج ۳ ص ۱۰۰۵ ،ردمحتارج ۳ ص ۲۵۳،قاضی خان ج ۳ ص ۵۶۷ ، والهدایة ج۲ص ۲۶۳)

❖ څلورویشتمه مسأله:

## مرسته کوونکی څه وخت د غنیمت حق نلري؟!

که د یوې ډلگۍ مجاهدینو د غنیمت مال تقسیم کړی نه وو بلکه پلورلی یې وو مرسته کونکي ډلگۍ حق د شراکت نه ورسره لري، دغه راز که غنیمت نیونکو مجاهدینو غنیمت په دارالحرب کي تقسیم کړی یا پلورلی وو او یا یې دارالاسلام ته رسولی وو بیا مرسته کونکي مجاهدین حق د شراکت نه ورسره لري، که یې له دغو درو څخه یو تصرف پکي کړی نه وو بیا مرسته کونکي مجاهدین حق د شراکت ورسره لري، که په دارالاسلام کي مجاهدینو غنیمت ونیو بس دوی یې مالکان دي دویمه ډلگۍ که له غنیمت نیولو وروسته حاضرهشي هغه په دغه غنیمت کي ورسره شریکان ندي تر څو چي دوی د شراکت وعده ورسره کړې نه وي (شرح سیرالکبیرج ۳ ص ۱۰۰۵ ،ردمحتارج ۳ ص ۲۵۳)

❖ پنځه ویشتمه مسأله:

## د صحیح اوغلط نیت معیار

واماذاکان معظم مقصوده الجهادویرغب معه فی الغنیمة فهوداخل فی قوله تعالی: لیس علیکم جناح ان تبتغوافضلامن ربکم ) یعنی التجارة فی طریق الحج فکماانه لایحرم ثواب الحج فکذاالجهاد.

( ردمحتارج ۳ ص ۲۳۸،والمبسوط ج ۱۰ص ۴۵)

**ژباړه:** که یو مجاهد د جهاد کولوسره د غنیمت نیت هم ؤچي جهاد به

وکړم او غنیمت به هم لاس ته راوړم دا مسأله درې صورتونه لري:

**لومړی**: که د ده مقصد خاص ځان ته مالي ګټه رسول ؤ بیا دغه ډول جهاد کول ده ته قطعا حرام دی دې ته جهاد نه ویل کیږي.

**دویم**: که د ده غالب او زیات میلان د مال خوا ته ؤخو څه ناڅه د جهاد کولو نیت هم ورسره ؤ دا هم روا نه دی او د دې جهاد ثواب نشته.

**درېیم**: که د یوه مجاهد ډېر نیت او قصد د جهاد کول او د کلمة التوحید اوچتوالی ؤ خو څه نا څه د غنیمت نیت هم د څه مجبورتیا په خاطر ورسره و په دغه اندا زه د غنیمت نیت کول پروا نلري ځکه چې له دغه ډول نیت څخه ځان خلاصول هم ډېر مشکل کار دی او له پورتني آیت څخه دا خبره په واضح ډول څرګندیږي.

❖ **شپږ ویشتمه مسأله**:

## په دارالحرب کې ټول مجاهدین دغنیمت شریکان دی

فجمیع ماغنمت السریة الاولی یشترک فیه السریتان ،لان السریة الثانیة حین التقت بالسریة الاولی فی دارالحرب بعد اصابة الغنیمة فقد ثبت لهم الشرکة فی المصاب لانهم بمنزلة المددلهم والشرکة فی الغنیمة فی دارالحرب یأتي بالشرکة فی الاصابة اوفی الاحراز.

( شرح سیرالکبیر ج ۴ ص ۱۱۵۸، ۱۱۶۸)

**ژباړه**: که دارحرب ته یوه ټولۍ مجاهدین تللي وو او غنیمت یې نیولی وو بیا د شا له خوا بله ټولۍ د مجاهدینو پسي ورغله دغه دویمه ټولۍ هم له اولي سره په غنیمت کې شریکه ده ځکه چې دغه دویمه ټولۍ د اولي لپاره لکه کومک داسې بلل کیږي او په دارالاسلام کې مسأله: دغه ډول نه ده

بلکه که یوې ډلګۍ مجاهدینو جنګ وکړ بله ډلګۍ په جنګ او یا د جنګ په اسبابو کې ورسره شریکه نه شوه نور مجاهدین له دغو جنګ کونکو مجاهدینو سره په غنیمت کې شریکان نه دي.

❖ اوه ویشتمه مسأله:

## د کافر هدیه عام مجاهدته څه حکم لري؟

وان كان اهدي الي بعض المبارزين او الي رجل من عرض العسكر فذالك له خاصة لان الهدية الي مثله لم تكن علي وجه الخوف منه وان كان فذالك الخوف باعتبار قوته في نفسه والهدية للامير يكون من وجه الخوف بمنعته.

( شرح سير الكبير ج۴ ص ۱۲۳۸ )

**ژباړه:** که کافرانو د مسلمانانو یوه فوځي یا یو عسکر ته تحفه یا هدیه ور ولېږله دغه تحفه خاص د دغه مجاهد ده غنیمت یا فئ نه ګرځي، ځکه چې افرادو ته تحفه لېږل د وېرې له وجهې نه وي ، که څه هم کفار په یو وخت کې له یوه مجاهد یا مسلمان عسکر څخه وېرېږي خو دغه وېره خصوصاً له دغه مجاهده څخه وي د فوځ او لښکر په وجه نه وي او له یوه قوماندان یا مشر څخه چې کفار وېرېږي د لښکر یا ډلګۍ له وجهې وي، نو که یو قوماندان ته کفار یوه تحفه رالېږي هغه د مجاهدینو د غلبې او قهر له وجهې څخه وي نو دغه تحفه خو اول باید مشر او قوماندان قبوله نه کړي خو بیا هم که یې قبوله کړي د ده حق ندی بلکه دا مال فئ ګرځي، ځکه دا مال د مجاهدینو او عامو مسلمانانو د قوت له امله ترلاسه شوی دی.

❖ اته ویشتمه مسأله:

## امیرته دکافر هدیه څه حکم لري؟

واذا بعث ملک العدو الی امیر الجند بهدیة فلا بأس بأن یقبلها ویصیر فیأ للمسلمین اذا طمع فی اسلامهم فهو مندوب واذا لم یطمع فی اسلامهم فله ان یظهر معنی الغلظة والشدة علیهم برد الهدیة .لانه قال رسول الله ﷺ لانقبل زبد المشرکین. (شرح سیر الکبیر ج ۴ ص ۱۲۳۷،وکذافی المبسوط ج۱۰)

که د کفارو پاچا د مسلمان لښکر مشر ته یوه تحفه ور ولیږله پروا نشته چې د مسلمانانو مشر دغه تحفه قبوله کړي، په دې شرط چې په تحفه قبلولو کې به یوه اسلامي ګټه وي او که نه وي بیا مشر ته نه ده روا چې د کافرانو تحفه قبوله کړي باید چې د مسلمانانو مشر کفارو ته خپل شدت او نفرت ورښکاره کړي، ځکه چې نبي کریم ﷺ ویلي دي: چې موږ نه قبلوو(زبد ) کوچې د کفارو معنا دا چې له کفارو څخه موږ فائدې نه اخلو ، لیکن دغه شی د مسلمانانو لپاره فئ ګرځي په دې شرط چې وجه د تحفې لیږلو به یوازې د مجاهدینو څخه وېره نه وي او د مجاهدینو قهر او غلبه به یې سبب نه وي ګرځېدلې، نو دغه شی فئ بلل کیږې غنیمت نه دی چې یوازې مجاهدینو ته ور و وېشل شي بلکه په دغه کې ټول مسلمانان حق لري.

❖ نهه ویشتمه مسأله:

## کافر بندي غنیمت دی کنه ؟

که یو کافر له مجاهدینو سره بندي شو دغه بندي غنیمت بلل کیږي د غنیمت نیوونکو حق دی لکه اسلحه یا نور مالونه چې له کفارو غنیمت کړل شید مجاهدینو حق ګرځي دا ډول دغه کافر بندي د مجاهدینو حق دی.

(بحر ج ۵ ص۸۳ ، وکذافی سیر الکبیر والهدایة ج ۲ ص۲۶۱ وفتح القدیر ج۴ ص ۳۰۶)

❖ دېرشمه مسأله:

## په غنیمت کې تصرف کول

تر تقسیم مخکې هېڅ ته د غنیمت د مال اجازه نشته چې ګټه تر ېنه واخلي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ډېره سخته منع کړې ده، یوازې خوراکي شیان، د اغوستلو شیان، یا د سپرېدلو شیان، په دغو شیانو کې وسعت شته خو انصاف د مجاهد په لاس دی چې ضرورت یې ورته وي او د غنیمت له مال نه پر ته بله هیڅ چاره نه لري بیا یې استعمالولای شي او بې له داسې ضرورته یې استعمال ورته روا نه دی ، دغه رنګه د غنیمت د اسلحې یا مرمیو استعمال هم بې له جګړې نه دی روا او په جګړه کې یې هم هغه استعمال ورته روا دی چې خپله اسلحه یې خرا به شي یا په خپله اسلحه پردښمن سم عملیات نشي ترسره کیدلای. (مبسوط ج ۱۰ ص ۲۵ ،شرح سیرالکبیرج ۳ ص ۱۰۱۷ ، الخانیة ج ۳ ص ۵۶۵ ،ردمحتارج ۳ ص ۲۵۴ ،بدائع الصنائع ج ۷ص ۸۶ ،هدایه ج ۲ ص ۲۶۵ ،بحرالرائق ج۵ص ۱۴۵)

❖ یو دېرشمه مسأله:

## په غنیمت کې شرکت ثابتول

اذا قسم الامام الغنیمة ثم جاء رجل و ادعی انه شهد الوقعة و اقام عدلین ،یعوض من بیت المال قیمة نصیبه. ( بحر الرائق وکذافی الخانیة )

**ژباړه:** که مجاهدینو د غنیمت مال تقسیم کړی وو وروسته یوه مجاهد دعوه وکړه چې زه هم دغه جګړې ته حاضرشوی وم دغه مجاهد که پر حاضرېدلو و جګړې ته دوه شاهدان تېر کړل په غنیمت کې حق او خپله ونډه لري، خو که غنیمت تقسیم شوی ؤ نو امیر به ده ته خپله ونډه له بیت المال څخه ورکوي که بیت المال وو او که نه وو لکه دا زموږ په وخت کې بیا به یې

د مجاهدینو له ګډ مال څخه ورکوي. بحرالرائق ج ۵ ص ۸۵ )

❖ دو دیرشمه مسأله:

## که د یوه مجاهدپه ونډه کي عیب راغی

که د غنیمت مال تقسیم شوی وو او مجاهدینو ته خپلي- خپلي ونډي رسېدلې وې د یوه مجاهد په ونډه کي غټ عیب راغی نو د دغه مجاهد د عیب عوض او بدل به له بیت المال څخه ورکول کیږي ،که بیت المال نهٔ لکه دا زموږ په وخت کي بیا به یې امیر له ګډه ماله ورکوي او که چېرته کوچنی عیب ؤ بیا پروا نه لري. (شرح سیرالکبیر ج ۳ ۱۰۸۸ )

❖درو دیرشمه مسأله:

## له کافر څخه په غلاو چل شی ترلاسه کول څه حکم لري؟

واذادخل الواحداوالاثنان دارالحرب مغیرین بغیراذن الامام فاخذوا شیئالم یخمس لان الغنیمة هوالمأخوذ قهراوغلبة لااختلاساوسرقة فان دخلت جماعة لهامنعة فاخذوشیأخمس وان لم یأذن لهم الامام. (الهدایة والفتح القدیر)

**ژباړه:** که یو مجاهد یا دوو، درو مجاهدینو له کافرانو څخه یو شی دغلا په ډول یووړ دغه مال د دغو مجاهدینو دی او غنیمت نه بلل کیږي نور مجاهدین او امیران حق نه پکي لري،که دوی د امیر په اجازه دا کار وکړی او امیر د دغه کار لپاره ګمارلي وو بیا دغه مال غنیمت دی او ګډبلل کیږي، که یوه ډلګۍ و دارحرب ته داخله شي له کفارو څخه یو شی په غلا یا بل چل یو سي بیا دغه مال غنیمت بلل کیږي.

(هدایه ج۲ ص۲۷۲، بدائع الصنائع ج ۷ص ۱۷۴)

❖ څلور دېرشمه مسأله:

## دمسلمان بندي د تبادلې شی که غنیمت شي

ولوانهم اسروامسلماًفافتدی منهم بسلاحه اوبفرسه وخلوسبیله ثم ظفر المسلمون بعین ذالک المال فأن کان المشرکون لم یحرزوه فهومردودعلی الاسیر قبل القسمة وبعدهامجاناًوان کان احرزوه فهومردودعلی صاحبه قبل القسمة بغیرشئ وبعدهابالقیمة ان احب. (سیرالکبیرج۴)

**ژباړه:** که یو مسلمان د کافرانو په لاس کي بندي شو او کافرانو غوښتنه ور څخه وکړه چي که موږ ته روپۍ یا اسلحه راکړئ له بنده به دي خلاص کړو، دغه مسلمان د ځان په فدیه کي دغه ذکرشوی شی ورکړي بیا د مجاهدینو له خوا پر دغه کافرانو غلبه راغله دغه د مسلمان فدیه شوی مال یې ور څخه غنیمت کړ اوس مسأله پر دوه ډوله ده:

**لومړی:**

که مجاهدینو دغه د مسلمان له لوري کافر ته فدیه شوی مال په تقسیم کي یوه مجاهد ته پخپله ونډه کي ورکړی ؤ نو دغه مسلمان خپل مال په عوض ور څخه اخیستلای شي نه بې له عوضه.

**دویم:**

که غنیمت تقسیم شوی نه ؤ بیا مسلمان بې له عوضه خپل مال اخیستلای شي خو یوه خبره ضروري ده چي دغه مسأله: په هغه وخت کي ده چي که کافرانو دغه د مسلمان د بدلې شی چي له نوموړي یې د هغه د خلاصون په بدل کي اخستی ؤ، دارالحرب ته نقل کړی وو، که دوی دغه شی

دارالحرب ته نقل کړی نه ؤ بیا مسلمانانو ورڅخه غنیمت کړ په دغه حال کي يې هغه پخوانی مالک مخکي تر تقسیم او وروسته تر تقسیم بې له عوضه مالک ګرځي. (شرح سیرالکبیر ج ۴ ص ۱۳۲۹)

له دغي مسئلې څخه دا خبره جوتيږي چي مسلمان بندي په مال يا په اسلحه سره روا ده چي آزاد کړل شي او امير بايد ور څخه منع ونه کړي که يې توان وو.

❖ پنځه دېرشمه مسأله:

## په دارالاسلام کي دغنيمت مستحق څوک دی؟

قال امام محمد رح: ولو ان جيشا من دارالحرب دخلوا دارالاسلام ،فقاتلهم المسلمون حتی ظفروابهم فانما الغنيمة لمن شهد الوقعة. شرح سيرالكبير ج ۳ ص ۹۱۵ ،هكذاروی عن عمررضی الله عنه قال: الغنيمة لمن شهد الوقعة.

**ژباړه:** په دغه ډول له عمر رضي الله تعالی عنه څخه روايت شوی دی چي فرمايي: غنيمت هغه چا لره دی چي جګړې ته حاضرشوی وي، البته دا حكم په دارالاسلام کي دی نه په دارحرب کي.

**قال امام سرخسي رح في شرحه: وهذالان الاستحقاق بالجهاد والمجاهد في دارالاسلام من شهد الوقعة خاصة بخلاف ما اذادخل المسلمون دارالحرب فهناك للمدد، شركة في المصاب وان لم يشهدوا الوقعة.**

**ژباړه:** امام سرخسي (رح) په خپله شرحه کي ويلي دي: دا مسأله چي په دارالاسلام کي په جګړه کي څوک شريک نه شي هغه چا ته په غنيمت کي برخه نشته، ځکه چي د غنيمت استحقاق په جهاد سره دی او په دارالاسلام

کي مجاهد هغه څوک بلل کيږي چي په جګړه کي حاضر وي، دا له هغه نه سوا ده چي مسلمانان په کفارو پسي دارالحرب ته ورشي او د شا له خوا مرسته کوونکي مجاهدين پسي ورشي دغه مرسته کوونکي ډلګۍ که څه هم په جګړه کي شريکه نشي د غنيمت حق لري ځکه چي په دغه وخت کي مجاهد هغه څوک بلل کيږي چي د جهاد په نيت دارالحرب ته داخل شي او له مخکيني عبارت څخه دا خبره معلومه شوه چي استحقاق د غنيمت هلته څوک لرلای شي چي دی مجاهد وبلل شي، د دې مسئلې په وضاحت کي چي د جګړې شريک څوک بلل کيږي؟

امام محمد(رح) په سير الکبير کي ويلي دي: (الا تري ان القوم يلقون العدو محصرين فلا يلي القتال منهم الا قوم قليل ثم تکون الغنيمة مشترکة بين جماعة. (شرح سير الکبير ج۳ ص۹۱۷)

**ژباړه:** تاسي نه ګورئ چي يو قوم د مسلمانانو کافران محاصره کړي او نه شي راښکېل په جګړه کي له دغو مسلمانانو مګر يوه کمه ټولګۍ، نو بس غنيمت د دغو ټولو چي په محاصره کي ورسره ګډ دي حق دی.

## حاصل او وضاحت:

زموږ په وخت کي د جګړې شريکان هغه څوک بلل کيږي چي يا په کمين کي ناست وي يا په جګړه کي له کافرانو سره مخامخ وي يا د شهيدانو ،زخميانو په خدمت اخته وي او يا يې د دغو درو ډلو امنيت ساتلی وي، هغه مجاهدين چي په قرارګاه وو او يا اوطاقو کي پاتي وي په غنيمت کي حق نه لري.

❖ شپږ دېرشمه مسأله:

## په دار الاسلام کې دغنیمت په اړه اصولي مسأله

که مجاهدین په دارالاسلام کې له کافرانو سره جنګېدل او له کافرانو څخه یې یو شی غنیمت کړاو هغه یې ترخپله ځایه ورساوه لکه زموږ په وخت کې چې څوک موټر یا موټرسایکل ونیسی یا بندیان ونیسي او یوه ځای ته یې ورسوي له هغه وروسته په دوی پسې کفار پلټنه پیل کړي، د بلې ډلګۍ مجاهدین له دغو کفارو سره جګړه وکړي د دې هدف لپاره چې دغه د اولې ډلګۍ غنیمت سوی شی وژغوري او د دوی په جګړه سره هم ژغورل شي دغه دویمه مرسته کونکې ډلګۍ له اولې ډلګۍ سره په غنیمت کې شریکان نه دي ،دوی ته په کار نه ده چې ووایي که زموږ مرسته او دفاع نه وای دغه غنیمت کړل شوي مالونه یا بندیان له تاسو څخه کفارو بیرته وړل، ځکه چې دا مسأله:په دارا سلام کې ده، په دارا سلام کې حکم دا دی چې څنګه یو شی د کافرانو څخه غنیمت شو بس دغه مجاهدین یې مالکان ګرځي او څوک چې د یو شي مالک وګرځي له هغه سره بیا بل څوک شریکېدلای نه شي ، که دغه نیونکې ډلګۍ له نورو مجاهدینو څخه مرسته وغواړي او ورته ووایي چې له موږ سره کومک وکړئ تاسي ته هم په غنیمت شوي شي کې حصه درکوو بیا دوی مرسته ورسره وکړه، هغه مرسته کوونکې ډلګۍ هم په غنیمت کې خپله ونډه ورسره لري، مجاهدینو وروښوستاسي توجه غواړم: چې افغانستان دارالاسلام بلل کیږي هره ډلګۍ چې غنیمت ونیسي هغه یې مالکان دي بل څوک حق د شراکت نه ورسره لري. (شرح سیرالکبیرج ۳ ص ۹۲۵)

❖ اوه دېرشمه مسأله:

## په دارالحرب کې د غنیمت شریک

واذالحقهم المدد فی دارحرب قبل ان یخرجوالغنیمة الی دارالاسلام شارکوهم فیهاوانماینقطع حق المشارکة عندنابالاحرازبدارالاسلام اوبقسمة الامام فی دارالحرب اوبیعه المغانم فیهالان بکل واحدمنهایتم الملک فینقطع حق شرکة المدد. ( الهدایةج۲ ص۲۶۳،وکذافی ردمحتارج۳ ص ۲۵۳،وبحرالرائق ج۵ص ۱۴۳)

ژباړه: که مجاهدینو په دارالحرب کي غنیمت نیولی ؤ د شا له خوا څخه نور مجاهدین پسي ورغلل دغه دویمه ټولۍ مجاهدین له غنیمت نیونکو مجاهدینو سره شریکان دي په دې شرط چي هغه غنیمت نیونکو مجاهدینو دارالاسلام ته غنیمت نه رسولی وي او نه یې تقسیم کړی وي او نه یې پلورلی وي، ځکه چي په دغو دریو واړو حالاتو کي مال د غنیمت د مجاهدینو په پوره ملکیت کي راځي نور مجاهدین حق د شراکت نه ورسره لري، زموږ مذهب هم دا دی ځکه چي کوم وخت د یو چا پر یو شي ملکیت راشي له هغه سره بیا بل څوک شریکېدلای نشي او که مجاهدین په دارالاسلام کي غنیمت ونیسي نور مجاهدین د شراکت حق ورسره نه لري تر څو چي په جنګ کي ورسره شریکان شوي نه وي، ځکه څوک چي په دارالاسلام کي غنیمت ونیسي هغه په نیولو او لاس ته رسولو سره مالک ګرځي او افغانستان تر اوسه لا دار اسلام بلل کیږي.

❖ اته دېرشمه مسأله:

## په بیت المال او غنیمت کي غدر (خیانت کول)

وعن خولة بنت قیس رضی الله عنها قالت: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: ان هذه المال خضرة حلوة فمن اصابه بحقه بورک له فیه ورب متخوض فیماشاءت به نفسه من مال الله ورسوله لیس له یوم القیامة

الاالنار. (رواه الترمذی ،مشکوة المصابیح ج۲، الترجمة للمرقاة ج۷ص۵۸۵)

**ژباړه:** د خولة بنت قیس رضي الله تعالی عنها څخه روایت دی دې و ویل چي ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل چي ویل یې: په تحقیق سره دغه مالونه چي بیت المال دی یا غنیمت دی دا په مثال د شین ګیاه دي ښه خوندکوي او خواږه دي ځکه چي له خوارۍ او تکلیف پرته حاصل شوي دي، نو هر چا که خپل حق وخوړ او انصاف او احتیاط یې پکي وکړ هغه ته به الله تعالی برکت پکي واچوي او ډېر وخت څوک په مال د الله تعالی او د ده د رسول ﷺ کي تجاوز کوي او څه ډول چي یې د طبعیت او نفس خوښه وي هغسي یې استعمالوي نو نشته ده لره په ورځ د قیامت مګر اور د دوزخ، الله تعالی دي ساتنه ځني راکړي.

**تشریح:** رسول الله ﷺ له غلا او خیانت څخه که په غنیمت کي وي او که په بیت المال کي وي ډېره سخته منع کړې ده او د هغه لپاره یې ډېر سخت عذابونه ویلي دي چي د هغو له جملې څخه دغه یو حدیث مو ږ درته وړاندي کړ، د غنیمت د غلا مثال رسول الله ﷺ په سپېڅلي او ستنه سره ویلی دی معنی که دومره لږ شی غلا کړي هغه هم د غنیمت غل بلل کیږي، د یوه صحابي رضي الله تعالی عنه د چوټي بند پرې و ده د غنیمت له ګډه ماله څخه وراخیستی و هغه ته نبي ﷺ و ویل چي تا ته به په دغه ډول د جهنم د اور بند جوړېږي.

دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم قول دی، لکه څرنګه چي دی وایي یقیني دغسي هم ده الله تعالی دي د عمل توفیق راکړي باید موږ خپلو ځانو ته څه نظر وکړو.

دغه مسأله: مي زموږ له معتبرو کتابونو څخه را ایستلې ده او په ټولو کي یې د بیت المال او غنیمت د خیانت مربوط تر دې ډېر شدت بیان کړی دی

❖ نهه دېرشمه مسأله:

## په دارالاسلام او دارالحرب کي په غنيمت کي تصرف کول څه حکم لري؟

فاما اذا تحققت الحاجة والضرورة فلا بأس بان يفعل ذالک في دارالحرب ،بغير ضمان ،وفي دارالاسلام يشترط ضمان النقصان لان عند الضرورة له ان يدفع الضرر عن نفسه بمال الغير بشرط الضمان مع انه لاحق له فيه فلان يکون له ذالک فيماله حق اولی. (مبسوط ج ١٠ ص٢٢)

ژباړه: يو چا که د غنيمت يو شي ته ضرورت پيدا شو هغه يې استعمال او مصرف کړ دا مسأله: په دوه ډوله ده:

**لومړی:**

که يې د غه د غنيمت شی په دارالحرب کي استعمال کړ پر ده يې څه ضمانت نشته ځکه چي په دارالحرب کي څوک د يو شي مالک نه ګرځي، هر کله چي په دارالحرب کي غنيمت نيوونکي د خپل غنيمت مالکان ونه ګرځېدل نو له ګډه غنيمته که مجاهد يو شی د ضرورت له مخي استعمال کړي دی يې ضامن هم نه بلل کيږي.

**دويم:**

که د غه غنيمت په دارالاسلام کي نيول شوی ؤ نو يې بيا د يوه شي مصرفول او استعمال هيچا ته نه دی روا ځکه چي دا مسأله: موږ مکرره واضحه کړې ده چي په دارالسلام کي څرنګه غنيمت ونيول شو بس د غه نيونکي مجاهدين يې مالکان دي بل هيڅوک حق د شراکت نه ورسره لري، په غنيمت نيونکو مجاهدينو کي يې څوک د نورو له اجازي پرته استعمالولای نشي ، که يې يو مجاهد استعمال او مصرف کړي دی يې

ضامن دی هغه نورو ته به یې نقصان ورکوي ځکه چي ده د بل چا شی د یو ضرورت لپاره استعمال کړ چي د اشد ضرورت په وخت کي د هغه ضرورت په اندازه پردی شی ځوک استعمالولای شي ،نو هغه شی چي په هغه کي ستا هم څه برخه وي لکه غنیمت نو هغه خو د یو ضرورت لپاره په طریقه اولي سره استعمالولای شي، خو دا چي د نورو مجاهدینو حق پکي ګډوي نو یې دی په مصرفولو سره ضامن ګرځي.

د دې مسئلی لکه څرنګه چي مورډ مبسوط سرخسي حواله لیکلې ده زموږ د مذهب له نورو ټولو معتبرو کتابونو څخه هم په دغه ډول جوتیږي. د مثال په ډول الهدایة،فتح القدیر،ردمحتار،عالمګیریاوشرح سیرالکبیر ، العینی للهدایة.

## ❖ څلوېښتمه مسأله:

## غنیمت څه وخت په میراث وړل کیږي؟

**ومن مات من الغانمين في دار الحرب فلا حق له في الغنيمة، ومن مات منهم بعد اخراجها الي دار الاسلام فنصيبه لورثته لان الارث يجري في الملك ولا ملك قبل الاحراز وانما الملك بعده.**

(الهداية ج۲ص۲۲۴،وفتح القدیرج۴ص ۳۱۴ ، ،وردمحتار والعالمکیریة وغیرهم)

**ژباړه:** که له غنیمت نیوونکو مجاهدینو څخه یو په دارالحرب کي شهید یا په خپل مرګ مړ شو دغه مجاهد ته په غنیمت کي هیڅ برخه نشته ، که دوی غنیمت دارالاسلام ته رسولی ؤ بیا یو مجاهد مړ شو د ده په غنیمت کي خپله ونډه شته او د ده میراث خواره یې په میراث وړلای شي ځکه چي میراث هغه شی بلل کیږي چي هغه د دې مړده په ملک کي وي او کوم وخت چي غنیمت دارالاسلام ته نه وي رسېدلی ځوک یې مالک نه بلل کیږي، او کله چي دار اسلام ته ورسېدنو هر یو مجاهد د خپلي ونډی مالک بلل کیږي.

**فائده:**

افغانستان اوس دارالاسلام دی، کوم وخت چې مجاهدین څرنګه غنیمت ونیسي دوی یې مالکان دي چې دوی یې مالکان وبلل شول نو له غنیمت نیونکو مجاهدینو څخه که یو مجاهد شهید یا په خپل مرګ مړ شي دی په غنیمت کې د نورو مجاهدینو په څېر پوره ونډه لري، مجاهدین باید هغه د ده ونډه د ده ورثه وو یعني میراث خورو ته ورکړي.

ضروري خبره دا ده چې الحمد لله دا زموږ په وخت کې چې کوم مجاهدین غنیمت ونیسي هغه خپلې ډلګۍ ته د جهادي مصارفو لپاره وربخښي او په دغه بخښنه سره د جهاد ډېري نیمګړتیاوې هم پوره کېږي، خو کوم مجاهد که له غنیمت نیوونکو مجاهدینو څخه په دارالاسلام کې شهید شو د هغه ونډه ضرور باید د ده وورثه ؤ ته ورکړل شي ځکه چې ده خو خپله ونډه نه ده بخښلې نو مجاهدین د ده ونډه بیت المال ته ورکولای نشي.

# د تنفیل باب

شپږ مسئلې مجاهد ته دانعام ورکولو په تشریح کې دي:

### ❖ یو شلو پنځمه مسأله:

نفل هغه شي ته ویل کېږي چې امیر یې و یوه یا ډېرو مجاهدینو ته لپاره پر جنګ د باعث کېدلو په موخه انعام وټاکي.

**ولاخلاف ان التنفيل جائزقبل الاصابة للتحريض على القتال فان الامام مأموربالتحريض قال الله تعالى : ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَرِّضِ ٱلْمُؤْمِنِينَ عَلَى ٱلْقِتَالِ ﴾ فهذالخطاب للرسول الله ﷺ ولكل من قام مقامه ،والتحريض بالتنفيل .**

(شرح سيرالكبيرج٢ ص٥٩٤، وكذافى ردمحتارج٣ ص ٢٦٠ ،وكذابحرالرائق ج٥ص١٥٥، وكذافى المبسوط ج ١٠ص٤٧)

**ژباړه:** په دې خبره کي هيڅ اختلاف نشته چي امير له غنيمت نه پرته يو مجاهد ته انعام ورمعلوم کړي خو دا ټاکنه په دې شرط ده چي د غنيمت له نيولو به مخکي وي ځکه چي د انعام ټاکنه به پر جنګ د باعث کېدلو لپاره وي، نوځکه خوبه تر جګړې او غنيمت نيولو مخکي وي،اوامام او مشر دالله تعالى له خوا ځخه مامور دی چي مجاهدين پر جنګ باندي باعث کړي ، که څه هم په دغه آيت کي خو امر خاص نبي صلى الله عليه وسلم ته دی ، خوله ده څخه وروسته د ده و هر قائم مقام ته دغه امر متوجه دی او باعث کېدل پرجنګ دڅه انعاماتو په ټاکلو او څه امتيازاتو په ورکولو سره هم راځي.

**بېلګــه:** د سيرالکبير له دغه عبارت نه دا معلومه شوه چي هر لوړ اومشر امير او کښته امير چي جها د د الله تعالى د کلمې د اوچتولو لپاره کوي هغه نائب او قائم مقام د نبي صلى الله عليه وسلم دی (الهم اجعلنا منهم).

❖ **دوڅلوېښتمه مسأله:**

## مجاهدته به څه وخت انعام ورکول کېږي ؟

وقال ابوحنيفة (رح) : لانفل بعداحرازالغنيمة وهومذهب اهل العراق والحجاز،لان التنفيل للتحريض على القتال وذالک قبل اصابة لابعدها ،للابطال حق ثابت للغانمين والدليل على انه لايجوزذالک حديث مجاهد(رض) ان رجلاجاء الى رسول الله صلى الله عليه وسلم بکبة من

شعراخذه من المغنم فقال: هب لی هذه ،فقال: امانصیبی منها فلک.

(شرح سیر الکبیر ج ۲ص ۵۹۶،کذافی ردمحتار ج ۳ ص ۲۶۰،وکذافی بحر الرائق ج۵ص۱۵۸، وکذافی الهدایة ج۲ وکذافی المبسوط ج۱۰ص۴۷)

**ژباړه:** امام ابو حنیفة (رح ) ویلي دي چي له غنیمت نیولو څخه وروستها نعام ورکول روا نه دي او دغه مذهب د اهل عراق او حجازهم دی ، دا ځکه چي امیر یو مجاهد ته پر جنګ دباعث کېدلو لپاره انعام ورکوي ،او چي غنیمت ونیول شي او جنګ پای ته ورسیږي نوبیا له انعام ورکولو څخه هیڅ بله فائده نشته مګر یوازي د مجاهدینو او غنیمت نیوونکو حق تلفي ده . د دغه ډول انعام ورکولو دنه روا والي دلیل دغه حدیث دمجاهد رضی الله عنه دی چي رسول الله ﷺ ته یو صحابي راغی یوه دانه جامه د وړیو ورسره وه چي ده له غنیمت څخه را اخیستي وه نو نبي ﷺ ته یې و ویل چي دغه جامه ماته وبخښه، نبي ﷺ ورته و ویل چي په دغه شي کي چي ما ته څومره برخه رسیږي هغه دربخښم او د نورو د غنیمت واک او اختیار نلرم چي تا ته یې درکړم ، بس زموږ لپاره دغه حدیث کفایت کوي که موږ ورته متوجه شو چي امیر که څه هم غټ امیر وي په غنیمت کي د هیڅ ډول تصرف حق نلري تر څو چي هغه غنیمت نیونکي اجازه ورته ونکړي، تر نبي ﷺ خو زیات لوړ بل مشر نه ؤ د هغه دغه عمل ؤ، موږ ته هم د نبي ﷺ پیروي او اطاعت پکار دی.

❖ دروڅلوېښتمه مسأله:

## دانعام په اړه

وکذالک ان قال:ما اصبتم فلکم ولم یقل بعد الخمس فهذ الایجوزلان فیه ابطال الخمس التي اوجبها الله تعالی فی الغنیمة.

(شرح سیر الکبیر ج ۲ص ۶۱۵،وکذافی ردمحتار ج ۳ص ۲۶۴،وبحرالرائق ج۵ص۱۵۶، والهدایة ج۲ص۲۶۷، وفتح القدیر ج۴ ص۳۲۰)

ژباړه: او که مشر او امير و ويل چي کوم غنيمت چي ستا سي لاس ته درغلی دی هغه ستا سي لپاره انعام دی خو خمس يې نه ځني وايستی دا روا نه دی ځکه چي خمس ايستل الله تعالی پر موږ لازم کړی دي ، په دغه انعام ورکولو کي د خمس ابطال راځي ځکه ټول غنيمت مجاهدينو ته په انعام کي ورکول ندی روا لومړی به خمس ځني باسي بيا به انعام ځني ورکوي، که انعام نه وو بيا به يې له خمس څخه وروسته د غنيمت نيونکو تر منځ وېشي.

❖ څلورڅلوېښتمه مسأله:

## امير مجاهدته انعام ورکولای شي

ژباړه: قال امام محمد: کل امير کان فی ارض الحرب يلی سرية اوجند افله ان ينفل منها اصحابه قبل اصابة الغنيمة وهو فی ذالک بمنزلة الامام لانه فوض اليه تدبير القتال والتنفيل من تدبير القتال.

(شرح سير الکبير ج ۲ ص ۶۲۰ ،وکذافی ردمحتار ج ۳ص ۲۶۰)

امام محمد(رح) ويلي دي: هر امير چي په دارالحرب کي وي که د يوې ډلګۍ مشر وي او که د ډېر فوځ مشر وي نو موږی مجاهدينو تهتر غنيمت نيولو له مخه انعام ټاکلی شي ، دغه ډلګۍ مشر يا محاذ مشر په انعام ورکولو او په نورو جهادي چارو کي داسي دی لکه د هغې سيمي د ټولو مسلمانانو مشر ځکه چي دغه قوماندان ته تدبير د جنګ ورسپارل شوی دی نو مجاهد ته انعام ورکول هم د جګړې له تدبير څخه دی.

❖ پنځه څلوېښتمه مسأله:

## مجاهدته انعام ورکول جائز دي

او قال من اصاب شيأ فهوله او قال من اخذ او قال من قتل قتيلا فله سلبه او قال لسرية ما اصبتم فهو لكم و ذالک جائز لانه للتحريض على القتال. ( بدائع الصنائع )

**ژباړه:** که امیر یو مجاهد ته اجازه ورکړي چي څومره شی چي تا غنیمت کړ هغه ستا دی که څه هم دېر غنیمت ده ته په لاس ورشي هغه د ده دی بل څوک پکي حق نه لري ، که امیر یوې خاصي ډلګۍ ته وو ایي چي کوم مال چي تاسي غنیمت کړ هغه ستاسي دی دا هم د دغي ډلګۍ حق دی او ورته روا دی، خو پر امیر شرط شته هغه دا چي امیر یو چا ته ځانګړی انعام ورکوي هغه به د یو شرعی او اسلامي مصلحت پر بنا وي چي تشویقول د مجاهدینو او باعث کېدل پر جهاد وي.

(شرح سيرالكبيرج ٢ ص ٥٩۴، عالمګيرى ج ٢ص ٢١۴،الخانية ج ٣ص ٥۶۶،بدائع الصنائع ج ٧ ص ١٧٠ ،بحرالرائق ج ٥ ص ٩١،ردمحتارج ٣ ص ٢٥٣)

❖ شپږ څلوېښتمه مسأله:

## انعام وړونکی په غنیمت کي هم شریک دی

و ان بقى شئ ممالم يسم له ففيه الخمس فاربعة اخماسه لسائر الغانمين يشترک فيها المتنفل.

**ژباړه:** که امیر یو مجاهد ته د ښې جګړې د کولو یا د جنګ د باعث کېدو په وجه انعام ورکړي دغه مجاهد په باقي غنیمت کي هم خپله پوره ونډه لري. (الخانية ج ٣ص ٥۶۶وشرح سيرالكبيرج٢ص ٥٩۴،بدائع الصنائع ج٧ص ١٧٢)

# صلح يا تړون

صلح دې ته ويل کيږي چي مسلمانان او کافران تړون سره وکړي چي مونږ او تاسي به جګړه نه سره کوو که په دې کي څه نور جزئيات هم پيوند کړي چي هغه شرعي وي او يا يوازي وو ايي چي مونږ به جګړه نه سره کوو.

دصلحي په تشريح کي (۹) مسألې دي:

❖ اوه څلوېښتمه مسأله:

## له کفارو سره څه وخت صلحه جائز ده

قال امام محمد رح: قال ابو حنيفة رح: لاينبغى موادعة اهل الشرک اذاکان بالمسلمين عليهم قوة قال سرخسي رح فى شرحه: لان فيه ترک القتال المامور به او تاخيره ،وذالک ممالاينبغى للاميران يفعله من غير حاجة قال الله تعالى: وَلَا تَهِنُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ) سورة ال عمران )

قال ابو حنيفة رح: وان لم يكن بالمسلمين قوة عليهم فلابأس بالموادعة.

ژباړه: صلح او تړون چي له کافرانو سره روا دی هغه په دې شرط چي مسلمانان به ضعيف وي نو دغه تړون به د دوی لپاره د خلاصون لاره شي ، که مسلمانان قوي وو توان او طاقت يې د جګړې کولو درلود بيا به له کافرانو سره تړون او صلح نه کوي ځکه د کفارو وژل او جنګ کول پر مسلمانانو فرض دی خپلي فريضې ته به ادامه ورکوي. (ومن الله التوفيق)

(بدائع الصنائع ج ۷ص ۱۲۱،وکذافى ردمحتاروکذافى عالمگيرية وکذافى

سیرالکبیرج ۵ص ۱۲۸۹ )

### ❖ اته څلوېښتمه مسأله:

## صلحه هم جهاد بلل کېږي

قال سرخسي رح فی شرحه: لان الموادعة خیر للمسلمین فی هذه الحالة وقد قال عزوجل: (وَاِنْ جَنَحُوْا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ) سورة انفال ،ولان هذا من تدبیر القتال فان علی المقاتل ان یحفظ قوة نفسه اولاثم یطلب العلو والغلبة اذا تمکن من ذالک، قال سرخسی رح: آلاتری ان الصغیر یمص اللبن مالم تنبت الاسنان ثم یمضغ اللحم بعد نبات الاسنان.

**ژباړه:** امام سرخسي (رح) ویلي دي چي د کمزوري په حالت کي د مسلمانانو لپاره صلح کول تر جګړه کولو خیر او فائده ده ځکه چي الله تعالی ویلي دي که کفارو ځان د صلحي کولو لپاره تیار کړ نو یې تاسي هم ورسره وکړئ او پر الله تعالی باندي توکل وکړئ، ځکه چي دغه هم د جګړې له تدبیرونو څخه دی ځکه چي د مجاهد لپاره اول دا ضرور ده چي خپل قوت او طاقت وساتي وروسته له دېنه که یې وس وو بیا به غلبه پر دښمن حاصلوي ځکه چي امام سرخسی (رح) ویلي دي چي تاسي نه ګورئ په ییل کي ماشوم شیدې روي وروسته چي غاښونه یې راشي بیا غوښي ژویي. (شرح سیرالکبیرج ۵ص ۱۲۸۹ )

### ❖ نهه څلوېښتمه مسأله:

## له کفاروسره صلحه څه وخت جائز ده ؟

صلح او تړون له کافرانو سره روا دی خو په دې شرط چي په هغه کي به مقصد د مسلمانانو ګټی او فائدې وي او بل شرط دا دی چي مسلمانان به د

کافرانو په نسبت کمزوري وي او که مسلمانان په قوت کي وو يعني تر کافرانو کمزوري نه وو بيا صلح ورته روا نه ده ، ځکه چي په هر وخت کي مسلمانانو ته د الله تعالی خطاب دی چي له کافرانو سره به جهاد کوئ يا به دوی ستاسي ماتحت وي او جزيه به قبلوي، هغه چي په ځينو کتابونو کي يې د صلح لپاره د مسلمانانو د ضعف پر ځای د مسلمانانو دمصلحتقيد ذکرکړی دی له هغه مصلحت نه هم مقصد دا دی چي که مسلمانان ضعيف وو نو د کفارو سره بيا صلح کولای شي ځکه دا صلح کول به د دوی لپاره د خلاصون او مصلحت يوه لاره شي.

( شرح سير الکبير ج ۵ ص ۱۶۸۹ ،بحر الرائق ج ۵ ص ۷۰ ،هدايه ج ۲ ص ۲۵۷ ،والبنايه ج ۶ ص ۵۱۴)

❖ پنځوسمه مسأله:

## دصلحي ماتول جائز دي

واذارأی الامام ان يصالح اهل الحرب اوفريقامنهم،(الهداية ج۲ص۲۵۷، والبناية ج۶ص ۵۱۴، ثم رأی نقض الصلح انفع نبذ اليهم الامام وقاتلهم. الهداية ج۲ص ۲۵۷)

زموږ د مذهب د ټولو معتبرو کتابونو دغه يو شان عبارت دی چي په صلحه کولو او نه کولو کي او بيرته صلحه ورماتولو او نه ماتولو کي يې د امام قيد ويلی دی معنا دا چي که د امير خوښه وي صلحه به کيږي او که يې خوښه نه وي نو صلحه به نه کيږي او په امان کي يې ويلي دي چي هر مسلمان کافر ته امان ورکولای شي، نو له دغو ټولو عبارتونو څخه دا خبره جوتيږي چي له کفارو سره په صلحه کولو کي د امير اختيار او خوښه ده او کوم چا ته چي امير اختيار ورکړی وي هغه صلحه کولای شي او که امير اجازه نه وي ورته کړې هغه يې نشي کولای او په امان ورکولو کي د امام اجازه نه غواړي

هر مسلمان کافر ته امان ورکولای شي خو که د امیر خوښه نه وه هغه ورکړی امان بیرته ورماتولای شي.

**یادونه:** هغه ډلګۍ مشران چي د مسلمانانو د عامي ټولني له خوا ټاکل شوي نه وي لکه په دې اوس وخت کي بعضي دغسي ډلګۍ مشران شته چي امیرانو نه وي ټاکلي د هغوی تړون له چا سره د هیڅ اعتبار وړنه دی، همدا راز داسي کوچنۍ ټولني هم شته چي هغوی د عامو مجاهدینو د ټولني د مشر تابه له خوا څخه ټاکل شوي نه دي او د هغوی نمائندګي نشي کولای ، د دغو خلکو تړون له کافرانو او د هغوی له نائبانو سره هم د اعتبار وړ نه بلل کیږي.

❖ **یو پنځوستمه مسأله:**

## له کفارو سره په صلحه پیسې اخیستل څه حکم لري؟

واذارأی الامام موادعة اهل الحرب وان یأخذ علی ذالک مالاً فلابأس به امااذااحاط الجیش بهم ثم اخذواالمال فهوغنیمة یخمسهاوتقسم الباقی بینهم لانه ماخوذبالقهرمعنا. (الهدایة)

**ژباړه:** د مجاهدینو مشر کولای شي چي له کافرانو سره تړون او صلح په مال وکړي او له کافرانو څخه مال واخلي، خو که مجاهدینو کفار محاصره کړي وو او د مجاهدینو زور او قهر یې سبب شو بیا دغه مال غنیمت ګرځي او مجاهدینو ته به یې د غنیمت په ډول ور تقسیموي.

**(عالمګیرج ۲ص ۱۹۶ ، هدایه ج ۲ص ۲۵۸، البنایه ج ۶ ص ۵۲۶، بحرالرائق ج ۵ ص ۷۹)**

❖ **دو پنځوسمه مسأله:**

## صلحه دامير تراجازې موقوفه ده

که يو مجاهد د امير يا د امير د نائب له اجازې پرته پخپله له کافرانو سره صلح وکړي روا ده خو د امير تر اجازې به موقوفه وي که هغه د نومورې دا تړون صحيح وباله صحيح ده او که يې رد کړ بيانه دی صحيح ، خو داسي هم نه ده چي که امير نه وو نو به يو مجاهد له کافرانو سره تړون نه کوي، بلکه که په تړون کي د مسلمانانو ديني ګټې او مصلحتونه وو او امير حاضر نه وو يو مجاهد کولای شي چي له کافرانو سره تړون وکړي خو د دې تړون صحت او نه صحت د امير تر اجازه پوري موقوف دی. ( الهدايه ج ۲ ص ۲۵۹ ،والبنايه ج ۶ ص ۵۲۶)

❖ درو پنځوسمه مسأله:

## دکومي صلحي مال غنيمت بلل کيږي ؟

لوحاصرالامام حصنافصالح معهم بالمال فهذ المال غنيمة يقسم على المجاهدين لانه بمنعته.

**ژباړه:** که مسلمانانو کافران محاصره کړي وو او امير په مال صلح ورسره وکړي دغه مال غنيمت بلل کيږي مجاهدينو ته به يې په ونډه کي ورکوي ځکه چي دغه مال په قوت او زور د مجاهدينو سره لاس ته راغلی دی ، که مجاهدينو کافران نه وو محاصره کړي بيا امير صلح په مال ورسره وکړه دغه مال به امير داسي مصرفوي لکه جزيه يا خراج يعني مسکينانو ،يتيمانو ،بې وزلو مسلمانانو ته به يې ورکوي ځکه چي دغه مال په غلبه او قوت د عامو مسلمانانو سره لاس ته راغلی دی نو دا فئ بلل کيږي د فئ اختيار د مسلمانانو دامام دی خو هغه به مستحقينو ته ګوري. البته داخبره يا د ساتل پکار دي چي مسلمانان به په مال سره صلح د خپل ټول توان

تر سرحده پوري نه کوي ځکه دا ډول تړونونه د مسلمانانو د بې غيرتيا او طمع ښکاره دليل دی، مګر په هغه وخت کي چي د مسلمانانو ډېر سخت مالي ضرورت وي بيا د مسلمانانو مشر ته روا ده چي له کافرانو سره په مال صلح وکړي خو د اسلام سر ټيټي به نه پکي راځي.

( بدائع الصنائع ج ۷ص ۱۶۱ ،هدايه ج ۲ ص ۲۵۷، بنايه ج ۶ ص ۵۱۹، ردمحتارج ۳ ص ۲۴۷، مبسوط ج ۱۰ ص ۸۸،بحرالرائق ج ۵ ص ۷۹ شرح سيرالکبير ج ۲ ص ۶۰۹)

❖ څلورپنځوسمه مسأله:

## دمغلوبيت په وخت کي صلحه کول

که کافرانو مسلمانان محاصره يا مغلوبه کړي وو په دې حال کي که کافرانو له مسلمانانو څخه غوښتنه د مال وکړه او صلح يې په مال ورسره کوله لومړی خو بايد مسلمانان دا صلح ونه کړي ځکه چي په دې صلح کي د مسلمانانو او اسلام ذلت راځي مګر په هغه وخت کي چي مسلمانان ډېر مجبور شي او بله هيڅ چاره نه وي او د صلح په نه کولو کي د مسلمانانو ښکاره هلاکت راځي نو د مسلمانانو مشر ته اجازه شته چي له کافرانو سره صلح په مال وکړي ځکه چي له هلاکته څخه د ځان او نورو مسلمانانو ژغورل د امير فريضه ده ، که څه هم په ډېرو ګرانو شرطونو سره وي د مسلمانانو مشر بايد ځان او مسلمانان له هلاکته خلاص کړي ، دا سي نه وي چي د صلح په نه کولو سره مسلمانانو او اسلام ته تر دې لوی زيان ورسيږي ( واذامروابالغومرواکراما ). (شرح سيرالکبيرج ۵ ص ۱۶۹۲ ،ردمحتارج ۳ ص ۲۴۷، هدايه ج ۲ ص ۲۵۸، بنايه ج ۶ ص ۵۲۰ ، بحرالرائق ج ۵ ص

۷۹،مبسوط ج ۱۰ ص ۸۷، والعنایه )

په مبسوط نومي کتاب کي یې د دغي صلح لپاره د خندق د غزا واقعه نقل کړې ده چي کافرانو صحابه کرام رضي الله عنهم محاصره کړي وو بیا نبي کریم ﷺ له دوی سره صلح په مال اعلان کړه او ورته وې ویل چي د مدینې منورې د باغونو او کښتونو چي څومره حاصلات وي هغه به نیم تاسو ته درکوو تاسي به له موږ سره اوربند کوئ، هغوی ورته و ویل چي نه موږ ته به دریې برخي د حاصلاتو راکوئ که نه موږ صلح نه کوو.

**وفي رواية ارسل عيينة الي النبي ﷺ تعطينا ثمر المدينة هذه السنة ونرجع عنك ونخلي بينك وبين قومك فتقاتلهم فقال رسول الله ﷺ لا، قال: فنصف الثمر، فقال نعم ،ثم ارسل رسول الله ﷺ الي سعد بن معاذ وسعد بن عبادة رضي الله عنهما، وهما سيد االحيين فاستشارهم وقد حضر عيينة وقال: اكتب بيننا كتابا، فدعا رسول الله ﷺ بصحيفة ودواة ليكتب بينهم، فقالا: يارسول الله! احي اليك في هذا؟ فقال: لا، ولكني رايت العرب قد رمتكم عن قوس واحدة، فقلت: اردهم عنكم، فقالا: يارسول الله! والله انهم كانوا الياكلون (العلهز) في الجاهلية من الجهد، وماطعموا مناقط ان يأخذوا ثمرة الابشري اوقري فحين ايدنا الله تعالي بك واكرمنا وهدانا بك نعطي الدنية، لانعطيهم الا السيف فشق رسول الله ﷺ الصحيفة وقال: اذهبوا، لانعطيكم الا السيف، واقبل أُسيد بن الحضير، وعيينة عند النبي ﷺ مادا رجليه، فقال: ياعيينة (الهجرس) اقبض رجليك اتمد رجليك بين يدي رسول الله ﷺ، والله لولا رسول الله ﷺ لانفذن خصيتيك بالرمح متي طعمت هذا منا؟ ففي هذا الحديث بيان ان عند الضعف لابأس بهذه الموادعة فقد رغب فيها رسول الله ﷺ حين احس بالمسلمين ضعفا، وعند القوة لاتجوز هذا الموادعة فانه لماقالت الانصار ماقالت علم رسول الله ﷺ منهم القوة فشق الصحيفة.**

(سیر الکبیر للامام محمدبن الحسن الشیبانی رحمه الله . ج ۵ ص ۱۶۹۳)

**ژباړه:** په بل روایت کي راغلي دي چي عینه و نبي صلی الله علیه

وسلم ته يو ځوک ور ولېږيچي موږ له تا سره صلحه کوو خو ته به د مدينې منورې د سږ کال حاصلات ټول راکوې موږ به تاسي او قريش خپل جنګ ته سره پرېږدو د يوه طرف ملګرتيا هم نه کوو.

رسول الله ﷺ ورته و ويل: چي يا ،عينه و ويل چي بيا نيمی حاصلات د مدينې راکړئ نبي ﷺ ورته و ويل: چي صحيح ده د مدينې د حاصلاتو نيمايي به درکوو ،نو نبي ﷺ سعد بن معاذ رضي الله تعالى او سعد بن عبادة رضي الله عنه ته چي هر يو د يوه کلي مشر وو ځوک ورولېږی چي دا فيصلې ته راشئ دوی دوه هم راغلل او عيينه هم حاضر شو، عيينه و ويل چي زموږ او ستاسي تر منځ به يو خط وي ، نو نبي ﷺ کاغذ اورنګ راوغوښت چي په دغه فيصله کي تر منځ خط وليکل شي دغو دوو مشرانو صحابه کرامو پوښتنه وکړه چي يا رسول الله ﷺ !چي تا ته وحي شوې ده چي په دې ډول فيصله کوې؟ نبي ﷺ ورته و ويل: چي يا وحي نه ده راته شوې خو زه وينم چي ټولو عربو تاسي ته اتفاق کړی دی او ټول کفار له يوې ليندۍ ځخه تاسي ولي نو زه غواړم چي له دې مشکله ځخه تاسي خلاص کړم ، دغو دوو مشرانو صحابه کرامو ورته و ويل: چي يا زموږ دي قسم په الله تعالى وي چي دغو کفارو له مخه د ډېري مجبورتيا له کبله مرداري خوړلي خو دوی زموږ د باغونو ميوې بې له قيمته نه دي خوړلې نو اوس چي الله تعالى زموږ تائيد او ټينګښت او هداية او اکرام په تاسره وکړ اوس به موږ دوی ته ججه ورکوو ،موږ نه ورکوو دوی ته مګر(تُوره ) يعني جنګ ورسره کوو ، نو نبي ﷺ دستي دا کاغذ ځيري کړ او وې ويل: چي ځئ موږ تاسی ته نه درکوو مګر توره په دې وخت کي اسيد بن الحضير رضي الله عنه راغلی چي عيينه د نبي ﷺ مخته پښې غځولې وې ، اسيد رضي الله عنه ورته و ويل ګيدړه ! پښې در ټولي کړه تا د نبي ﷺ مخته پښې غځولې دي، زما دي قسم په الله تعالى وي که رسول الله ﷺ نه وای ما به ستا خايي په نيزه درکښلې وای ستا ځرنګه پر موږ د کمزورو خيال راغلی دی چي دا ډول بې ادبي دي وکړه.

امام محمد(رح) وايي چي په دغه حديث کي دا ثابته شوه چي په وخت د ضعف د مسلمانانو کي له کفارو سره صلحه روا ده که څه هم له مسلمانانو څخه پيسې غواړي، ځکه چي کوم وخت نبي ﷺ د مسلمانانو ضعف وليد نو يې د کفارو سره صلحه پيل کړه او په وخت د قوت د مسلمانانو کي بيا له کفارو سره صلحه روا نه ده ، ځکه کله چي نبي ﷺ د دغو دوو انصارو صحابه کرامو د شجاعت او دلاوري خبري واورېدې نو پوه شو چي مسلمانان قوي دي جنګ کولای شي نو يې سمدستي دغه کاغذ د صلحي څيري کړ او جنګ يې پيل کړ او په اخېرکي يې کاميابي هم تر لاسه کړه، دغي واقعي ته ستاسي خاص توجه غواړم.

❖ پنځه پنځوسمه مسأله:

## تړون ماتول جائز دی

که چېرته مسلمانانو له کافرانو سره صلح وکړه او يو معلومه نېټه يې ورته وټاکله نو بيا مسلمانانو ته مناسب او لازمه ده چي په وعده وفا ورسره وکړي، ځکه چي داسي نه چي مسلمانانو ته د غدر نسبت وشي ، مګر که د مسلمانانو د تړون په ماتولو کي غېټه ګټه وه بيا دي تړون ورسره مات کړي لکه په دغه آيت کريمه کي چي راغلي دي: فَانۢبِذۡ اِلَيۡهِمۡ عَلٰى سَوَآءٍ ؕ سورة انفال **۵۸** )

**ژباړه:** ته تړون او صلح ورسره ما ته کړه په انصاف سره يعني دوی خبر کړه چي زه نور له تاسو سره صلح نه کوم، خو په دې شرط چي کفار به د صلحي په ماتولو خبر وي چي نور موږ صلح ماتوو تر څو چي هغو کافرانو ته چي مسلمانانو صلح ورسره کړې وي د صلح ماتولو خبر نه وي رسېدلی مسلمانان به د جګړې تياری نه ورته کوي. **(شرح سيرالکبيرج ۱ ص ۲۶۴ ،مبسوط ج ۱۰ ص ۸۶ ، بنايه ج ۶ ص ۵۱۶ ، ردمحتارج ۳ ص ۲۴۷ ،بحرج ۵ ص ۷۹)**

❖ شپږ پنځوستمه مسأله:

## په دار الحرب کي حدودنه قايمېږي

ان المسلم اذا ارتکب شیئا من الاسباب الموجبة للعقوبة في دار الحرب فانه لایکون به مستوجبا للعقوبة، ولو ارتکب ذالك في العسکر فلیس لامیر السریة ان یقیم علیه الحد ایضا، الا ان یکون الخلیفة غزا بنفسه، کما نقل عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه فیه. (شرح سیر الکبیر ج۵ ص۱۸۵۱)

**ژباړه:** په تحقيق سره که مسلمان په دارالحرب کي يو داسي کار وکړي چي د هغه کار په کولو سره نو موړی د حد مستحق ګرځي نو حد نه پرې جاري کيږي ځکه چي حدود جاري کول د حکومت کار دی، حد په فيصله او قضاء د قاضي سره جاري کيږي، په دارالحرب کي نه اسلامي حکومت شته نه قاضي شته، که په عسکرو کي يو عسکر داسي کار وکړ چي د هغه په کولو سره دی مستحق د حد ګرځېد نو که خليفه يا د هغه ځايناستی هلته موجود ؤ بيا حد ورکولای شي او که هغه نه ؤ دلګۍ مشر يا ولسوال او والي هغه ته حد نشي ورکولای.

❖ اوه پنځوسمه مسأله:

## له کفارو څخه په جنګ کي مرسته غوښتل

والذی روی ان النبی صلی الله علیه وسلم یوم احد رای کتیبة حسناء قال: من هؤلاء فقیل: یهود بنی فلان، حلفاء ابن ابی، فقال: انا لانستعین بمن لیس علی دیننا، تأویله انهم کانوا اهل منعة وکانوا لایقاتلون تحت رایة رسول الله صلی الله علیه وسلم وعندنا اذا کانو بهذه الصفة فانه یکره

الاستعانة بهم. ( شرح سير الكبير ج ۴ ص ۱۴۲۳)

**ژباړه:** هغه خبره چي روايت راغلی دی چي په تحقيق سره نبي صلی الله عليه وسلم د اُحد په ورځ يوه ټولۍ وليده چي برابره وه، ده وويل چي دغه څوک دي؟ يوچاورته وويل چي دايهود دي،نبي صلی الله عليه وسلم وويل چي موږ کومک نه غواړو له هغه چا چي زموږ په دين نه وي.

د دې خبري مطلب دا دی چي دغه د يهودو ټولۍ په زور کي وه د نبي صلی الله عليه وسلم تر بيرغ لاندي يې کار نه کاوه، که کفارو د مسلمانانو تر بيرغ لاندي جنګ او کار نه کاوه بيا له دوی څخه کومک غوښتل زموږ په مذهب روا نه دی او که چېرته يې د مسلمانانو تر بيرغ لاندي کار کاوه مطلب دا چي فائده او وروستۍ ګټه د مسلمانانو وه اود کفارو کومه غوښتنه او ګټه نه تر سره کېده بيا له دوی څخه کومک غوښتل روا دي.

# امن او امان

## ❖ امان يا امن ورکول څه ته ويل کېږي؟

امان دې ته ويل کېږي چي يو کافر يا ډېر سره د خپلي کورنۍ او ماله يا بې له دغو نه د مسلمانانو څخه امن او ځان ساتنه وغواړي چي زه ستاسي هيواد ته درځم يا په جګړه کي کافران امان (ځان ساتنه ) وغواړي او مسلمانان يې قبول کړي او يا يو مسلمان د کافر څخه په هم دغه ډول امان (ځان ساتنه ) وغواړي او هغه يې ورکړي.

## د امان غوښتلو رکن ،شرائط،او حکم څه دي؟

**لومړی:**

د امان لومړنی رکن دا دی چي کافر امان (ځان ساتنه ) له مسلمان څخه وغواړي او مسلمان امان ورکړي رکن د شي هغه بلل کیږي چي د هغه شي وجود پرې موقوف وي، د مثال په ډول لکه څوک چي نکاح تړي د نکاح رکن دا دی چي ښځه نر ته ووایي چي ما ځان په نکاح درکړی دی او نارینه یې قبوله کړي، نو په دغو الفاظو سره نکاح د دوی دووو تر منځ راځي او که دغه الفاظ ونه ویل شي بیا نکاح وجود نشي پیدا کولای، نو که کافر امان و نه غواړي او یا مسلمان امان ور نه کړي هسي د کافر راتګ امان نه بلل کیږي.

**دویم:** د امان پنځه شرطونه دي:

(۱) مسلمان چي کافر ته امان ورکوي په دې کي به یوازي او یوازي د مسلمانانو مصلحت، مذهبی او اسلامي ګټي وي، که دغه ګټي او مصلحت نه وي باید مسلمان و کافر ته امان ور نه کړي.

(۲) کله چي کافر د مسلمانانو هیواد ته په امان راشي دی به محکوم او ذلیل وي، داسي نه چي هغه دي پر مسلمانانو برلاسیتوب ولري او مسلمانان ورته مغلوب شي.

(۳) مسلمانان چي شرطونه وربانديي کېږدي هغه به مني، د مثال په ډول چي ته به د حربي (جنګ کوونکي ) کافر مرسته نه کوې او یا به کافرانو ته د مسلمانانو جاسوسي نه کوې او یا ورته ووایي چي کوم اسلامي حدود دي له هغو نه به تېری او تجاوز نه کوې او داسي نور.

(۴) مسلمانان به دا واک لري چي کله وغواړي نو د دوی او د کافرانو تر منځ د امان تړون ماتولای شي.

(۵) مسلمان چي کافر ته امان هم ورکړي خو کافر له دې امانه سره د مسلمانانو په هیواد کي تر یوه کال زیات وخت نشي تېرولای، که دغه کافر بیا هم تر کال زیات وخت تېرول وغواړي دی به ضرور جزیه قبلوي او که جزیه

هم قبولهنه کړي نو بيا دی د مسلمانانو لپاره فئ يا غنيمت ګرځي. او حکم د امان دا دی چي کوم وخت د کافر امان صحيح شي نوله همدې کافر سره به داسي چلند کيږي لکه د يوه مسلمانه سره چي وي هغه له امان وروسته د ټولو حقوقو حقدار بلل کيږي.

**تبصره:**

**درنو لوستونکو**! څه موده وړاندي د کرزي د غلامي ادارې يوه غربي لاس پوڅي عالم په داسي حال کي چي د صليبيانو راتګ يې افغانستان ته توجيه کولو، و ويل: چي صليبيان افغانستان ته په امان راغلي دي نو تاسو خو اوس د حنفي مذهب په رڼا کي د امان شرطونه ولوستل، اوس موږ قضاوت تاسو ته پرېږدو چي آيا دا امريکايان او د هغوی کفري ملګري مستأمنين دي او که د افغانستان واکداران؟ آيا په پورتنيو شرائطو کي يو هم موجود شوی دی او که هسي د خلکو په سترګو کي خاوري شيندل دي؟ او کوم د امان رکن او شرطونه او حکم چي مو درته بيان کړی دی دا شخصي نظر نه دی بلکه زموږ د مذهب له دغو معتمدو کتابونو څخه را اخيستل شوي دی. (عالمګيريه ج۲ص۲۳۴، بحرالرائق ج۵ص۱۷۰، بدائع الصنائع ج۷ص۱۵۹ ،ردمحتارج۳ص۲۷۲، الهداية ج۲ص۲۷۹، فتح القديرج۴ص۳۵۱، البناية ج۶ص۶۲۴ ،سيرالکبيرج۱ص۲۵۲، مبسوط ج۱۰ص۱۳۶، مرقات المفاتيح ج۷ص۵۳۶)

د امان لپاره د هري ژبي خپله اصطلاح او خپل- خپل الفاظ دي خو د امان الفاظ په عربي ژبه کي په لاندي ډول دي چي کافران امان وغواړي او مسلمان ورته ووايي (لاتخف ) ته مه وېرېږه (انت آمن ) ته په امن يې (لابأس عليک ) پر تا هيڅ شی نشته (لک امان الله ) تا ته امان د خدای دی (لک عهد الله ) تا ته وعده د خدای ده (لک ذمة الله ) تا ته ذمه د خدای ده (تعال تسمع کلام الله ) راشه خبره د خدای واوره (اجرناک ) موږ به اجر درکړو. (شرح سير الکبير ج ۱ ص ۲۸۴ ،بحر الرائق ج ۵ ص ۸۰)

دامان په تشریح کي (۱۵) مسئلې دي:

### ❖ اته پنځوسمه مسأله:

## دامان په اړه مهم اصل

**واذا استعان قوم من اهل البغي بقوم من اهل الحرب علي قتال اهل العدل وقاتلوهم فظهر عليهم اهل العدل قال يسبي اهل الحرب وليست استعانة اهل البغي بهم بامان لهم لان المستأمن يدخل دار الاسلام تاركا للحرب وهؤلاء مادخلوا دار الاسلام الا ليقاتلوا المسلمين من اهل العدل فعرفنا انهم غير مستأمنين، لان المستأمنين لو تجمعوا اوقصدوا اقتال المسلمين وناجزوهم كان ذالك منهم نقضا للامان فلان يكون هذا المعني مانعا لثبوت الامان في الابتدا أولي الخ،**

ان موادعة اهل البغى وان كان عاملة فى حق اهل العدل فهم بالقصد الى مال اهل العدل صاروا ناقضين لتلك الموادعة والتحقوا بمن لاموادعة لهم من اهل الحرب. (مبسوط ج ۱۰ ص ۱۳۶)

**ژباړه:** کوم وخت چي باغيان دعادلو مسلمانانو پرضد له کفارو څخه په جنګ کي مرسته وغواړي او دغه کفار له عادلو مسلمانانو سره جنګ هم وکړي ليکن مسلمانان په جنګ کي بريالي شول (ديسبي) څخه مراد دا دى چي مسلمانان دغه کفار هم وژلای شي او هم يې مريان کولای شي او هم يې مالونه غنيمت کولای شي او کومک غوښتل د باغيانو له کفارو څخه امان نه بلل کيږي، ځکه چي امان غوښتونکيچي دارالاسلام ته ځي له د ښه هدف او مراد دا دى چي دى به له مسلمانانو سره جنګ نه کوي او دغه دباغيانو مرسته کونکي کفار دارالاسلام ته نه دي داخل شوي مګر لپاره دجنګ پر هغو عادلو مسلمانانو باندي نوددوى له جنګ کولو څخه موږ پوه شوو چي

دوی لپاره دامان نه دي راغلي اوبل له دې وجهي دوی مستأمنين نه بلل کيږي کوم کفار چي له مسلمانانو څخه امان وغواړي او مسلمانان امان ور کړي خو له امان نه وروسته دغه کفار له مسلمانانو سره په جنګ لاس پوري کړي دغه د دوی صحيح او واقعي امان په دغه جنګ کولو سره ماتيږي، نو څه معنی چي له اوله سره دوی د باغيانو د مرستي لپاره په جنګ سره راشي، دا خو په طريقه اولی سره (مستامنين ) امان غوښتونکي نه بلل کيږي.

او په تحقيق سره (موادعة ) او صلح کول د باغيانو له کفارو سره دا به پر عامو مسلمانانو هم تحمليږي هغوی به يې هم مني ليکن کوم وخت چي دغه کفار پر دغو عادلو مسلمانانو باندي تېری وکړي بيا هغه صلح ماته ده پر عادلو مسلمانانو نه تحمليږي، ځکه چي کفارو تېری وکړ دوی په وجه د ماتولو د امان او يا د صلح داسي ګرځي لکه هغه کفار چي له سره يې له مسلمانانو څخه نه امان او نه صلحه غوښتي وي، د دغو کفارو خو هم وژل او هم بندي کول او هم يې مال غنيمت کول روا دی، دغه کفار چي باغيانو امان ورکړی دی يا يې صلح ورسره کړې ده دوی دغه امان او صلحه په جنګ کولو سره ماته کړه نو دوی په دې ډول دي لکه نور عام کفار له هغو سره چي څه کېدل له دوی سره به هم هغه کيږي.

❖ **نهه پنځوستمه مسأله:**

## دامان ورکولو صلاحيت څوک لري؟

په امان کي لومړی دا شرط دی چي کافر ته هغه مسلمان امان ورکولای شي چي هغه د کافر په مقابل کي د جګړې توان او صلاحيت ولري په جګړه اخته مجاهد وي او که نه وي، دويم دا شرط دی چي مسلمانان به ضعيف وي بيا به کافر ته امان ورکوي او نور عام مسلمانان که يو کافر ته اما ن ورکړي

هغه امان د یو مصلحت پر بنا د مجاهدینو مشر بیرته ور ماتولای شي.
(هدایه ج ۲ ص ۲۵۹،والبنایه ج ۶ ص۵۲۴ ،ردمحتارج ۳ص ۲۴۸،بدائع الصنائع ج ۷ص ۱۵۷، ۱۵۸)

❖ شپېتمه مسأله:

## تسلیم شوي کافر ته تاوان رسول

که یو مجاهد یوه یا ډېرو کافرانو ته امان ورکړ نور مسلمانان په دغه تسلمېدو او امان خبر نه وو دغه کافر یې وواژه او یا یې مال ور څخه یوړ وروسته خبر شول چې نوموړی ته مجاهدینو امان ورکړی دی دغه وژل داسي دي لکه یو مسلمان چې بل مسلمان په خطا سره ووژني، نو د دغه کافر د وژلو په خاطر به پور او دیت ورکوي لکه د مسلمان په خطا مرګ کي چې دیت لازم دی، لکه په دې آیت کریمه کي چې راغلي دي:

(وَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍۢ بَيْنَكُمْ وَ بَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖ)

**ژباړه:** که تاسي په خطا سره وواژه یو څوک له هغه قوم څخه چې ستاسي او د هغو تر منځ یو تعاهد وو نو به د هغوو کورنۍ ته دیت ورکوئ.
(عالمګیری ج ۲ ص ۱۹۸،شرح سیرالکبیرج ۱ ص ۲۵۸،والهدایة ج۲ص ۲۸۲)

❖ یو شپېتمه مسأله:

## ایا امان ماتول جائز دي؟

که دښمن په داسي ځای کي وو چې د مجاهدینو توان نه ور رسېده یعنی په خپلو مورچو کي وو او په زور کي وو نو له دغه ځایه څخه یو دښمن د تسلیم نږغ وکړ چې زه تسلیم یم او د مورچي څخه راښکته هم شو بس دغه

امان بلل کیږي، د هو او یا ویلو ته اعتبار نشته ځکه چې نو موړی په داسي وخت کي د تسلیم ږغ وکړچې په قوت کي وونودغه یې دربنتیا اوصداقت تسلېمدل دي اوکه د مسلمانانو دغه امان خوښ نهٔ نو دغه کافر دي بیرته خپل موقیت ته رد کړي تر څو چي دی خپل موقیت ته نه وي رسېدلی مسلمانان به پر ده یو ډول تعرض نه کوي، که دښمن د ضعف په حال کي وو بیا یو کافر له خپلي مورچي څخه دغه ډول ږغ وکړ که مسلمانو تسلیم کړ او امان یې ورکړ صحیح دی او که یې نه کړ تسلیم او امان یې ور نکړ بیا دا تسلیم نه دی ځکه چي د ده حال د مغلوبیت دی.

(ردمحتارج ۳ ص ۲۴۸ ،شرح سیرالکبیرج ۱ ص ۳۵۱، بحرالرائق ج۵ص ۸۰)

❖ دوشپېتمه مسأله:

## کوم ډول راتگ امان بلل کېږي؟

که دښمن له خپلي مورچي څخه رابنکته شوی ؤ مسلمانانو نه و لیدلی چي رانژدې سو د تسلیم ږغ یې وکړ اوس نو د ده دوه حالہ دي، یو دا چي کلاشنکوف ته مرمۍ ور ولي د حملې کولو په حالت کي ؤ په دغه وخت کي مسلمانانو ته دواړي خواوي روا دي که یې وژني او که یې تسلیموي، که ده په دغه وخت کي چي د تسلیم ږغ یې وکړ ځان یې جگړې ته نه چمتو کاوه او د جگړې کولو په حالت کي نه ؤ بیا په دغه هسي ږغ کولو سره تسلیم دی که چا وواژه مسئول دی، که د مسلمانانو دغه د ده امان خوښ نه وي بیرته دي دی خپل ځای ته ستون کړي خو دلته به پر ده یو ډول تعارض نه کوي. (شرح سیرالکبیرج ۱ ص ۲۹۲ ،ردمحتارج ۳ ص ۲۴۸ ،بحرالرائق ج ۵ص ۸۰)

❖ درو شپېتمه مسأله:

## که مسلمان په دارالحرب کي اسیر شي ؟

که یو مسلمان دارالحرب ته بې له امانه ورغلی کفارو ونیوی او س که دا مسلمان څه د چل او فریب الفاظ ورته ووایي ځان ځني خلاص کړي، د مثال په ډول ورته ووایي چي زه خو ستاسی په څېر یو سړی یم یعنی مراد یې دا وي چي زه خو ستاسی په ډول یو انسان یم دا یې مراد نه و چي زه ستاسي په ډول کافر یم بیا پر دوی تعرض وکړي دوی ته مرګ ژوبله ور واړوي یا مال ورڅخه غنیمت کړي دا د دغه مسلمان له خوا څخه غدر نه بلل کیږي ، که په امان ورغلی و بیا یې هم دا راز چلند وکړ دا غدر بلل کیږي ځکه چي ده امان اخستی دی. ( شرح سیر الکبیر ج ۱ ص ۲۶۶)

❖ څلورشپېتمه مسأله:

## دصلحي په شان دامان ماتول هم جائز دی

لکه څرنګه چي د صلح ماتول روا و د دغه ایت په مضمون سره: (فَانۢبِذۡ اِلَيۡهِمۡ عَلٰى سَوَآءٍ) (سورة انفال ۵۸)ژباړه: ته صلح ور ماته کړه اې نبي ! په انصاف سره یعنی دوی خبر کړه غدر او چل مه ورسره کوه،دغه راز د امان ماتول هم روا دي په هغو شرطونو سره چي په صلح کي وو ، بل دا چي دغه کافر به بیرته خپل ځای ته رسیږي هسي نه چي مخکي تر رسېدو یې څوک ووژني دا بیا غدر بلل کیږي. ( شرح سیر الکبیر ج ۱ ص ۲۶۴،بدائع الصنائع ج ۷ص ۱۵۹،بحر الرائق ج ۵ ص ۷۹، والهدایة ج ۲ )

❖ پنځه شپېتمه مسأله:

## په امان کي شرطونه ښودل

که مسلمانانو پر کافرانو په امان کي شرطونه کېښودل د مثال په ډول ورته ویې ویل چي موږ ته به څه لار ښووني کوئ یا به دا فلانی سړی په لاس

راکوئ یا نور داسی شرطونه، که کافرانو دغه شرطونه پر ځای نه کړل مسلمانانو ته یې وژل او پرېښودل دواړه روا دي. (شرح سیرکبیرج ۱ ص ۲۷۸)

### ❖ شپږ شپېتمه مسأله:

## دامان غږ ورکول امان دی

که مسلمانانو کافرانو ته ور رېغکړ چي تاسو په امان یاست هغوی دغه د مسلمانانو رږغ واورېد خو دغه الفاظ چي مسلمانانو ورته و ویل د دغو کافرانو ژبه نه وه بله ژبه وه، کافران راښکته شول بس دغه امان صحیح دی مسلمانان نشي ورته ویلای چي دغه الفاظ خو ستاسی په ژبه نه دي درته ویل شوي تاسی خونه پرې پوهېدئ، که یې چېرته ووژني مسلمانان مسئول دي دا غدر بلل کیږي، ځکه چي کوم وخت مسلمانانو د امان رږغ ورته وکړ د دوی اراده د امان ورکولو وه او که کافرانو دغه رږغ نه واورېد بیا امان نه بلل کیږي.

(شرح سیرالکبیرج ۱ ص ۲۸۳،بحرالرائق ج ۵ص ۸۰)

### ❖ اوه شپېتمه مسأله:

## باغي او مرتد ته هم امان جائز دی

لکه څرنګه چي امان کافرانو ته روا دی همدا راز مرتد او باغي ته هم امان ورکول روا دي، خو یو ضروري شرط دا دی چي د دغو دوو ډلو له خلکو څخه به د امان په بدل کي مال نه اخلي ځکه د امان په بدل کي چي کافر مجاهدینو ته کوم مال ورکوي هغه حکم د جزیې لري او له مرتد او باغي څخه جزیه اخیستل روا نه دي . (بدائع الصنائع ج ۷ ص ۱۶۲،بحرالرائق ج ۵ص ۸۰،فتح القدیرج ۴ص ۴۱۶ ، بنایه شرح هدایه ج ۶ ص ۵۲۰،هدایه ج ۲ ،ردمحتارج ۳ ص ۳۴۱)

❖ اته شپېتمه مسأله:

## یوتن مجاهد امان ورکولای شي؟

یو تن مجاهد کافر ته په خپل صلاحیت سره امن ورکولای شي چي دا امـــن د یـــوه مجاهـــد روا او صـــحیح هـــم دی. (شـــرح ســـیرالکبیرج ۲ ص ۵۰۲،بحرالرائق ج ۵ص ۸۱)

❖ نه شپېتمه مسأله:

## کافر ته تسلیمېدل څه حکم لري؟

که یو مجاهد محاصره شو له دوو شیانو څخه یوه ته مجبور کړل شو، لومړی چي که له دښمن سره جګړه وکړي دی به ضرور پکي هلاکیږي او یو په سلو کي هم د ژوندي پاته کېدو احتمال یې نه وي. دویم دا چي دغه مسلمان ځان کافرانو ته ور وسپاري او اسلحه په ځمکه کیږدي خپل ژوند یو غنیمت وګڼي، له مرګ څخه ځان وژغوري د دې دویم صورت غوره کېدل هم ور ته روادي. (رد محتارج ۳ ص ۲۴۲)

❖ اویایمه مسأله:

## په جهاد کي دعلماؤ وتل ضروري دي

یو فقیه عالم چي تر ده په دې سیمه کي بل اوچت عالم نه وي دې عالم ته نه ده مناسب چي جهاد ته ووځي، ځکه چي د ده په نیستي سره داسی خلا راځي چي هغه بیا په بل عالم سره نه ډکیږي، نورو عامو علماء کرامو ته مناسب ده چي په جهاد کي ووځي او مجاهدینو ته جهادي او اخلاقي لار

ښوونې وکړي دا صفونه دي عامو خلکو ته نه پرېږدي، خدای مه کړه داسې و نه شي چې جهاد د جهاد پر ضد استعمال شي، په ردمحتار کې يې دا خبره په دې ډول تشريح کړې ده چې دغه مسأله :په هغه وخت کې ده چې جهاد فرض کفايي وي او که جهاد فرض عين و بيا خو به هر څوک وځي بيا دغسې کسانو ته هم د پاتې کېدو اجازه نشته. (بحرالرائق ج ۵ ص ۷۲،عالمگيری ج ۲ ص ۱۹۰،ردمحتارج ۳ ص ۲۲۱)

❖ يو اويايمه مسأله:

## يوتن مجاهد يوائې په کافرانوحمله کولای شي

که يو سر تېري مجاهد د کافرانو پر ټولۍ حمله وکړه دغه مسأله پر دوه ډوله وېشل کيږي:

**لومړی:** که دغه مجاهد سل په سل کې دا خيال ؤچې زه پر دغو کافرانو چې حمله کوم په دوی کې هرو مرو مرګ ژوبله راوستلای شم خو زه هم پکې له منځه ځم، بيا دا حمله کول ورته روا ده او دغه د ځان هلاکت نه بلل کيږي، ځکه چې کفارو ته هم زيان رسولای شي.

**دويم :** که د دغه مجاهد دا خيال ؤچې زه پر دغو کافرانو حمله کوم او دوی ته هيڅ مرګ ژوبله نشم اړولای خو زه پکې مرم بيا مجاهد ته دغه حمله کول روا نه دي. ( ردمحتارج ۳ ص ۲۴۳،شرح سيرالکبيرج ۱ ص ۱۶۳،قاضی خان ج ۳ ص ۵۶۰،مبسوط ج ۱۰ ص ۷۶،عالمگيرج ۵ ص ۳۵۳)

**بېلګه**: لکه د احد په غزا کې چې مسلمانان کمزوري شول او ميدان يې خالي کړ او نبي کريم ﷺ د جګړې پر ميدان ودرېدی څه صحابه کرام هم ورسره پاتې وو، په دې وخت کې يوه ټولۍ د يهودو تېرېدله نبي کريم ﷺ وليده پوښتنه يې وکړه چې د دغې لپاره به څوک وي چې دفاع يې وکړي

؟ وهب بن قابوس رضي الله عنه و ويل چي زه به يې دفاع وکړم يارسول الله ! نو يې د کفارو پر دغه ټولۍ حمله وکړه داسي حمله چي ټول يې تيت او پرک کړل، بيا نبي کريم ﷺ د کفارو بله ډله وليده او په هم دغه ډول يې و ويل چي څوک به يې دفاع وکړي ؟ وهب رضي الله عنه و ويل چي زه به يې دفاع وکړم، نبي کريم ﷺ و ويل چي هو د دغي دفاع لپاره ته يې او ده ته يې زيرى په شهادت سره ورکړ، نو وهب رضي الله تعالى عنه پر دغو کفارو حمله وکړه ان تر دې چي په دوى کي يې کوڅې جوړي کړې او په اخير کي دى هم په شهادت ورسېد . اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ.

په دغه واقعه کي ښکاره پر دې دليل دى چي که يو مسلمان پر ډېرو کافرانو حمله وکړه که يې په کفارو کي مرګ ژوبله راوستلاى شوه که څه هم د مسلما ن شهادت پکي يقيني وي بيا روا ده لکه دغه صحابي ته چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم تر حمله کولو مخکي د شهادت زيرى ورکړ، او که دغه مسلمان چي يوازي پر ډېرو کافرانو حمله کوي په کفارو کي مرګ ژوبله راوستلاى نشوه او د ده مرګ پکي يقيني وو بيا دغه حمله ورته روا نه ده ، ځکه چي دغه د ځان هلاکت بلل کيږي او په دغه ځاى کي امام سرخسي (رح) اختلاف د امامانو چي په يوه بېړۍ کي اور ولوېږي هم نقل کړى دى .
(مبسوط ج ۱۰ ص ۷۶)

❖ دواويايمه مسأله :

## چي مسلمان دارالحرب ته دتجارت لپاره ولاړ شي

واذادخل مسلم دارالحرب تاجرافلايحل له ان يتعرض بشئ من اموالهم ولامن دمائهم لانه ضمن ان لايتعرض لهم بالاستيمان، الااذاغدربهم ملكهم بخلاف الاسيرلانه غيرمستأمن فيباح له التعرض وان اطلقوه طوعاً. (الهداية )

**ژباړه:** که یو مسلمان د تجارت یا د یو بل هدف لپاره دارالحرب ته په امان او وېزه سره ورغی دغه مسلمان ته روا نه ده چي د کفارو پر نفس او مال تېری وکړي یا یو کافر ووژني، مګر که د کفارو د حکومت له خوا د ده پر نفس یا مال تعرض وشو او د هغه امان پر خلاف عمل ورسره وشو بیا دغه مسلمان ته هم روا ده چي د دوی پر نفس او مال تعرض وکړي یعني وې وژني او یا مال ورڅخه یو سي، او که له کفارو سره مسلمان بندي ؤ هغه که د دوی پر مال یا نفس تعرض وکړ ورته روا دی ځکه بندي مستأمن نه بلل کیږي. ( عالمګیری ج ٢ ص ٢٣٢،الهدایه ج ٢ ص ٢٧٧)

❖ دروا ویایمه مسأله:

## دامان ورکړل شوي کس تبادله څه حکم لري ؟

**فان دخل حربي منهم الينا بامان فطلبوا مفاداة الاسير بذالك المستأمن وكره ذالك المستأمن وقال ان دفعتموني اليهم قتلوني فليس ينبغي لنا ان ندفعه اليهم ،ولكنا نقول له الحق ببلادك او حيث شئت من الارض ان رضي المشركين بهذا امنا. (شرح سير الكبير ج٤ ص١٦١٢)**

**ژباړه:** که یو حربي کافر موږ ته په امان راغی او کفارو غوښتنه وکړه چي موږ ته دغه خپل سړی راخوشي کړئ موږ به ستاسي یو بندي در خوشي کړو، اوس که دغه مستأمن (امن غوښتونکي) و ویل چي ما مه ورخوشي کوئ که مو زه په لاس ورکړم دوی مي وژني نو مسلمانانو ته روا نه ده چي دغه تبادله وکړي لیکن مسلمانان دا ورته ویلای شي چي له موږ څخه چي هري خوا ته تلای شې ولاړ شه په دې شرط چي مشرکین له موږ څخه په دې راضي کیږي خو مشرکینو ته به یې په لاس نه ورکوي.

❖ څلوراويايمه مسأله:

## په امان راغلی کافر که کافرانو وغوښت؟

وان دخل حربي منهم الينا بامان وقال المشركون للمسلمين ادفعوه الينا والا قاتلنا كم وليس للمسلمين عليهم قوة فليس ينبغي للمسلمين ان يفعلوا ذالک لانه غدر منا بامانه ولکن ان يقولوا له اخرج من بلاد المسلمين فاذهب حيث شئت من ارض الله تعالى. (شرح سير الكبير ج ۴ص ۱۶۱۲)

ژباړه: که يو حربي د دوی له خوا څخه موږ ته په امان راغلی او مشرکينو ويل چي دغه زموږ حربي په لاس راکړئ که نه وي موږ تاسي وژنو يا جنګ درسره کوو، د مسلمانانو سره د کفارو د جنګ کولو توان ؤ بيا به د د غه مستامن لخوا دفاع کوي او که له مسلمانانو سره د جنګ کولو توان نه ؤ خو بيا هم مسلمانانو ته نه ده روا چي په امان راغلی سړی په لاس ورکړي ځکه چي دا زموږ له طرفه په امان کي غدر او خيانت بلل کيږي، ليکن مسلمانان دا ورته ويلای شي چي زموږ له وطنه څخه ولاړ شه هري خوا ته چي ځې خو په لاس به يې نه ورکوي.

# د باغيانو حکمونه

دباغيانو داحکامو دتشريح په اړه (۷) مسائلې راوړل شوي دي.

## د باغي پېژندنه:

باغي په لغت کي هغه چا ته ويل کيږي چي فساد کوي او ظلم کوي او په اصطلاح کي هغه ټولی ته ويل کيږي چي د عادل امام يا امير له حکومت څخه سر غړونه کوي او

په جګړه لاس پوري کوي، په بحرالرائق کي يې دا هم ورسره شرط کړی ده چي پر يو ښار يې تسلط هم راشي خو په ردمحتار کي يې دا شرط نه دی ورسره ايښی.

❖ **پنځه اويايمه مسأله:**

## امام چا ته ويل کيږي؟

په بحرالرائق کي يې له امام څخه سلطان يا د ده نائب مراد کړی دی او په حواله د (خانيه ) او سيرالکبير سره يې ويلي دي چي زموږ علماء کرام سلطان هغه بولي چي دوه شرطونه ولري:

**لومړی:**

له ده سره به بيعت شوی وي او په بيعت کي دا شرط دی چي علماؤ د قومونو مشرانو به ورسره کړی وي، داسی به نه وي چي د لوي جرګې نوم پر کښېږدي او يو څو د خپلي رايي خلک سره را ټول کړي او اعلان وکړي چي زه د ملک سلطان وټاکل شوم ، د دغه ډول پاچا حکومت کول نه دي صحيح او نه د ده د امر منل صحيح دي او دی چي يو کافر ته امن ورکوي دغه امن امان نه بلل کيږي او پر دغه کافر که هر چا تعرض د ځان او يا مال وکړ جهاد بلل کيږي ،په تېره بيا هغه پاچا چي د کفارو په غلبه او زور راغلی وي او د کفارو نمائندګي کوي لکه دا زموږ په وخت کي چي موجوده پاچا ګرځېدلی دی او د عادل پاچا له حکومت څخه يې بغاوت کړی وي داسی عادل پاچا چي ( د اهل الحل والعقد ) يعني د علماوو او مشرانو په مشوره او بيعت سره پاچا ګرځېدلی وي، نو له دغه ډول باغيانو سره جهاد فرض دی لکه څرنګه چي له کفارو د دارالحرب سره جهاد فرض دی.

**دويم:**

شرط دا دی چې د دغه سلطان حکم به نافذ وي او د ده به قهر او غلبه او بالا دستي پر رعیت (ولس) باندي وي، که دی وغواړي چې زه پر رعیت (ولس ) دا فلانی حکم جاري کوم که رعیت هغه حکم ونه مانه دی یې په زور هم ورباندي جاري کولای شي .( بحرالرائق ج ۵ص ۱۴۰، ۱۴۱،ردمحتارج ۳ ص ۳۳۹، ۳۴۰)

### ❖ شپږ اویایمه مسأله:

## دامام اطاعت فرض دی

یجب علی کل من دعاهم الامام الی قتالهم ان یجیب ولایسعهم التخلف اذا کان له غنی وقدرة لان طاعة الامام فیمالیس بمعصیة فرض فکیف فیماهو طاعة (بحرالرائق )

**ژباړه:** که امیر له باغیانو سره جهاد کاوه او مسلمانان یې راوبلل چې له ما سره د باغیانو په ضد جګړه کې مرسته وکړئ پر دغو مسلمانانو د امیر د دغه امر منل فرض دی ،او که یې څوک نه ومني هغه پرېښودونکی د فرضو بلل کیږي ځکه چې د امیر د امر منل په هغه شیانو کې چې هغه ګناه نه وي فرض دی او په تېره بیا په هغه ځای کې چې طاعت وي بیا خو په اولی طریقه سره د امیر د امر منل فرض دی.

(بحرالرائق ج ۵ ص ۱۴۱،ردمحتارج ۳ ص ۳۴۰ )

### ❖ اوه اویایمه مسأله:

## له باغي څخه په نیول شوي شی به څه کوي؟

امیر کولای شي چې د باغي شخصي اسلحه او د جګړې اسباب په جګړه کې استعمال کړي، پلورل او بله ګټه ورڅخه اخستل یې ورته روا نه

دي. ( بحرالرائق ج ۵ ص ۱۴۲ ،بدائع الصنائع ج ۷ ص ۲۰۸، ردمحتارج ۳ ص ۳۷۱)

❖ اته اويايمه مسأله:

## كه باغي توبه ګار شي

كه باغي توبه ګار شو او اسلحه يې تسليم كړه نو مجاهدينو ته يې نه وژل او نه بندي كېدل روادي، په بحرالرائق كي يې د باغي د توبې كښلو مثال په كافر سره ويلی دی لكه كافر چي اسلام راوړي بيا دغه كافر ته يو ډول تعرض كول صحيح په دغه ډول توبه ګار باغي ته هم يو ډول تعرض هم صحيح نه دی. (بحرالرائق ج ۵ ص ۱۴۲)

❖ نه اويايمه مسأله:

## باغي ته امان وركول

كه باغي ته عادل امام امان وركړی ؤ او نور عادلان په خبر نه ؤ دغه باغي يې وواژه نو قاتل به د دغه باغي ديت وركوي قصاص يې نشته، په فتح القدير كي يې هم دا ډول ويلي دي. (بحرالرائق ج ۵ ص ۱۴۲ ،فتح القديرج ۴ ص ۴۱۶ ،ردمحتارج ۳ ص ۳۴۲)

❖ اتيايمه مسأله:

## سلاح خرڅول څه حكم لري؟

**ويكره بيع السلاح من اهل الفتنة وفى عساكرهم لانه اعانة على المعصية قال الله تعالى** وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى ۖ وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۖ

**ژباړه:** د اسلحې او نورو هغو وسائلو چي په جګړه کي کارول کيږي پلورل لکه څرنګه چي پر کافرانو روا نه دي دغه ډول پر باغيانو هم روا نه دي او پېرل يې پر باغيانو دا ډول نه دي روا لکه پر کافرانو. (بحرالرائق ج ۵ ص ۱۴۳، فتح القديرج ۴ص ۴۱۵، ردمحتارج ۳ ص ۳۴۳، بدائع الصنائع ج ۷ ص ۲۱۰)

❖ **يو اتيايمه مسأله:**

## كه دباغيانو په صف كي عادل مړ شي

كه د باغيانو په صف كي يو عادل سړى ولاړ ؤ او د نورو مجاهدينو يا عامو مسلمانانو له خوا ووژل شي د دغه عادل هيڅ پور نشته، دا داسي مثال لري لكه يو مسلمان چي د كافرانو په صف كي ودريږي او يو مجاهد يې ووژني هيڅ پور يې نشته.

(بحرج ۵ ص ۱۴۳، فتح القديرج ۴ص ۴۱۶، الهدايه ج ۲ ص ۳۰۲، بدائع الصنائع ج ۷ ص ۲۰۹)

# دتبادلې په هكله

❖ **دو اتيايمه مسأله:**

## د كافر بندي تبادله پر مسلمان روا ده او كه نه؟

**لان فى ردهم تقويتهم على المسلمين وفى الفداء بهم معونة الكفرة لانه يعود حربا علينا ودفع شر حرابهم خير منا استخلاص الاسير المسلم لانه اذا بقى فى ايديهم كان ابتلاء فى حقه غير مضاف الينا، والاعانة بدفع اسيرهم اليهم مضاف الينا فلا يجوز عند الامام ابى حنيفة رح ،وجائز عندهما ان يفادى اسارى المسلمين تخليصا للمسلم ،الخ) ففى المشهور من المذهب لايجوز وفى سير الكبير لا بأس به اذا كان بالمسلمين حاجة استدلالا باسارى بدر، ولو كان اسلم**

الاسیر فی ایدینالا یفادی بأسیر مسلم فی ایدیهم . (بحرالرائق ج ۵ص ۸۳، والمبسوط ج۱۰ص ۲۴)

❖ دروا تیایمه مسأله:

## كوم وخت جهاد ته وتل فرض دی

ولا بدمن قید آخر وهوالاستطاعة فی کونه فرض عین ،فخرج المریض المدنف ،اماالذی یقدرعلی الخروج دون الدفع ینبغی ان یخرج لتکثیر السواد لان فیه ارهاباً کذافی فتح لاقدیر .

ژباړه: یو بل شرط دا هم په جهاد کي ضروري دی هغه دا چي مالي او بدني طاقت د جهاد به لري بیا پر ده جهاد فرض عین ګرځي، مالي توان دا دی چي د کور لپاره به دومره خرچ لري چي دی له غزا څخه بیرته را ستنېږي د کور کفایت به یې په کیږي، او بدني توان دا دی چي همیشنۍ ناروغي و نه لري چي د جهاد له ستونزو سره ضد وي او هغه ثوک چي په غزا کي د وتلو توان لري خو د جګړې کولو توان نه لري هغه ته هم مناسب ده چي په غزا کي د مجاهدینو د ډېرښت لپاره ووځي، ځکه چي په دې سره د دښمن وېره راځي او پر هغه رعب لوېږي.

( بحرالرائق ج ۵ ص ۷۲،عالمګیری ج ۲ ص ۱۹۰ ، بدائع الصنائع ج ۷ )

# دکافرو بندیانو حکمونه

❖ څلوراتیایمه مسأله:

## دبندي وژل جائز دي که نه؟

قال امام محمدرح : ودليلناعلى جوازالقتل بعدالاسرقصة بنى قريضة فقدقتلهم رسول الله ﷺبعدالاسروبعدوضعة الحرب اوزارها ،وقتل رسول الله ﷺعقبة بن ابى معيط ،والنضربن الحارث با(الاثيل) وكانامن اسارى بدر، الخ... ( شرح سيرالكبيرج ٣ ص ١٠٢٥، وكذافى المبسوط ج١٠)

**ژباړه:** امام محمد(رح)ويلي دي : چي زموږ لپاره دليل پر دې چي د بندي وژل له بندي کېدو وروسته روا دي د بنو قريضه ؤ قصه ده چي دوی نبي کريم صلی الله عليه وسلم ووژل وروسته له بندي کېدلو او وروسته تر دې چي جګړه ارامه وه.

او همدا راز رسول الله ﷺعقبة بن ابي معيط ،او نضربن الحارث پـه(اثيـل )نـومي ځـای کـي ووژل او دوی د بـدر لـه بنـديانو څخـه وو.(البتـه کلـه چي کـوم دښمن له مجاهدينو سره اسير شي نودمجاهدينودلايحي مطابق يې بيا دمرګ صلاحيت له امام يا نائب امام سره دی هرفرد اومسئول يې و ژلا ی نشي)

قال امام سرخسی (رح ) : ولان الامن عن القتل انمايثبت باالامان ،اوبالايمان وبالاسرلايثبت شئ من ذالک فبقى مباح الدم على ماكان قبل الاسر، وهوبالاسرلم يخرج من ان يكون محارباولكنه عجزعن المحاربة لكونه مقهورا فى ايدينامع قيام السبب الذى يحمله على ذالک وهوالمخالفة فى الدين.

**ژباړه:** امام سرخسي (رح) په شرح کي ويلي دي چي د کافر بندي وژل ځکه روا دی چي خلاصېدل د کافر له مرګه څخه نه راځي مګر په امان يا ايمان، او کوم وخت چي دی د مسلمانانو په لاس کي بندي شي نو دغه ته نه امان او نه هم ايمان ويل کيږي، نو دی اوس مباح الدم بلل کيږي لکه څرنګه چي مخکي تر بندي کېدو مباح الدم ؤ او دغه کافر بندي په بندي کېدو سره له دې نه وځي چي په راتلونکيکي دی له مسلمانانو سره نه وجنګيږي، دی

که اوس له جنګ کولو څخه وتلی دی هغه له دې کبله چې دی د مسلمانانو په لاس کي بندي او مغلوب دی او سره له دې په ده کي د وژل کېدو هغه سبب او لامل شته چي هغه مخالفت په دین کي دی.

وقال امام محمد رح :فیجوز قتله کاالمرتد المقهور فی ایدینا.

وقوله تعالی: (فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَآءً/ سورة محمد آیت ۴۷) فمنسوخ هکذا نقل عن السدی انه نسخه قوله تعالی (فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوهُمْ وَ خُذُوهُمْ). (وکذافی الهدایة ج۲)

**ژباړه:** امام محمد(رح) ویلي دي: چي د کافر بندي وژل روا دي لکه هغه مرتد چي زموږ په لاس کي مقهور کړل شي او بندي شي، او دا قول د الله تعالی چي د کافر تر بندي کېدلو وروسته یا دغسی خوشی کېدل دي او یا تبادله ده نه وژل.

دغه آیت په دغه آیت سره چي (تاسی وژنئ مشرکین په کوم ځای کي چي په لاس درغلل) منسوخ دی او په دا ډول له سدي رح څخه روایت راغلی دی.

### ❖ پنځه اتیایمه مسأله:

## دکافر بندي وژل څه حکم لري؟

که یو ه مجاهد کافر بندي کړی ؤ او بل مجاهد چي د دغه مجاهد له ملګرو څخه وي اونه وینوموړی کافر بندي ووژني دغه وژونکی مجاهد مسئول نه دی ځکه چي ده داسي څوک وواژهچي هغه مباح الدم دی، په دې اړه امام محمد (رح) په سیرالکبیر کي ویلي دي: وایمامسلم قتل اسیرا قبل ان یسلم اویباع اویقسم فلاشئ علیه، شرح سیرالکبیرج ۳ ص ۱۰۲۷)

قال امام ابو حنيفة رح :فی الهداية الامام فی الاساری باالخياران شاء قتلهم لانه عليه الصلاة والسلام قد قتل ولان فيه حسم مادة الفساد ،وان شاء استرقهم لان فيه دفع شرهم مع وفور المنفعة لاهل الاسلام الخ.

**ژباړه:** امام ابو حنيفة (رح) ويلي دي: چي د مسلمانانو مشر په بنديانو کي اختيار لري که يې خوښه وه ودي يې وژني ځکه چي نبي عليه الصلاة والسلام د بدر له بنديانو درې تنه چي د قرېشو له قبيلي څخه وو، ووژل او بل له دې کبله چي په دغه سره د فساد ښنه بدل راځي او که يې خوښه وه مريیان دې کړي ځکه چي په دغه کي د کفارو شر دفع کيږي سره له دې چي د مسلمانانو فائده هم پکي شته دغه دوې تګ لاري د اکثرو مشائخو خوښي دي او دجهاد هدف هم دا دی چي کافر به يا وژل کيږي او يا به يې مريیی کيږي.

### ❖ شپږ اتيايمه مسأله:

## دبندي په پيسو تبادله څنګه ده ؟

اما المفادات بمال يأخذ منهم لايجوز فی المشهور من المذهب لمابينا ان فيه معونة الكفر وفی سير الكبير انه لابأس به اذا كان بالمسلمين حاجة استدلالا باساری بدر. (هدايه ج ۲ ص ۲۶۲،وردمحتارج ۳ ص ۲۵۱،والمبسوط ج ۱۰ ص ۲۴وفتح القدير ج۴ص ۳۰۶)

ژباړه: مګر تبادله د بندي په مال سره چي له کفارو څخه پيسې واخلي او بندي ور خوشي کړي دا د فقهاوو په مشهور قول کي روا نده ، ځکه چي موږ درته و ويل په دغه ډول تبادله د کفارو قوت راځي او په سير الکبير کي يې ويلي دي : چي تبادله په مال سره پروا نلري که چيري د مسلمانانو حاجت ؤلکه د بدر بنديان چي د مال په بدل کي خو شي شو ل.

❖ اوه اتيايمه مسأله:

## دمسلمان اسير په كفارو حمله كول

ولوان اسيرافى ايديهم ارادان يقاتلهم وعنده ان فعله ينكى فيهم ولكنه يقتل بعد ذالک لابأس بان يفعل هذالانه داخل فيمن قال الله تعالى: (وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِىْ نَفْسَهُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللهِ) (شرح سيرالكبيرج ۴ص ۱۶۰۶)

**ژباړه:** كه مسلمان له كفارو سره بندي و ده قصد وكړ چي له كفار و سره جنګ وكړي او د ده دا خيال و چي زه له دوى سره جنګ وكړم نوزما ژوندي پاتي كيدل كه څه هم ممكن نه دي خو دوى ته هم مرګ يا ژوبله ور اړولاى شم په دغه صورت كي پروا نشته پر دغو كفارو حمله كولاى شي، ځكه چي دى داخل دى په دې قول د الله تعالى كي (وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِىْ نَفْسَهُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللهِ) **ژباړه:** بعضي خلک دي چي خرڅوي ځانونه خپل په مقابل او طلب د رضا د الله تعالى كي.

❖ اته اتيايمه مسأله:

## كه داسير حمله تاوان رسوي څنګه ده؟

وان كان يعلم ان فعله هذايضربغيره من الاسراء فالافضل ان لايفعل لانه مندوب الى النظرللمسلمين ودفع شرالعدوعنهم، الاترى ان المجاهد لهذايقاتل المشركين فان كان فعله هذايصيرسببا للاضرار بالمسلمين بان يقتلوا اويعذبوا فالافضل له ان لايفعل وان فعل لم يكن بأس بشرط النكاية فيهم. (شرح سيرالكبيرج۴ ص ۱۶۰۶)

ژباړه: يو مسلمان که له کافرانو سره بندي ؤ ده غوښتل چي زه پر دغو کفارو حمله کوم نو اوس دي دغه مجاهد فکر وکړي که د ده حمله دنورو بنديانو په زيان وه نو د ده لپاره افضله او بهتره دا ده چي حمله ونه کړي، ځکه چي مجاهد دهمدې موخې لپاره له مشرکينو سره جګړه کوي چي پر مسلمانانو باندي شفقت وکړي او له مسلمانانو څخه د دښمن تاوان او شر رسول وګرځوي.

په دغه حمله کولو کي خو يو پر مسلمانانو شفقت نه راځي او بل د کفارو شر ځني ونه وګرځېد، نو د دغه بندي په زندان کي حمله کول مسلمانانو ته د ضرر سبب ګرځي يعنی مسلمانان پکي وژل کيږي او يا نور تکليفونه او تعذيبونه ورکول کيږي نو په دې وخت کي دغه مجاهد ته افضل او بهتره دا ده چي حمله ونکړي، او که بيا هم دغه مجاهد وايي چي زه ضرور دغه حمله کوم پروا نشته ودې يې کړي خو په دې شرط چي کفارو ته به مرګ ژوبله رسولای شي او که يې کفارو ته تاوان نه رسېده بيا ورته بريد کول جواز نلري.

❖ نهه اتيايمه مسأله:

## دبنديانو وژنه اوتعذيب

واذاعزم المسلمون علي قتل الاساري فلاينبغي ان يعذبوهم بالجوع والعطش وغيرذلك من انواع التعذيب لان ذلك تعذيب من غير فائدة وقد روي عن رسول الله صلي الله عليه وسلم قال في بني قريضه لاتجمعوا عليهم حر هذا اليوم وحر السلاح ولاتمثلوا بهم لقوله عليه الصلوة والسلام في وصايا الامراء(ولاتمثلوا) (بدائع ج ٢ص١٧٩)

لکه ځنګه چي دبدائع تحقیق دی په همدې ډول دمذهب له ټولو فتاوا او نه دا مسأله: جو تیږي.

**ژباړه:** که مسلمانانو او مجاهدینو دبندیانو دوژلو قصد وکړ نو مجاهدینو ته نه ښایي چي دغو بندیانو ته په لوږه یاتنده یا نورو ناوړو تکلیفونو او مشقتونو سره تعذیب ورکړي ځکه چي دا تعذیب بې فائدې دی ځکه چي هغوی وژل کیږي نو تعذیبونه یې بې فائدې دي. او روایت راغلی دی چي رسول الله ﷺ دبني قریضه ؤ په شان کي ویلي دي چي تاسي په دوی باندي ددغي ورځي او سلاح ګرمي مه یو ځای کوئ یعني ګرمي او لمرته یې مه دروئ بس وژل یې بې کافي دي او دوی دا سي مه وژنئ چي رنګونه یې ورخراب کړئ یعني پزي او غوږونه یې مه ورپرې کوئ او یا لاسونه او پښې او سر مه ور پرې کوئ دا ټول مثله بلل کیږي په هر عرف کي چي کوم ډول وژل او مرګ بد بلل کیږي او نفرت ورځخه کیږي هغه مثلة بلل کیږي نو تاسي مثلة مه کوئ اوبل چي رسول الله صلی الله علیه وسلم به وخپلو امیرانو ته دخیر توصیې کولې په هغو کي به یې له مثلة نه منعه ورته کوله چي مثلة به نه کوئ.

❖ **نوي یمه مسأله:**

## که بندیان تر تقسیم وړاندي دوهم ځل ونیول شي

ولو ان الفریق الاول احرزوهم بدار الاسلام ولم یقسموا ثم ظهر علیهم المشرکون واخذوهم فلم یحرزوهم بدار الحرب حتی ظهر علیهم قوم اخرون من المسلمین واخذوهم من ایدیهم في دار الاسلام فانهم یردون علی الفریق الاول اقتسم الفریق الثاني فیما بینهم اولم یقتسموا. (عالمګیري ۲۳۱-۲۳۲)

**لانهم غنیمة وکل ما هو غنیمة فهذه طریقة تقسیمه**

**ژباړه:** که دیوې دلګې مجاهدین کفار اسیران کړي او دار الاسلام ته یې ورسوي

لکن تقسیم کړي يې نه وي کفار بيرته پرې غالب شي دغه بنديان ورڅخه خلاص کړي خودار الحرب ته يې رسولي نه وي له دې نه وروسته بيا بله دلګۍ مجاهدين دغه بنديان په دار الاسلام کي ورڅخه ونيسي دابنديان داولي دلګۍ حق دی که دوهمي دلګۍ تقسيم کړي وي اوکه يې نه وي تقسيم کړي ځکه په دار الاسلام کي چي غنيمت څنګه مسلمانان ونيسي بس مالکان يې ګرځي احراز نه غواړي اوبنديان هم غنيمت دی اوداولي دلګۍ وو دار الاسلام ته يې رسولي وو نو يې دوی مالکان شول ددوی له ملکيت نه وروسته بيا دبل چا ملک نه ګرځي.

### ❖ يو نوي يمه مسأله:

## ترتقسيم له مخه دتبادلې اختيار دامير دی

**الرجال من اهل الحرب الذين اسرهم المسلمون لابأس بالمفاداة بهم قبل القسمة وان لم يرض بهم اهل السرية لان لاميرهم ان يقتل الرجال من الاسراء فلان يجوز المفاداة كان اولى وبعد القسمة ليس له ان يفادی بالرجال ايضا الابرضاء من وقع في سهمه لانه حين قسمهم فقد حرم عليه قتلهم. (شرح سير الكبير ج ۴ ص ۱۶۷۰)**

ژباړه: که چېرې کونکي کافران مسلمانانو بنديان کړل نو تر څو چي مجاهدينو تقسيم کړی نه وي امير کولای شي چي په بنديانو يې تبادله کړي، که څه هم مجاهدين په دغه تبادله خوښ نه وي ځکه چي امير ته د اصلاحيت شته چي دغه بنديان مخکي تر تقسيم ووژني نو تبادله يې په طريقه اولی سره ورته صحيح ده او که مجاهدينو تقسيم کړي وو بيا يې تبادله امير ته روا نه ده مګر په هغه صورت کي چي د مجاهدينو خوښه وي، ځکه کوم وخت چي بنديان تقسيم شي بيا يې امير ته د وژلو اجازه هم نشته.

❖ دو نوي يمه مسأله:

## که یومسلمان اسیر بل اسیر وواژه څه حکم لري؟

وان کانا اسیرین فقتل احدهما صاحبه اوقتل مسلم تاجر اسیر افلا شئ علی القاتل الا الکفارة فی الخطاء عندابی حنیفة (رح) وقالا فی الاسیرین الدیة فی الخطاء والعمد. (الهدایة)

**ژباړه:** که مسلمانان له کافرانو سره په دارالحرب کي بنديان وو يوه بندي بل بندي په قصد يا خطا سره وواژه قصاص خو نشته خو په مذهب د امام ابوحنيفة (رح) پر قاتل يوازي کفاره شته، او په نزد د یارانو پر قاتل یوازي دیت شته. (الهدایه ج ۲ مع شرحه االبنایه ، بدائع الصنائع ج ۷ص۱۹۷، فتح القدیر ج ۴ص ۳۵۰، الهدایة ج۲ ص۲۷۸، وبحر الرائق ج۵ص ۱۶۹)

❖ درو نوي يمه مسأله:

## مسلمان اسیر به کافرانو ته لارښوونه نه کوي

قال امام محمد (رح ):ولو هرب منهم اسیرا ،فقالوا الاسیر اخر یعرف مکانه ،دلنا علیه لنقتله و الاقتلناک لم یسعه ان یدلهم علیه. (سیر الکبیر)

**ژباړه:** که له کفارو څخه یو مسلمان وتښتېد او دغو کفارو له بل مسلمان بندي څخه غوښتنه وکړه چي موږ ته دغه بندي راوښیه چي وې وژنو که نه تا وژنو ، دغه بندي ته روا نه ده چي د دغه بندي د مرګ لپاره کفارو ته لارښوونه وکړي.

د دې قول په شرح کي امام سرخسي (رح ) ویلي دي : چي کفارو ته د مسلمان بندي ښوونه د هغه د مرګ لپاره له دې امله صحیح نه ده ځکه چي ښوونه پر مرګ د یو چا داسي ده لکه د هغه وژل.

## ❖ څلورنوي يمه مسأله:

## يومسلمان چي کافرانو ته دمسلمانانو دګرفتاري لار ښوونه کوي

که کافرانو يو ځای مسلمانان محاصره کړي وو او له دوی سره مسلمان بندي ورسره ؤ له دغه بندي نه يې غوښتنه وکړه چي ته موږ ته د مسلمانانو د نيولو چل او طريقه راوښيه يا دا راته وښيه چي پر مسلمانانو يو ډول بنديزونه ولګوو تر څو هغوی ونيسو يا به دغه فلانکی وطن اشغال کړو، که چېرته ته دغه ښووني راته ونه کړې نو تا به وژنو، دغه مسلمان بندي ته روا نه ده چي کافرانو ته دغسی لاري چاري وښيي چي دهغه په واسطه مسلمانان ونيول شي او يا کفارو ته د يو وطن د اشغالولو لاره هواره شي، ځکه کافران دمسلمانانو ټول اسلامي ارزښتونه، نواميس اوکرامات ترپښولاندي کوي

ببلګه: که دغو کافرانو د يوې ښځي د زنا اراده درلوده او قدرت يې نه درلودی دغه بندي ته يې و ويل چي ته موږ ته پر دغه زنا په يوه طريقه سره قدرت راکړه که ته راته لارښوونه نه کوې موږ تا وژنو، نو دغه بندي ته روا نه ده چي د يوې مسلماني د زنا قدرت کافرانو ته ورکړي خپل ځان دي پرې ووژني خو دا کار دي نه کوي، نو څه معنی چي د ډېرو مسلمانو پر مرګ يا د ډېرو خويندو پر عزت د تېري قدرت ورکول وي.
(شرح سيرالکبيرج ۴ ص ۱۵۰۶)

## ❖ پنځه نوي يمه مسأله:

## دبنديانو تبادله څه حکم لري؟

**قال امام محمد رح: لابأس بان يفادي اسراء المسلمين باسراء المشركين الذين في ايدي المسلمين من الرجال والنساء، وهذا القول امام محمد رح وابويوسف رح**

،وهو اظهر الروايتين عن ابي حنيفة رح، وجه ظاهر الرواية: ان تخليص اسراء المسلمين من ايدي المشـركين واجب ولا يتوصل الي ذالك الا بطريق المفاداة، وايد ما قلنا حـديث عمران بن الحسين رضي الله عنه ان النبي ﷺ فادي رجلين من المسلمين برجل من المشركين من بني عقيل. ( شرح سير الكبير ج ۴ ص ۱۵۸۷، والهداية ج ۲ )

**ژباړه:** امـام محمـد (رح) ويلـي دي: پـروا نـه لـري چـي تبادلـه كـړي بنـديان د مسلمانانو له بنديانو د كافرانو سره هغه بنديان چي په لاس كي د مسلمانو وي هغـه كه نر وي او كه ښځي، او دا قول د يارانو هم دى او دا ظاهر رواية هم دى لـه امـام ابـو حنيفه (رح) څخه دليل د ظاهر رواية دا دى چي: خلاصول د مسلمانانو د بنديانو لـه لاسو د كفارو څخه واجب او لازم دى او دا كـار بې لـه تبـادلې نـه كيـږي، د دې خبرى تائيد په دې حديث د عمران بن حسين رضي الله تعالى عنه سره كـوو چـي هغـه وايـي چي نبي كـريم صـلى الله عليـه وسـلم دوه تنـه بنـديان د مسـلمانانو پـه يـوه تـن بنـدي مشرك چي هغه لـه قبيلې د بني عقيـل څخـه وو تبادلـه كـړل بس آخېرنـۍ مسـأله: او مفتى به قول هم دا دى.

❖ **شپږ نوي يـمه مسأله:**

## دبندي وژل به دامير په اجازه وي

كه يو كافر مسلمانانو ته په لاس ورغى او ورسره بندي شو مجاهدينو ته يې د امير له اجازې پر ته وژل صحيح نه دي، د امير پـه اختيـار كـي دى كـه يې وژني او كه يې تبادله كوي ځكه چي امير تـه ممكـن هغـه مصلحت معلـوم وي چي مجاهدين ورڅخه نـاخبره وي هغمـداراز د يـوې ډلګـۍ مشـر نشـي كولاى چي يو كافر بندي دلوړو مقاماتو له اجازې پرته ووژني، خو كه يې د امير له اجازې پرته ووژني پر ده څه شى نشته مګر امير جزا وركولاى شي.

(بحر الرائق ج ۵ ص ۸۲،وشرح سير الكبير و الهداية ج ۲ ص ۲۷۷)

## ❖ وروستۍ جملې:

زموږ د مذهب له کتابونو څخه د کفارو د بنديانو په هکله دا خبره ثابتيږي چي که له مسلمانانو سره د کافرانو بنديان وو مسلمانان به له دې څلورو لارو نه يوه غوره کوي:

**لومړۍ:** وژل د دغو بنديانو.

**دويم:** مرييی کول د دغو بنديانو.

**درېيم:** تبادله کول پر بنديانو د مسلمانانو.

**څلورم:** د پيسو په بدل کي خوشي کول.

له دغو څلورو تګ لارو نه چي امير هره يوه د مسلمانانو د يو مصلحت او ګټي پر بنا خوښه کړي ورته روا ده، خو په شرح سير الکبير کي امام محمد (رح) ويلي دي چي که د مسلمانانو بنديان د کافرانو په لاس کي وو بيا د مسلمانانو پر امير دا لازمه ده چي د مسلمانانو بنديان ورباندي راخوشي کړي، خو د کافرانو بندي د پيسو په مقابل کي ور خوشي کول دا ډېر ضعيف قول دی او د ټولو امامانو خوښ نه دی ، دليل يې دا ويلی دی چي يو خو د اياتونو او حديثونو له ظاهره د دې منع ښکاري او بل له دې کارنه دا سي تو هم کيږي چي د مسلمانانو له جهاد کولو نه هدف يوازي ځان ته مالي ګټي رسول دي، نو د مسلمانانو امير بايد له انصاف څخه کار واخلي د پيسو په مقابل کي دي هلته بندي خوشي کوي چي بله هيڅ چاره يې نه وي، د مثال په ډول د وسلو ،مهماتو يا نورو موقوف عليه ضرورتونو نيمګړتياوي دي په پوره کړي، له دې پرته بايد مصرف نه شي ، ځکه چي بندي د پيسو په مقابل کي ورخوشي کول د دا ډول مجبورتياوو له کبله روا دی، او د هسي خواهشاتو لپاره بايد مصرف نه شي.

(ومن الله التوفيق)

## هغه ځانګړي اوراد چې د دښمن په مقابل کې ګټه رسوي

**لومړی ورد:**

مقطعات حروف دی (کهیعص حمعسق) چې په کوم وخت کې یو بندي تحقیق ته ورو ستل کیږي یا کفار د یو مجاهد د نیولو هڅه کوي او دی ځان ور څخه خلاصوي یا په جګړه کې د یو مجاهد مخ ته څه مشکل راشي نو دي دغه پورتني حروف په دغه ترتیب وایي:

دغه لس حروف دي ښه په ارامه ووايي او مدونه دی سم اداءکړې د هر حرف په ویلو دي یوه- یوه ګوته بندوي لس حروف دي لس ګوتي به موټ کړي پیل به د ښي لاس په بټه ګوته وکړي او ختمېدل به يې د چپ لاس پر بټه ګوته وکړي بیا به (الم ترکیف) سورة ووايي چې کوم وخت (ترمیهم) لفظ ته ورسیږي لس ځله به دغه توری مکرر کړي او د هر ځل په ویلو سره به یوه- یوه ګوته د دښمن پر مخ خلاصوي په کوم ترتیب چې یې موټ کړی دی په هماغه ترتیب به يې خلاصوي. ان شاء الله تعالی ډېر مجرب دی له دښمنه به خلاصون ومومي او د دښمن سترګي به ور پټي کړي اوما څو ځله دا تجربه پخپله کړې ده.

**دویم ورد:**

کوم وخت چې له کفارو یا له هر ظالم دښمن سره په جګړه کې مخامخ کېږئ یا په سفر ځئ اووه (۷) واري به (الم ترکیف) سورة او اوه (۷) واري به (لایلف قریش) سورة ووایاست او هر وار به بسم الله شریفه هم ورسره مکرره کړئ پر ځان او ملګرو به یې دم کړئ. ان شاء الله تعالی په جګړه کې به بری او کامیابي تر لاسه کړئ.

**دریم ورد:**

**اللهم انانجعلک فی نحورهم ونعوذبک من شرورهم.**

**ژباړه:** اې خدا يه ! موږ تا ګرځوو د کفارو او دښمنانو په مخ کې او موږ په تا سره پناه غواړو له شره د دوی څخه). دغه پورتنۍ کلماتي له هر فرض لمانځه څخه وروسته دو لس (۱۲) واره وایاست او هر وخت چې له دښمن سره مخامخ شئ که جګړه وي او که نه وي ویل یې ګټور او د مشائخو او بزرګانو په وینا ډېر مجرب دی.

**څلورم ورد:**

آیت الکرسی شریفه ډېر په غور ویل خصوصاً له هره لمانځه وروسته ډېر ګټورده د ویلو ترتیب یې دا دی: کوم وخت چې ویده کېږئ د دښمن د برید کولو احتمال وي نو به آیت الکرسی ووایاست کوم وخت چې دغو کلماتو ته ورسېږئ (وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ)

**ژباړه:** او نه درنیږي پر الله تعالی باندي ساتنه د ځمکي او اسمانونو او الله تعالی لوړ او لوی ذات دی، نو به د ځان او ملګرو ساتنه له هر دښمن څخه په ذهن کي ولرئ او چي ایت الکرسي پای ته ورسېږه نو په ذهن کي به پر ځان او ملګرو دایره جوړه کړې. ان شاء الله تعالی له هره مشکله څخه به په امان او ساتنه دالله تعالی کي اوسئ.

## د شهید په اړه مسألې

د شهید په هکله مسألې مي له هدایې لومړی جلد ۱۲۵مخ، عالمګیری لومړی جلد ۱۲۸مخ، ردمحتارلومړی جلد ۲۲۹مخ، څخه رااخستې دي.

**شهید:** په لغت کي پر پنځو معناوو راغلی دی:

**لومړی:** شهید له شهادت څخه ما خوذ دی، معنی دا چي د ده لپاره

شاهدي په جنت سره ويل شوې ده.

**دويم**: شهيد له (شهود ) څخه ماخوذ دی نو يې معنی دا ده چي د ده د عزت او اکرام لپاره پرښتې له اسمانونو څخه راځي.

**درېيم**: يا شهيد له شهادت څخه ماخوذ دی ، معنی دا چي پر ده باندي شاهدي شته چي د ده زخمونه او وينې دي.

**څلورم**: دی شاهد دی پر هغه کافر چي ده د کفر له کبله وژلی دی او هغه به د الله تعالی په حضور کي شاهدي ورکوي چي دغه کس ما ستا پر دين وواژه.

**پنځم**: چي دی د الله تعالی په نزد ژوندی دی ، شاهد دی او حاضر دی.

( وكذافى البنايه ج ٣ ص ٣٠٧)

## ❖ په عرف (اصطلاح ) کي شهيد چاته ويل کيږي ؟

قال فى الهدايه: الشهيد من قتله المشركون اووجد فى المعركة وبه اثر او قتله المسلمون ظلما ولم يجب بقتله دية فيكفنو يصلى عليه ولا يغسل لانه فى شهدا احد ،وقد قال صلى الله عليه وسلم :(فيهم زملوهم بكلوهم ودمائهم ولاتغسلوهم )

**ژباړه**: شهيد هغه بلل کيږي چي مشرکان يا کافران يې ووژني او يا دجګړې په ډګر کي وژل شوی پيدا شي، په داسي حالت کي چي پر ده ټپ د سلاح وي او يا يې مسلمانان په ظلم او ناحقه ووژني په داسي ډول چي د ده په وژلو سره پر چا ديت او پور لازم نشي نو د دغو شهداؤ حکم دا دی چي کفن به ورکوي د کفن څخه مراد د خپلو کالو کفن دی ، لمونځ د جنازې به ورکوي ځکه چي دی په معنی د شهيدانو د احد کي دی په تحقيق سره نبي کريم ﷺ د دوی په حق کي ويلي دي چي دوی په قبرونو کي پټ کړئ سره د خپلو زخمونو او سره د خپلو وينو او دوی ته غسل مه ورکوئ.

## دشهيد په اړه (۴) مسألې دي :

### ❖ اوه نوي يمه مسأله:

## شهيد کوم يو بلل کيږي

**پوښتنه**: آيا جنګي شهيد يوائې هغه مجاهد بلل کيږي چې په جنګ کې په سلاح وژل شوی وي که يا؟

**لومړی ځواب**: شهيد په شريعت کې هغه کس ته ويل کيږي چې هغه د کافرانو يا باغيانو يا قطاع الطريق له لاسه ووژل شي، هغه که په هره آله او سبب سره وي.

**دويم ځواب**: چې د جنګ په ميدان کې وژل شوی پيدا شي او پر بدن يې ښکاره ټپ وي يا چې له سترګو يا غوږونو څخه يې وينه راغلې وي او يا يې له نس څخه وينه راغلې وي خو هغه په هغه عادي طريقه سره نه وي.

دغه درې واړه وينې چې له بدن څخه وځي هغه هم له وهلو او د باطني ټپ له وجې وي نو دی په خپل مرګ نه دی مړ شوی بلکه د دښمن له وهلو څخه شهيد شوی دی.

**درېيم ځواب**: چې پر ده باندې اثر د سوځولو وي نو دی شهيد بلل کيږي

**څلورم ځواب**: چې دی د دښمن موټر يا موټر سايکل وژلی وي دغه هم شهيد بلل کيږي.

**پنځم ځواب**: چې کفار کوم مجاهد اوبو ته ورواچوي او شهيد يې کړي يا اوبه پرې ايله کړي، مسلمانان په غرق کړي دا هم شهيدان بلل کيږي، نور هم ډېر اسباب شته چې تر قلم لاندې نه راځي خو د خبر خلاصه دا ده چې شهيد هغه کس بلل کيږي چې کفار يا قطاع الطريق يا باغيان يې ووژني، عام تر دې که په هر سبب او اله سره وي او هغه مجاهد چې په خپل مرګ مړ شي د هغه هم د شهيد په څېر درجې شته، ځکه چې دی د الله تعالی په لار کې وتلی دی، هر هغه څوک چې د الله تعالی په لار کې مړ شي هغه د اخيرت په ثوابونو کې

شهید بلل کیږي، لیکن دغه مجاهد ورور ته چي په خپل مرګ مړ شوی دی غسل او کفن ورکول کیږي.

❖ **اته نوي یمه مسأله:**

## دشهید دکفن په اړه

شهید خو به په خپلو جامو کي تد فینوي دغه د ده لپاره کفن بلل کیږي، اوس یوه خبره بله شته هغه دا چي سنت کفن د نارینه لپاره درې جامې دي، نو که تر دغو دریو جامو زیات شی ؤ هغه به ځني لري کوي لکه لنګوټه، خولۍ، سدرۍ، سلاح او نور څه زیات شی که ؤ او یا یې جامې کمي وې، د مثال په ډول قمیص یې نه و یا یې پای جامه نه وه، نو دي د دغو پر ځای بیا نوې جامې ورکړي چي کفن یې پوره شي، دا ځکه چي د ده د عزت په وجه باید د ده بدن پټ شي او کفن یې پوره شي. **(عالمګیری ج ۳ ص ۱۶۸)**

❖ **نهه نوي یمه مسأله:**

## زخمي چي شهید شي غسل به ورکول کیږي

په عربي ژبه کي د شهید یو بل نوم هم شته چي هغه مرتث دی.

**( ردمحتارج ۳ ص ۶۷۱)**

دا هغه شهید ته ویل کیږي چي په جنګ کي زخمي شي خو سمد ستي شهید نشي دغه شهید ته په څو ځایونو کي غسل ورکول کیږي:

**لومړی**: چي څه خوراک ورکړي خو دی په حس (سد ) کي وي.

**دویم**: چي څښاک وکړي او دی په حس کي وي.

**درېیم**: چې ویده شي دی په خپل اختیار او حس کي وي.

**څلورم**: چې دوا په وشي او دی په حس کي وي او په پوهیږي دا سي نه چې دی بې سده وي دوا په وشي دغه دوا د اعتبار وړ نده.

**پنځم**: چې د جنګ له میدان څخه انتقال شي خو په دغه انتقالېدو کي بې یو شرط شته، هغه دا چې د دوا لپاره به وي یا قرارګاه یا یوې شفاخانې ته به یې وړی وي او که یې هسې د جنګ د مشکلاتو او سختیو له وجې د جنګ له میدان څخه یو طرف ته وباسي بیا به غسل او کفن نه ورکوي، ځکه چې دا د جنګ له مناسباتو څخه دي

**شپږم**: که د یوه لمانځه وخت ،یعنې له ماسپښینه تر مازدیګره ، ژوندی پاتې شي او په هوښ کي وي او بیداره وي په دنیایي چارو پوهیږي بیا به غسل ورکوي او که بې سده و په څه نه پوهېدی بیا که څه هم یو شوا روز ژوندی وي هم غسل نه ورکول کیږي.

**اووم**: چې خرڅول او رانیول وکړي.

**اتم**: چې وصیت وکړي یا د دنیا د کارونو څخه ښوونه وکړي د مثال په توګه چې ووایي دا وکړئ دا مه کوئ او که د اخروي امورو ښوودنه وکړي لکه سعد بن ربیع چې کړې وه په دغه سره دی مستحق د غسل نه ګرځي.

**نهم**: که مسلمانانو خدای مکړه ماتې وخوړه او یو ملګري بل ملګری په موټر سایکل یا موټر شهید کړ بیا غسل ورکول کیږي.

**لسم**: چې دی په خپله د جنګ له میدان څخه ووځي.

په دې لسو ځایونو کي شهید ته غسل ورکول کیږي خو په عالمګیري او ردمحتار کي یې دا شرط ورسره ایښی دی چې په دغو لسو ځایونو کي

چي (ومرتث) ته يعني زخمي شوي ته غسل ورکول کيږي هغه په دې شرط چي جنګ خلاص شوی وي او که جنګ شروع ؤ په ده باندي يو له دغو لسو مرحلو راغله او د دغه جنګ په وخت کي پسي شهيد شو بيا (مرتث) نه بلل کيږي غسل او کفن نه ورکول کيږي.

❖ سلمه مسأله:

## دهغه شهيد په اړه چي غسل ورکول کيږي

شهيد که څه هم له دغو ذکر شويو شرطونو سره سم شهيد شي بيا هم په دريو حالاتو کي غسل ورکول کيږي:

**لومړی:** که يو سړی يا ښځه جنب وه.

**دويم:** که ښځه په حيض کي وه په دې کي يو څه تفصيل نور هم شته.

**دريم:** که ښځه په نفاس کي وه.

دغو دريو شهيدانو ته غسل ورکول کيږي، هغه شهيد چي غسل نه ورکول کيږي په هغه کي شپږ شرطونه دي، که له دغو شپږو شرطونو څخه يو نه ؤ؛ بيا غسل ورکول کيږي:

**لومړی:** عاقل به وي لېونی به نه وي.

**دويم:** بالغ به وی کوچنی به نه وي.

**دريم:** په ظلم سره به وژل شوی وي، هغه که د کافر يا غلو له لاسه او يا نورو ظالمانو له لاسه وي.

**څلورم:** چي د ده په قتل سره مالي عوض يعني ديت نه وي واجب شوی.

**پنځم:** دی به له لوي بې اودسي څخه پاک، جنب، حائض او نفاسه به نه وي.

**شپږم:** چي دی به مرتث نه وي.

## د کتاب خاتمه تبرکاً پر دغو مبارکو الفاظو کوم :

من اوصیب امور الدنیا فهو مرتث ومن اوصیب بامور الآخرة لیس بمرتث بل هو شهید، کمافي وصیة سعد بن ربیع رضي الله عنه وجزم به في النهر وذکر وصیة سعد عن سیرة الشامي حاصلها: ان رسول الله صلي الله علیه وسلم، ارسل الیه من ینظر حاله، فقال اني في الاموات فابلغ رسول الله صلي الله علیه وسلم عني السلام وقل له ان سعد بن الربیع یقول جزاك الله عنا خیرا، ماجزي نبیا عن امته، وقل له اني اجد ریح الجنة، . وابلغ قومك عني السلام وقل لهم ان سعد بن الربیع یقول لکم انه لاعذر لکم عند الله ان اخلص الي رسول الله صلي الله علیه وسلم مکروه وفیکم عین تطرف، ثم لم یبرح ان مات.
(ردمحتار ج۱ص۶۷۲)

**ژباړه:** کوم زخمي چي د دنیوي امورو مربوط خبري وکړي هغه ته غسل ورکول کیږي، او کوم زخمي چي داخروي امورو په تړاو خبري وکړي هغه ته غسل نه ورکول کیږي، لکه د سعد بن ربیع رضي الله تعالی عنه په وصیت کي د ده د وصیت حاصل دا دي، چي نبي ﷺ ده ته ځوک ورولېږهچي حال یې ورته راوړي، سعد بن ربیع ورته و ویل چي نور ما په مړو کي حساب کړئ، نو ته زما له طرفه څخه نبي ﷺ ته سلام وایه او ورته ووایه چي سعد بن ربیع ویل چي جزاک الله ، الله تعالی دي د خیر داسي جزا درکړي لکه یو نبي ته چي یې ورکوي او نبي ﷺ ته ووایه چي ماته اوس د جنت خوش بویي ورسېږده، او خپل قوم ته زما له طرفه سلام وایه چي سعد بن ربیع وایي چي که نبي ﷺ ته یو تکلیف ورسېد او په تاسي کي یو مسلمان ژوندی ؤ تاسي ته عذر او د خلاصون لاره نشته، نو سعد بن ربیع دغه خبري کولې چي په همدې وخت کي شهید شو.

## مجاهدينو ورونږو ته دمؤلف توصيه:

د الله تعالى جل جلاله په لار کي جهاد کول تر ټولو غوره عمل او د عباداتو په جمله کي ورته ذروة سنام الاسلام ويل کيږي، خو د هغه له فضيلت نه هغه وخت يو مجاهد برخمن کېدای شي چي ټول شرائط او اداب يې هم ورسره عملي کړي.

د جهاد په آدابو او شرائطو کي لومړنی شرط د خپل امير اطاعت او خبره منل دي. د اسلامي تاريخ داحداثو اوشواهدوله مخي هر ځای چي دمجاهدينو له لوري دغه اساسي شرط متروک شوی وي هلته ناکامي دمسلمانانو په برخه وي.

الله تعالى په خپل مقدس کلام قرآن عظيم الشان کي مسلمانانو ته دأولي الأمرو د اطاعت په هکله داسي ارشاد کوي: يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَ اُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ ۚ فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِيْ شَيْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَى اللّٰهِ وَ الرَّسُوْلِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَ الْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّ اَحْسَنُ تَاْوِيْلًا} النساء. ۵۹

د جهاد دويم اساسي شرط د نيت خلوص دی، مجاهد بايد په جهاد کي يوازي د الله تعالى رضا او د هغه د کلمې لوړوالی هدف وګرزوي دغه ټکي ته د اسلام ستر پېغمبر حضرت محمد ﷺ هم داسي اشاره کړي

**عن أبي موسى قال: جاء رجلٌ إلى النبيِّ صلى الله عليه وسلم فقال: الرجل يقاتل حَمِيَّة، ويقاتل شجاعة، ويقاتل رياء، فأيُّ ذلك في سبيل الله؟ قال: "من قاتل لتكون كلمة الله هي العليا، فهو في سبيل الله" رواه السبعة.**

**ژباړه:** يو سړی حضرت محمد ﷺ حضور ته راغلی هغه ته يې و ويل: يو سړی د ننګ له وجي جهاد کوي، يو سړی د شجاعت و بهادري له وجي او يو سړی د رياء له وجي نو (د دغوله جملي نه) کوم يو د الله په لاره کي ده ؟

**محمد** ﷺ **ورته وويل: هغه څوک چي د دې لپاره جهاد کوي چي د الله تعالی کلمه لوړه شي هغه فی سبیل الله دی.** (رواه السبعة)

که هر څوک د قومي، منطقوي او يا لساني مفاداتو او مصلحتونو لپاره جهاد کوي او يا د خود نمايي تظاهر او رياء لپاره جهاد کوي هغه ته په هيڅ صورت مجاهد نه ويل کيږي بلکي که نوموړی په دې لاره کي و وژل شي د دوزخ مستحق ګرزي.

همدا شان مجاهد ته په کار ده چي په جهاد کي تقوی، اخلاق حسنه او له خپلو متعلقينو او عامو خلقو سره ډېره ښه رويه او نېک سلوک وکړي، د عامو خلګو د سر او مال او عامه شتمنيو حفاظت وکړي، د ملزمو کسانو د جرم په اثبات کي خپل ټول انساني کوښښ په کار واچوي او يوازي په عادي اتهام بايد هغوی ونه زوروي.

مجاهد بايد تر بل هر چا د لمانځه، عباداتو او ټولو الهي امورو د پيروي او اطاعت زيات کوښښ وکړي.

لنډه دا چي مجاهد بايد په خپل ژوند کي د تقوی، فضيلت او اسلامي اخلاقو نمونه وي او خپل ځان په بشپړه توګه د الله تعالی د دې قول مصداق وګرزوي:

اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰی مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ اَنْفُسَهُمْ وَ اَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ؕ یُقَاتِلُوْنَ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ فَیَقْتُلُوْنَ وَ یُقْتَلُوْنَ ۫ وَعْدًا عَلَیْهِ حَقًّا فِی التَّوْرٰىةِ وَ الْاِنْجِیْلِ وَ الْقُرْاٰنِ ؕ وَ مَنْ اَوْفٰی بِعَهْدِهٖ مِنَ اللّٰهِ فَاسْتَبْشِرُوْا بِبَیْعِكُمُ الَّذِیْ بَایَعْتُمْ بِهٖ ؕ وَ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِیْمُ (التوبة)

حسبنا الله ونعم الوكيل نعم المولى ونعم النصير

والسلام

پای